د افغانستان بانک

# اقتصادي او احصائیوي بولټن







دری میاشتنی بولټن، د ۱۳۹۳ مالي کال درېمه ربعه
(د ۱۳۹۳ کال د غبرګولی له ۳۱ څخه د وږي تر ۲۹ پورې)

ابن سینا واټ

کابل

افغانستان

تلیفون: ۲۱۰۰۲۹۳-۲۰-۹۳+

وب پاڼه: www.dab.gov.af

بریښنالیک: mp@dab.gov.af

ټول حقونه خوندي دي

په پښتو ژبې لومړی چاپ

حقونه او اجازه لیکونه

په دې بولټن کې د خپاره شویو مطالبو د نشرولو حق خوندي دی، خو نقلول او بیاځلي چاپول یې په آزاده توګه ترسره کېدای شي. د بیا چاپ لپاره د تصدیق پاڼې او د بولټن یوه کاپي لازمي ده.

**یاددښت:**

د افغانستان نوی مالي کال له ۱۳۹۱ (۲۰۱۲) کال راهیسې بدلون موندلی دی. نوی مالي کال هر کال د دسمبر په ۲۱ (دمرغومي لومړۍ نېټه) پیلیږي. دا دړې میاشتنۍ خپرونه د ۱۳۹۳ مالي کال د دریمې ربعې (د چنګاښ له ۳۱ څخه د وږي تر ۲۹نېټې پورې) اقتصادي او احصائیوي پرمختګونه توضیح کوي.

## د محتوياتو لړليک


**د لوی رئيس پيغام** ........ ط

**عمومي کتنه** ........ ك

**نړيوال اقتصادي وضعيت** ........ ١

**١. پرمختللي اقتصادونه** ........ ١

١.١ د امريکې اقتصاد ........ ١

٢.١ د بريتـــانيا اقتصاد ........ ٢

٣.١ د جرمني اقتصاد ........ ٣

۴.١ د فرانسې اقتصاد ........ ۵

۵.١ د جاپان اقتصاد ........ ۵

**٢. راغوړېدلي اقتصادونه** ........ ۶

١.٢ د روسيې اقتصاد ........ ۶

٢.٢ د چين اقتصاد ........ ٧

٣.٢ د ترکيې اقتصاد ........ ٨

۴.٢ د هند اقتصاد ........ ٩

**د بانکي او پولي بازار پرمختګونه** ........ ١٣

١. پولي پروګرام ........ ١٣

٢. د نقدينه ګی حجم ........ ١٣

٣. خالصه نړيواله زيرمې ........ ١۴

۴. د اسعارو د مبادلې بازار ........ ١٧

١.۴ د اسعارو ليلام ........ ١٧

**۵. د بانکي بازارونه او د سياليت وضعيت** ........ ١٩

١.۵ د بانګه ايزه پاڼو (کپيټل نوټ) ليلام ........ ١٩

**د پړسوب (انفلاسيون) بهير او ليد لوری** ........ ٢٣

١. په افغانستان کې د مصرفي توکو د بيې شاخص ........ ٢۴

١.١ په ملي عمومي انفلاسيون کې پرمختياوې ........ ٢۶

٢. د کابل په عمومي انفلاسيون کې پرمختياوې ........ ٣٠

١.٢ کلنی پرمختياوې ........ ٣١

٢.٢ درې مياشتنی پرمختياوې ........ ٣٢

**٣. د سيمې د انفلاسيون بهير** ........ ٣۴

۱.۳ هند........................................................................................................۳۴
۲.۳ پاکستان...................................................................................................۳۵
۴. د انفلاسیون لنډ مهاله لید لوری ..........................................................................۳۵
۱.۴ خطرونه......................................................................................................۳۶
**د بهرني سکتور پرمختیاوې**..................................................................................۳۹
۱. د اداینو بیلانس...............................................................................................۳۹
۱.۱ جاري حساب ...............................................................................................۳۹
۲.۱ پانګه ایزه او مالي حسابونه.................................................................................۴۰
۳. د سوداګرۍ لوری............................................................................................۴۲
۱.۳د سوداګرۍ ترکیب .........................................................................................۴۴
۴. بهرنۍ پوراینې.................................................................................................۴۶
۵. خالصه نړیواله زیرمې.........................................................................................۴۷
**د مالیاتي نظام پرمختیاوې** ....................................................................................۵۱
**۱. د بودجې د اجراء نرخ**........................................................................................۵۱
۱.۱ د بودجې کسر ..............................................................................................۵۲
**۲. د عوایدو راټولول** ...............................................................................................۵۲
۱.۲ مالیاتي عواید ...............................................................................................۵۳
۲.۲ غیر مالیاتي عواید............................................................................................۵۳
۳.۲ بسپنه .........................................................................................................۵۳
**۳. لګښتونه**.........................................................................................................۵۴
**د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی**...............................................................................۵۷
۱. د بانکي نظام شتمنی..........................................................................................۵۷
۱.۱ ناخالص پورونه .............................................................................................۵۸
۱.۱.۱ د پور د زیان زیرمې........................................................................................۵۹
۲.۱.۱ د کریډټ وېشنه.........................................................................................۵۹
۳.۱.۱ د پورونو ډله بندي........................................................................................۶۱
۲.۱ د بانکونو ترمنځ طلبات ...................................................................................۶۲
۳.۱ پانګه اچونه .................................................................................................۶۲
۴.۱ په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات .................................................۶۲

۲. پوراینې................................................................................................................۶۳
۱.۲ امانات ...........................................................................................۶۳
۲.۲ پور اخیستنې ......................................................................................۶۴
۳.۲ نقدینه ګی (سیالیت)..............................................................................۶۵
۱.۳.۲ د سیالیت نسبت (پراخه کچه)...............................................................۶۵
۴.۲ پانګه.................................................................................................۶۵
۵.۲ ګټورتیا (نافعیت)..................................................................................۶۵
۶.۲ د اسعارو خطر......................................................................................۶۷
۷.۲ د ټکټانې د نرخ خطر..............................................................................۶۷

## د ګرافونو لیست


۱.۱ ګراف: د متحدو ایالتونو د کورني ناخالصه تولیداتو وده، د موسمي تعدیلاتو په اساس،(ربعه په ربعه) ۱
۲.۱ ګراف: د متحدو ایالتونو میاشتنی نړیواله سوداګري ۲
۳.۱ ګراف: د انګلستان د انفلاسیون میاشتنی نرخ ۳
۴.۱ ګراف: د انګلستان د سوداګرۍ بیلانس ( موسمي تعدیلاتو په اساس) ۳
۵.۱ ګراف: د جرمني د انفلاسیون نرخ، د ۲۰۱۳ کال له سپټمبر څخه د ۲۰۱۴ کال تر سپټمبر پورې (کال په کال) ۴
۶.۱ ګراف: د جرمني سوداګري، د ۲۰۱۳ کال له سپټمبر څخه د ۲۰۱۴ کال تر سپټمبر پورې ۴
۷.۱ ګراف: د جرمني د سوداګرۍ کلنی بیلانس ۴
۸.۱ ګراف: د فرانسې غیر متراکم کورني ناخالصه تولیدات ۵
۹.۱ ګراف: د جاپان حقیقي کورني ناخالصه تولیدات( د موسمي تعدیلاتو پر اساس) ۵
۱۰.۱ ګراف: د جاپان د انفلاسیون میاشتنی نرخ ( کال په کال) ۶
۱۱.۱ ګراف: د روسیې د سوداګرۍ درې میاشتنی بیلانس ۷
۱۲.۱ ګراف: د چین د اقتصادي ودې نرخ (کال په کال ) ۷
۱۳.۱ ګراف: د چین د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ ۷
۱۴.۱ ګراف: د چین د مصرفي توکو د بیې شاخص ۸
۱۵.۱ ګراف: د ترکیې د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ ( د ربعې په اساس) ۸
۱۶.۱ ګراف: د ترکیې د بیکارۍ میاشتنی نرخ ۸
۱۷.۱ ګراف: د ترکیې د سوداګرۍ میاشتنی بهیر ۹
۱.۲ ګراف: د ۱۳۹۳ مالي کال لپاره پولي زیرمې ـ ۷.۱۲ سلنه ۱۳
۲.۲ ګراف: بانکي امانات د پیسو د پراخه مفهوم په توګه (Broad Money) ۱۴
۳.۲ ګراف: د M2 د ونډې په توګه پیسه وزمه(٪) ۱۴
۴.۲ ګراف: د ۱۳۹۳ (۲۰۱۴) مالي کال په دریمه ربعه کې خالصه نړیواله زیرمې ۱۵
۵.۲ ګراف: د افغانی/ امریکایي ډالرو د مبادلې ورځنی اوسط نرخ ۱۷
۶.۲ ګراف: د افغانی پر وړاندې د پاونډو او یورو ارزښت ۱۷
۷.۲ ګراف: د افغانی پر وړاندې د هندي روپۍ او پاکستانی روپۍ ارزښت ۱۷
۸.۲ ګراف: د پانګه ایزه پاڼو کچه، د ۲۰۱۴ کال د سپټمبر ۱۶ مه ۱۹
۱.۳ ګراف: د نړۍ د خوراکي توکو د انفلاسیون نرخ ۲۴
۲.۳ ګراف: د ملي مصرفي توکو د بیې شاخص (کال په کال) ۲۵
۳.۳ ګراف: اصلي انفلاسیون ۲۶
۴.۳ ګراف: د ملي انفلاسیون د ۱۲ میاشتو اوسط ۲۷

۵.۳ ګراف: د ملي مصرفي توکو د بيې شاخص (ربعه په ربعه) ۲۹
۶.۳ ګراف: د کابل د انفلاسيون د ۱۲ مياشتو اوسط ۳۱
۷.۳ ګراف: د کابل د مصرفي توکو د بيې شاخص (کال په کال) ۳۱
۸.۳ ګراف: د کابل د مصرفي توکو د بيې په شاخص کې د هرې ربعې بدلونونه ۳۳
۹.۳ ګراف: سيمه ايزه انفلاسيوني بهير ۳۴
۱۰.۳ ګراف: د هند د مصرفي توکو د بيې د شاخص انفلاسيون(کال په کال) ۳۵
۱۱.۳ ګراف: د پاکستان د مصرفي توکو د بيې عمومي شاخص ( د هر کال د سلنې بدلونونه) ۳۵
۱.۴ ګراف: د جاري حساب بيلانس ۳۹
۲.۴ ګراف: پانګه ايز او مالي حساب ۴۰
۳.۴ ګراف: بهرني مستقيمې پانګونې ۴۱
۴.۴ ګراف: سوداګريزې کړنې او د سوداګرۍ بيلانس ۴۲
۵.۴ ګراف: د صادراتو لورى ( د ونډې سلنه)، د ۱۳۹۳ مالي کال درېمه ربعه ۴۴
۶.۴ ګراف: د صادراتو لورى ( د ونډې سلنه)، د ۱۳۹۲ مالي کال درېمه ربعه ۴۴
۷.۴ ګراف: د وارداتو ترکيب ( د ونډې سلنه)، د ۱۳۹۳ مالي کال درېمه ربعه ۴۵
۸.۴ ګراف: د وارداتو ترکيب ( د ونډې سلنه)، د ۱۳۹۲ مالي کال درېمه ربعه ۴۵
۹.۴ ګراف: د صادراتو ترکيب ( د ونډې سلنه)، د ۱۳۹۲ مالی کال درېمه ربعه ۴۶
۱۰.۴ ګراف: د صادراتو ترکيب( د ونډې سلنه)، د ۱۳۹۳ مالي کال درېمه ربعه ۴۶
۱۱.۴ ګراف: د بهرني پوراينې مقايسه – د ۱۳۹۳ مالي کال درېمه ربعه او د ۱۳۹۲ مالي کال درېمه ربعه ۴۷
۱۲.۴ ګراف: خالصه نړيواله زيرمې ۴۸
۱.۵ ګراف: د عملياتي بودجې د اجراء نرخ، د ۱۳۹۳ مالي کال له پيل څخه تر اوسه ۵۱
۲.۵ ګراف: د پرمختيايي بودجې د اجراء نرخ، د ۱۳۹۳ مالي کال له پيل څخه تر اوسه ۵۱
۳.۵ ګراف: کورني عوايد ۵۲
۴.۵ ګراف: د کورني عوايدو ترکيب: د ۱۳۹۳مالي کال له پيله تر اوسه (حقيقي) ۵۲
۵.۵ ګراف: د مالياتي عوايدو مقايسه ۵۳
۶.۵ ګراف: د بسپنه ورکوونکو د مرستو ترکيب ۵۳
۷.۵ ګراف: د ملي لګښتونو ترکيب ۵۴
۱.۶ ګراف: د بانکي نظام په ټوليزه شتمنيو کې د بانکي ګروپونو ونډه ۵۸
۲.۶ ګراف: د بانکي نظام د ټوليزه ناخالصه پورونو په پورتوفوليو کې د بانکونو د ګروپونو ونډه ۵۹
۳.۶ ګراف: د پورونو د پورتوفوليو کيفيت ۶۱
۴.۶ ګراف: د بانکي ګروپونو ترمنځ د خپل منځي طلباتو ونډه ۶۲

۵.۶ ګراف: د پوراينې ۳.۸۷ ميلیارده افغانۍ يا ۸۲.۱ سلنه ټيټوالی ۶۳
۶.۶ ګراف: د اماناتو اسعاري ترکيب ۶۴
۷.۶ ګراف: په افغانۍ ايښودل شوي امانات ۶۴
۸.۶ ګراف: د اماناتو ۱.۹۹ سلنه يا ۰۷.۴ میلیارده افغانۍ ټيټوالی ۶۴
۹.۶ ګراف: د اماناتو ډله بندي ۶۴
۱۰.۶ ګراف: د بانکي سکتور نافعيت ۶۶
۱۱.۶ ګراف: له شتمنۍ ترلاسه شوې ګټه او له پانګې ترلاسه شوې ګټه ۶۶
۱۲.۶ ګراف: نهايي خالصه ټکټانه ۶۶

**د جدولونو ليست**

۱.۲ جدول: د نقدينه ګۍ حجم، د ۱۳۹۳ مالي کال دريمه ربعه ۱۵
۲.۲ جدول: د ۱۳۹۳ مالي کال په دريمه ربعه کې د اسعارو ليلام ۱۸
۱.۳ جدول: د ملي عمومي مصرفي توکو د بيې د شاخص د اجزاوو وېشنه (کال په کال) ۲۷
۲.۳ جدول: د ملي مصرفي توکو د بيې د شاخص د اجزاوو وېشنه (ربعه په ربعه) ۳۰
۳.۳ جدول: د کابل د مصرفي توکو د بيې د شاخص د اجزاوو وېشنه (کال په کال) ۳۲
۴.۳ جدول: د کابل د مصرفي توکو د بيې په شاخص کې د هرې ربعې بدلونونه ۳۳
۱.۴ جدول: د جاري حساب بيلانس ۳۹
۲.۴ جدول: پانګه ايز او مالي حسابونه ۴۰
۳.۴ جدول: د توکو سوداګري ۴۲
۴.۴ جدول: د بهرني سوداګرۍ لوری – د ۱۳۹۳ کال دريمه ربعه ۴۳
۵.۴ جدول: د بهرني سوداګرۍ لوری – د ۱۳۹۲ کال دريمه ربعه ۴۴
۶.۴ جدول: بهرني پورونه – د ۱۳۹۳ کال دريمه ربعه ۴۷
۷.۴ جدول: نړيواله خالصه زيرمې – د ۱۳۹۳ کال دريمه ربعه ۴۸
۱.۶ جدول: د بانکي نظام د شتمنۍ او پوراينې ترکيب ۵۸
۲.۶ جدول: د کريډټ سکتوري وېش ۶۰
۳.۶ جدول: د بانکي سکتور د مالي سالمتيا مهم شاخصونه ۶۶
۴.۶ جدول: د ګټې/زيان جدول ۶۶

# د لوی رئیس پیغام

## د لوی رئیس پیغام

### درې میاشتنی اقتصادي او احصائیوي بولټن

خوښ یم چې د عالي شورا په استازیتوب د افغانستان بانک د اقتصادي او احصائیوي بولټن دا پښتو نسخه په لومړي ځل د ۱۳۹۳ مالي کال د دریمې ربعې لپاره وړاندې کوم. دغه درې میاشتنی بولټن (د غبرګولی له ۳۱ څخه د وږي تر ۲۹ پورې) د افغانستان بانک د هغو فعالیتونو ښکارندوی دی چې موخه یې د انفلاسیون د نرخ ټیټول، د افغانۍ د مبادلوي نرخ ثبات او د باثباته اقتصادي ودې لپاره د لایو پیاوړي بانکي سکتور رامنځ ته کول دي.

داسې ښکاري چې ۱۳۹۳ مالي کال به د افغانستان د اقتصاد لپاره له ننګونې ډک کال وي. سیاسي او امنیتي ناڅاڅمنتیا، اقتصادي وده تر خپلې اغېزې لاندې راوستې ده او د ۱۳۹۲ مالي کال د اقتصادي ودې ټیټېدونکي بهیر په ۱۳۹۳ مالي کال کې هم دوام موندلی دی. تمه کیږي چې د کورني ناخالص تولیداتو حقیقي وده به لاهم ټيټه او د ۳ سلنې لاندې پاتې شي. غیر کرنیز سکتورونه پر سوداګرۍ باندې د خلکو د ضعیف اعتماد له پلوه له ننګونې سره مخ دي، په داسې حال کې چې د کرنې او مالدارۍ سکتور بیا د مناسبې هوا او کافي موسمي اورښتونو له امله له تمې سره سم پرمختګ درلود.

د نړۍ روان اقتصادي وضعیت ته په کتلو سره لیدل کیږي چې د نفتو د بیو د پام وړ ټیټېدو او د ټولیزه تقاضا د راکمېدو له امله د ۲۰۱۴ کال په دریمه ربعه کې نړیوال انفلاسیون راټیټ شوی او د پرمختللي هیوادونو په څېر د آسیا اقتصادونو هم په تېره ربعه کې د انفلاسیون ټیټېدونکی بهیر تجربه کړی دی.

د نړیوال انفلاسیون د دغه غوره وضعیت له امله د افغانستان کلنی انفلاسیون هم د ۱۳۹۳ کال په وږي میاشت کې خپل تر ټولو ټیټې کچې یعني ۴.۲۱ سلنې ته ورسېد. د خوراکي توکو او نفتو نړیوالې ټیټې بیې، د نړۍ د اقتصادي ودې کمېدل او د نړیوالې ټولیزې تقاضا راټیټېدل چې په نړیواله کچه د انفلاسیون د نرخ د کمېدو لامل شوی، په افغانستان کې د سیاسي او اقتصادي حالاتو په ګډون یو شمېر نورو کورني فکتورونو هم د انفلاسیون په کموالي کې رول درلودلی دی.

همدا ډول د ۱۳۹۳ مالي کال په دریمه ربعه کې د نقدینه ګۍ د حجم کچه د پولي زیرمې (RM)، د پراخه مفهوم په توګه پیسې (M2) او د محدوده مفهوم په توګه پیسې (M1) د ګډ فعالیت ښکارندوي کوي. پولي زیرمه چې د عملیاتي هدف په توګه کارول کیږي، د دریمې ربعې په پای کې له ټاکل شوي کچې یو څه زیاته وده درلودلې ده.

همدا شان د پراخه مفهوم په توګه پیسې (M2) د تېرې ربعې په پرتله نسبتاً معتدله وده کړې، حال دا چې د محدوده مفهوم په توګه پیسې (M1) د تېر کال په پرتله نسبتاً ټکنی وده درلوده. په ورته وخت کې د M2 بل جز یعنې پیسه وزمه (Quasi Money) یا د بانکي سکتور اماناتو د تېر کال د ورته ربعې په پرتله ۷ سلنه ټيټوالی درلود.

د دي ترڅنګ، په نړیوال بازارونو کې د امریکایي ډالرو د ارزښت زیاتېدو سره سره د افغانستان بانک توانیدلی دی

چې د ۲۰۱۴ زیږدیز کال په درېمه ربعه کې د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانی د مبادلې نرخ ثابت وساتي.

د یادونې وړ ده چې د ۱۳۹۳ مالي کال په درېمه ربعه کې د بانکي سکتور فعالیت د سیاسي او امنیتي ناډاډمنتیا له امله کمزوره شوی دی. د بانکي نظام شتمنۍ تر ارزونې لاندې ربعه کې راټیټه شوې ده. ټولیزه امانتونه تر ۱.۹۹ سلنې پورې راښکته شوي حال دا چې د بانکي نظام د ناخالص پور پورتوفولیو ۴.۵۷ سلنه کموالی موندلی دی.

د پورته لنډو توضیحاتو په پای کې د بانک د بېلابېلو مدیریتونو او آمریتونو د اړوندو همکارانو په تېره بیا د پولي سیاست آمریت له نه ستړې کېدونکي هڅو ستاینه کوم چې د دې بولټن په چمتو کولو کې یې مرسته کړې ده، همدا ډول د اسنادو او اړیکو لوی آمریت ستایم چې په تیرو دیارلسو کلونو کې د لومړي ځل لپاره دا بولټن په پښتو ژبه د لیوالو، څېړونکو، زده کړیالانو، اکاډمیکي ټولنې، خصوصي سکتور، حکومت، ملي شورا او د رسنیو د کارولو په موخه ژباړلی دی.

**خلیل صدیق**

**د افغانستان بانک لوی رئیس**

**عمومي کتنه**

د نړۍ اقتصاد د ۲۰۱۴ زیږدیز کال په درېمه ربعه کې په معتدله توګه پراختیا موندلې ده، که څه هم په بېلابېلو اقتصادونو کې د فعالیتونو وده یو شان نه وه. په داسې حال کې چې د امریکې په اقتصاد کې د پراخه رغونې نښې نښانې لیدل کیږي، د یورو سیمې وده د زړو تشکیلاتي خنډونو او د کمزوره وضعیت له امله ټکنی ده. د دې ترڅنګ په آسیا کې هم اقتصادي فعالیتونو په دوامداره توګه پرمختیا درلودلې، خو ځینو اقتصادونو دا وده په معتدله بڼه تجربه کړې ده.

د امریکې اقتصاد د ۲۰۱۴ زیږدیز کال په لومړۍ ربعه کې د ټیټوالي وروسته په دویمه ربعه کې زیاتوالی وموند، خو په درېمه ربعه کې معتدل حالت ته راستون شو.

د انګلستان اقتصاد د همدې کال په درېمه ربعه کې په آرامه توګه وده کړې ده. د دې هېواد د ملي احصائیې اداري (ONS) لخوا د خپاره شویو لومړنیو اټکلونو له مخې، د انګلستان اقتصاد د تېرې ربعې د ۰.۹ سلنې ودې په پرتله د ارزونې لاندې ربعه کې ۰.۷ سلنه وده ثبت کړې، چې د تېر کال د همدې ربعې په پرتله ۳ سلنه لوړوالی ښيي.

د جرمني د اقتصاد ارزښت د ۲۰۱۴ کال د درېمې ربعې په پای کې ۷۳۹.۶۰ میلیارد یورو اټکل شوی چې د تېرې ربعې د نسبتاً انقباضي حالت څخه د ربعې په ربعې حساب ۰.۱ سلنه وده ښکاره کوي. سره له دې، په درېمه ربعه کې د دې هېواد د کورني ناخالص تولیداتو وده د تېر کال د همدې دورې په پرتله چې ۰.۳ سلنه وه، ټیټه شوې ده.

د جرمني اقتصاد، په دویمه ربعه کې د لږ انقباض وروسته په روانه ربعه کې ۰.۱ سلنې مثبتې ودې ته لاس وموند چې پر کورني نهایي لګښتونو، د حکومت پر لګښتونو او پر صادراتو باندې یې مثبته اغېزه پرېښوده، په داسې حال کې چې د ټولیزې پانګې جوړښت او د توکو موجودي په ارزونې لاندې موده کې لږه شوې ده.

د فرانسې اقتصاد د همدې کال په درېمه ربعه کې د رغاونې شاهد ؤ. د دې هېواد د درېي میاشتني ملي راپور د لومړیو پایلو له مخې چې د ۲۰۱۴ زیږدیز کال د نوامبر په ۱۴ نېټه خپور شوی، د فرانسې اقتصاد په درېمه ربعه کې ۰.۳ سلنه وده کړې ده.

د دې هېواد په اقتصاد کې د رغاونې اصلي عوامل؛ کورني استهلاکي لګښتونه، عمومي حکومتي لګښتونه او د توکو او خدمتونو په تولید کې د ۵ سلنه ودې زیاتوالی دی، کوم چې د همدې کال په دویمه ربعه کې ۸ سلنه ټیټوالی درلود.

د جاپان اقتصاد په دویمه ربعه کې له شدید انقباضي حالت وروسته په درېمه ربعه کې ژور رکود تجربه کړ. د جاپان د کابینې د دفتر د دویم ځل لومړنیو اټکلونو له مخې د دې هېواد اقتصاد په درېمه ربعه کې ۰.۴۸ سلنه انقباضي حالت درلود چې ارزښت یې ۵۲۳.۷۶ میلیارد ین ښودل شوی، د دې انقباضي حالت اصلي لامل په اپریل میاشت کې د عامه پورواینې د محدودولو لپاره تر ۸ سلنې پورې د مالیې زیاتول ؤ.

د نړیوال بانک د راپور له مخې د ۲۰۱۴ کال په درېمه ربعه کې د روسیې اقتصاد ۰.۷ سلنه (کال په کال) وده درلودلې ده چې په ترتیب سره د همدې کال د دویم او لومړۍ ربعو د ثبت شوې ۰.۸ او ۰.۹ سلنو څخه کمه وده ښکاره کوي. د اکراین د کړکیچ له امله د یو شمېر بندیزونو لګېدل او د نفتو د بیې ټېټېدل د دې کمې ودې

ستر عوامل ګڼل کېږي.

د ۲۰۱۴ کال د سپتمبر په پای کې، د چین د اقتصادي ودې نرخ ټیټ ؤ. د دې هېواد د ودې کلنی نرخ ۷.۳ سلنه ثبت شوی چې د دوهمې ربعې ۷.۵ سلنې او د لومړې ربعې ۷.۴ سلنې څخه کم دی. همدارنګه په دریمه ربعه کې د ودې نرخ د تېر کال د همدې ربعې په پرتله چې ۷.۸ سلنه ؤ، کم ؤ.

د ترکیې د کورني ناخالص تولیداتو د ودې نرخ د ۲۰۱۴ کال په دریمه ربعه کې ۱.۷ سلنه ؤ چې د تېرې ربعې او د تېر کال د همدې ربعې په پرتله ټیټ شوی دی. د دې ودې عمده لاملونه د مالي او د بیمې سکتورونه او تولیدي صنعت په ډاګه شوي دي.

د هند اقتصاد د ۲۰۱۴ کال په دریمه ربعه کې ۳.۲ سلنه وده درلوده. دغه وده د تېرې ربعې په پرتله تر ۶ سلنې پورې راټیټه شوې ده. برښنا، ګاز، اوبه رسول، ساختماني کارونه، ټولنیز او شخصي خدمتونه، بیمه او د ملکیتونو معاملې او داسې نور اقتصادي فعالیتونه د دې هېواد د ودې ترشا ولاړ عوامل دي.

په افغانستان کې د نقدینه ګی د حجم کچه د ۱۳۹۳ مالي کال په دریمه ربعه کې ګډ فعالیت درلود؛ حقیقي پولي زیرمې د ۱۳۹۳ مالي کال د پیل په پرتله د دریمې ربعې (د ۲۰۱۴ سپتمبر) په پای کې ۱۱.۱ سلنه وده درلوده. د کال په پیل کې حقیقي پولي زیرمه ۱۹۸.۷۵۷ میلیارده افغانۍ وه؛ که څه هم دغه شمېره د دریمې ربعې په پای کې ۲۰۳.۶۷۳ میلیارده افغانیو ته لوړه شوه او له ټاکل شوي حد څخه ۲۲.۰۹۸ میلیارده افغانۍ واوښته. د حقیقي پولي زیرمو د چټک زیاتوالي ترشا اصلي عامل په هېواد کې نا ډاډمنه سیاسي او اقتصادي چاپېریال او شرایط دي چې لامل شوی چې امریکایي ډالر او نور بهرني اسعار د ارزښت د خوندیتوب په توګه وکارول شي.

د دې ترڅنګ تر ارزوني لاندې موده کې پر امنیت او دفاعي سکتورونو باندې د حکومت زیات لګښتونه کېدای شي هغه بل لامل وي چې په ګردښت کې د پیسو د زیاتېدو لامل شوی وي.

په پراخه مفهوم پیسې (M2) د تېرې ربعې په پرتله نسبتاً معتدله وده درلودلې ده. د ۱۳۹۳ مالي کال په دریمه ربعه کې د M2 کچه ۳۸۴،۸۵۶ میلیون افغانۍ ته ورسېده چې د ۱۳۹۲ مالي کال د همدې ربعې د ثبت شوې ۶.۵۳ سلنې په پرتله ۳.۸۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. په M2 کې د ودې اصلي لامل په محدوده مفهوم پیسو (M1) کې چې د (M2) ستره برخه جوړوي، زیاتوالی دی. د پراخه مفهوم په توګه پیسې(M2) نورو برخو تر ۷ سلنې پورې منفي وده درلودلې ده. د M1 وده د ۱۳۹۲ کال د همدې ربعې د ۶.۶ سلنې په پرتله ۴.۴۵ سلنې ته راټیټه شوې ده.

په همدې حال کې د پیسه وزمه (Quasi Money) یا د مودیزه (میعادي) امانتونو وده چې د M2 بله برخه جوړوي، د تېر کال د همدې ربعې د ۴.۳ سلنې زیاتوالي په پرتله تر ۷ سلنو پورې راښکته شوې ده.

د ۱۳۹۳ مالي کال په دریمه ربعه کې د انفلاسیون نرخ په افغانستان کې خپل ټیټېدونکي بهیر ته ادامه ورکړه. ملي عمومي انفلاسیون د ۲۰۱۳ کال له اګست څخه د ۲۰۱۴ کال تر سپتمبر پورې د پام وړ کموالی درلود. په هېواد کې د عمومي پراخه بیو ( د ملي عمومي انفلاسیون) کچه د ۲۰۱۴ مالي کال د دریمې ربعې په پای کې ۴.۲ سلنه ثبت شوې، چې د تېر کال د همدې دورې له ۸ سلنې څخه

راښکته شوې ده.

د ۲۰۱۳ زیږدیز کال په درېمه ربعه کې د خوراکي او ښناك توکو د انفلاسیون نرخ له ۹.۱ سلنې څخه د ۲۰۱۴ مالي کال په درېمه ربعه کې (کال په کال) ۶.۸ سلنې ته راټیټ شو. ډوډۍ او حبوبات، غوښه، شیدې او سبزي جات د خوراکي توکو سترې او مهمې فرعي برخې جوړوي؛ نو له همدې کبله د خوراکي موادو د برخې د بدلونونو په شننه کې پر دغو فرعي برخو باندې تمرکز ډېر اړین دی.

د ډوډۍ او حبوباتو بیو د یوه کال په موده کې ۳.۶ سلنه کموالی درلود چې په روانې ربعې کې (د کال په کال په اساس) ۱۱ سلنې ته ورسید. د ډوډۍ او حبوباتو په شان نورو فرعي برخو لکه غوښې، شیدې، پنیر، هګۍ او سبزیجاتو هم د ۲۰۱۳ له سپتمبر څخه د ۲۰۱۴ تر سپتمبر پورې ټیټېدونکی بهیر درلودلی دی.

د خوراکي توکو په انفلاسیون کې د دغه ټیټوالي لامل تر یوه اندازې پورې د تېر کال په اوږدو کې د نړۍ په کچه د خوراکي توکو په بیو کې په عمومي توګه کموالي پورې تړاو لري. د بیلګې په توګه په متحدو ایالتونو کې د حبوباتو د پرېمانه تولید له امله د غنمو او جوارو بیه په ترتیب سره ۲۷ سلنه او ۲۵ سلنه راټیټه شوه. همدا شان د خجورې د غوړیو شاخص ښیي چې په همدې موده کې د دې محصول بیه هم لوېدلې ده.

د ملي مصرفي توکو د بیې د شاخص په انفلاسیون کې غوره بدلونونه د مصرفي توکو د بیې د شاخص په غیر خوراکي برخه کې تر سترګو شوي دي. په غیر خوراکي برخه کې کلنی ټولیز انفلاسیون د ۲۰۱۳ د سپتمبر (د کال په کال پر بنسټ) له ۶.۸ سلنې څخه د راپور ورکولو دورې تر پایه پورې ۱.۴ سلنې ته راکم شوی دی. د غیر خوراکي توکو د ټولو اجزاو په ډله کې کور جوړونه چې د مصرفي توکو د بیې د شاخص تر ټولو وزمینه برخه جوړوي، د ۲۰۱۳ کال د درېمې ربعې (د کال په کال پر بنسټ) د ۶.۸ سلنې انفلاسیوني نرخ څخه په دې ربعه کې ۸.۸ سلنې دیفلاسیوني نرخ ته ډېر کموالی موندلی دی.

د بهرني سکتور فعالیت تر ارزونې لاندې ربعې کې کمزوره شوی، د جاري حساب کسر ښه شوی، په داسې حال کې چې په همدې ربعه کې د پانګې جریان یا بهېدنه له ټیټېدونکی بهیر سره مخ شوی ده. د سوداګریز بیلانس وضعیت له دې امله لابد شوی چې د ټولیزو وارداتو کچه له ټولیزو صادراتو څخه ډېره زیاته شوې ده. له بلې خوا خالصه نړیواله زیرمې په درېمه ربعه کې ډېر لږ، یعنې ۱ سلنه لوړې شوې دي. که څه هم د بهرني پوراینې زیرمه تر ۱۵ سلنې پورې لږه شوې، خو د بهرني پوراینې پالیسي چې د حکومت لخوا پرمخ وړل کیږي د بهرني پوراینې له وضعیت سره مرسته کړې چې په کنټرول وړ حدودو کې پاتې شي.

تر ټولو مهمه خبره دا ده چې د پوراینې اداینه باید په منظم ډول وځارل شي څو د مهمو پراختیایي پروګرامونو د تمویل لپاره خنډ جوړ نه کړي.

د توکو د سوداګرۍ احصائیې ښیي چې د سوداګرۍ کسر تر ۳۲ سلنو پورې راټیټ شوی او په دې ډول د ۱۳۹۲ مالي کال د درېمې ربعې د ۲،۲۱۴.۱۲ میلیون امریکایي ډالرو څخه د ۱۳۹۳ مالي کال په درېمې ربعې کې ۱،۵۱۲.۲۰ میلیون امریکایي ډالرو په اندازه کسر ښکاره کوي. د سوداګرۍ کسر د کورني ناخالص تولیداتو نږدې ۷ سلنه جوړوي.

د ۱۳۹۳ مالي کال په درېمه ربعه کې ټولیزه وارداتو د پام وړ کموالی درلود چې تر ۲۹ سلنه پورې رسیده، په داسې حال کې چې ټولیزه صادرات نژدې ۲۶ سلنه پورې زیات شوي دي.

د توکو د سوداګرۍ د احصائیې له مخې د ارزونې لاندې دوره کې، ټولیز واردات ۱،۶۶۵.۹۸ میلیون امریکایي ډالره ثبت شوي دي چې دا شمېره د تېر کال په همدې دوره کې ۲،۳۳۶.۴۸ میلیون امریکایي ډالره وه. د ټولیزو وارداتو لګښت د درېو مهمو کټګوریو له امله کم شوی دی، په تېره بیا تیلي (روغني) مواد چې د ۱۳۹۲ مالي کال د درېمې ربعې د ۶۷۷.۳۷ میلیون ډالرو څخه د ۱۳۹۳ مالي کال د درېمې ربعې ۲۴۹.۶۴ میلیون امریکایي ډالرو ته د ۶۵ سلنې په اندازه راښکته شوی، په دې کموالي کې مهم رول لري. پانګه ایزه توکي (ثابته شتمني) او داسې نور د ۱۳۹۲ مالي کال د درېمې ربعې د ۹۲۳.۷۹ میلیون امریکایي ډالرو څخه په ورته ربعه کې ۶۶۶.۸۳ میلیون امریکایي ډالرو ته د ۲۸ سلنې په اندازه راټیټ شوي دي. همدا ډول د صنعتي موادو عرضه، د ۳۰۵.۲۲ میلیون امریکایي ډالرو څخه ۱۷۹.۷۲ میلیون امریکایي ډالرو ته د ۴۱ سلنې په اندازه راښکته شوې ده.

له بلې خوا د مصرفي توکو واردات د ۱۳۹۲ مالي کال د درېمې ربعې د ۴۳۰.۱۰ میلیون امریکایي ډالرو څخه د ۱۳۹۳ مالي کال د درېمې ربعې ۵۶۹.۷۹ میلیون امریکایي ډالرو ته د ۳۲ سلنې په اندازه راکم شوي دي. خو ټولیز صادرات د ۱۲۲.۳۶ میلیون امریکایي ډالرو څخه د ۱۳۹۳ مالي کال د درېمې ربعې ۱۵۳.۷۸ میلیون امریکایي ډالرو ته پورته شوي چې ۲۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د سوداګریزې احصائیې له مخې د صادراتو ټولو کټګوریو په درېمه ربعه کې لوړېدونکی بهیر درلود. د غالیو او ټغرونو صادرات د ۱۳۹۲ مالي کال د درېمې ربعې د ۱۵.۹۰ میلیون امریکایي ډالرو څخه د ۱۳۹۳ مالي کال په درېمه ربعه کې ۳۱.۱۴ میلیون امریکایي ډالرو ته د ۹۶ سلنې په کچه د پام وړ زیاتوالی وموند. خوراکي توکي لکه تازه او وچه مېوه، طبي بذرونه او داسې نورې کټګورۍ د هغو مهمو کټګوریو په لیکه کې راځي چې د ټولیزه صادراتو د کچې په لوړولو کې یې مهم رول درلودلی دی.

د ۱۳۹۳ مالي کال په درېمه ربعه کې ټولیز مالي فعالیت د لږو کورني عوایدو د راټولولو له امله کمزورۍ او ضعیف ؤ. د حکومتي عوایدو او د بسپنه ورکوونکو په مرستو کې د کمښت له کبله د ملي بودجې کسر د ۱۳۹۳ مالي کال په لومړیو درېو ربعو کې زیات شوی دی. د بودجې کسر د درېمې ربعې (د ۲۰۱۴ کال د سپتمبر میاشت) په پای کې ۳۲.۴ میلیارده افغانۍ زیات شوی، حال دا چې د تېر کال په همدې موده کې بودجې ۳۴.۳ میلیارده افغانۍ ډېریدنه (مازاد) درلوده. د ټولیزې ملي بودجې د ۳۲.۴ میلیارد افغانیو کسر څخه یوازې ۲۲.۲ میلیارده افغانۍ عملیاتي بودجې او پاتې ۸.۹ میلیارده افغانۍ پراختیایي بودجې پورې اړه درلودلې ده.

په بانکي نظام کې د بانکي سیستم شتمنۍ د ۲۰۱۴ زیږدیز کال د جون میاشتې د ۱.۷۹ سلنې ودې په پرتله د ارزونې لاندې ربعه کې تر ۱.۶۴ سلنې یا ۴.۰۰ میلیارده افغانۍ کمه شوې ده چې د تېرې دورې (د ۲۰۱۳ کال د سپتمبر میاشت) راپدېخوا ۱.۸۶ سلنه کموالی ښکاره کوي. د بانکي سیستم د شتمنیو د کمېدو اصلي لامل د اماناتو کمېدل دي.

د بانکي سکتور د ناخالصو پورونو پورتفولیو د یوې ربعې په موده کې له ۴.۵۷ سلنې یا ۲.۱۴ میلیارده افغانی کموالي سره مخ شوی، خو د ربعې په پای کې د ۲۰۱۴ کال د جون میاشتې۳.۱۴ سلنې زیاتوالي سره ۴۴.۷۶ میلیارده افغانۍ ته ورسید. د ۲۰۱۳ زیږدیز کال د سپتمبر میاشتې په پرتله ناخالص پورونه ۵.۱۴ سلنه کمښت ښکاره کوي. د پور په پورتوفولیو کې د پورونو بیا تادیه، تصفیه او خسارې حساب او همدا ډول د نوي پورونو ادائنه د کموالي ستر لاملونه ګڼل کیږي.

امانات چې د بانکي سکتور مهمه تمویلی سرچینه جوړوي ارزښت یې ۲۰۰.۵۴ میلیارده افغانیو ته رسیږي چې د ټولیزه پوراینې ۹۶.۰۹ سلنه جوړوي او د تېرې ربعې د ۲.۸۲ سلنې زیاتوالي په وړاندې په درېمه ربعه کې ۱.۹۹ سلنه کموالی موندلی دی. د دې کموالی لاملونه د ولسمشریزه ټولټاکنو اوږده پروسه او پر اقتصاد باندې واکمنه ناډاډمنتیا وه. په بانکي نظام کې زیاته اندازه امانتونه په امریکایي ډالرو (۶۰.۴۴ سلنه) ایښودل شوي، حال دا چې کوم امانات چې په افغانی ایښودل شوي د ټولو اماناتو ۳۵.۸۴ سلنه جوړوي. افغانی امانتونه د ۲۰۱۴ کال د جون میاشتې د ۷.۵۷ سلنې زیاتوالي په وړاندې ۲.۹۷ سلنه زیاتوالی موندلی، په داسې حال کې چې ډالري امانتونه د ۲۰۱۴ کال په جون کې د ۰.۲۶ سلنې په وړاندې په دې ربعه کې ۵.۰۳ سلنه راټیټ شوي دي.

د بانکي نظام پانګې په دې ربعه کې پیاوړې وضعیت درلود او کچه یې ۳۰.۱۲ میلیارده افغانی ته رسېده، که څه هم د بانکي سکتور د ګټورتیا (نافعیت) د کمېدو له امله دا پانګه لږ څه راښکته شوې ده. د بانکي نظام د پانګې د کفایت نسبت (Capital Adequacy Ratio) ۲۶.۲۶ سلنه ثبت شوی دی. د ټولو بانکونو د پانګې د کفایت نسبت له ټاکلي حد څخه پورته دی.

د بانکي نظام ګټه د دې ربعې په موده کې لږه شوې، له شتمنی ترلاسه شوې ګټه ۰.۳۷ سلنه او د پانګې اچوونکو له پانګې ترلاسه شوې ګټه ۲.۹۷ سلنه ښودل شوې؛ په داسې حال کې چې د ۲۰۱۴ کال په جون کې له شتمنی ترلاسه شوې ګټه ۰.۵۶ سلنه او د پانګې اچوونکو له پانګې ترلاسه شوې ګټه ۴.۵۷ سلنه وه. د بانکي سکتور ګټه په دې ربعه کې ۲۹۷ میلیون افغانی ته ورسېده، حال دا چې د ۲۰۱۴ کال په جون کې د ګټې کچه ۴۵۷ میلیون افغانی وه. دولتي بانکونو، خصوصي بانکونو او د بهرنیو بانکونو څانګو په دې ربعه کې ګټه کړې ده.

١

# نړیوال اقتصادي وضعیت

# ۱
# نړیوال اقتصادي وضعیت

د نړۍ اقتصادي وضعیت د ۲۰۱۴ زیږدیز کال په درېمه ربعه کې په پر له پسې توګه معتدله وده درلودلې ده، که څه هم په بیلابیلو اقتصادونو کې د فعالیتونو وده یو شان نه وه. په داسې حال کې چې د امریکې په اقتصاد کې د پراخه رغونې نښې نښانې لیدل کیږي، د یورو سیمې وده د زړو تشکیلاتي خنډونو او د کمزوره وضعیت له امله ټکنۍ ده. د دې ترڅنګ په آسیا کې هم اقتصادي فعالیتونو په پرله پسې توګه پرمختیا درلودلې ده خو ځینې اقتصادونو ودا وده په معتدله بڼه تجربه کړې ده.

## ۱. پرمختللي اقتصادونه

### ۱.۱ د امریکې اقتصاد

د امریکې اقتصادي وده د ۲۰۱۴ کال د لومړۍ ربعې له ټیټوالي وروسته، په دوېمه ربعه کې زیاتوالی وموند؛ خو په درېمه ربعه کې معتدل حالت ته راستانه‌شوه. د امریکې د اقتصادي تحلیل اداري / د امریکې د سوداګرۍ وزارت د مخکیني اټکل له مخې چې د ۲۰۱۴ زیږدیز کال د اکتوبر په ۳۰ نېټه خپور شوی، په درېمه ربعه کې د امریکې اقتصادي وده ۳.۵ سلنه ښودل شوې چې له مخکینی ربعې څخه کمه ده.

د امریکې په وده کې اعتدال، اساساً د پانګونو په مرسته رامنځ ته شوی دی. له دې سربېره د مستهلکینو لګښتونه، د دومداره توکو (Durable Goods) لپاره لګښتونه او سوداګریزه پانګونه په درېمه ربعه کې زیاته شوې، خو د تېرې ربعې په پرتله کمه ده.

**د انفلاسیون نرخ:** په متحده ایالتونو کې د انفلاسیون نرخ د ۲۰۱۴ زیږدیز کال د درېمې ربعې په پای کې ۱.۷ سلنه ثبت شوی دی چې د مخکینی ربعې د ۲.۱ سلنې څخه ټیټ دی. د موسمي تعدیلاتو دمخه، په کلنی توګه د ټولو توکو شاخص تر ۱.۷ سلنې پورې لوړ شوی ؤ. د استوګنځي او خوړو د بیو زیاتوالي د انرژۍ ټیټه بیه تر سیوري لاندې نیولی. دواړه، د خوراکي توکو او استوګنځي بیې هر یو تر ۳ سلنې پورې زیات شوي، په داسې حال کې چې د انرژۍ بیه تر ۶ سلنې پورې راښکته شوې ده.

۱.۱ ګراف : د متحده ایالتونو د کورنی ناخالصه تولیداتو وده، د موسمي تعدیلاتو په اساس، (ربعه په ربعه د سلنې تغییرات)




*سرچینه: د امریکې د اقتصادي تحلیل اداره، د امریکې د سوداګرۍ وزارت*

### د بېکارۍ نرخ

د امریکې د متحده ایالتونو د بېکارۍ نرخ په تېرو دوو کلونو کې (په اوسط ډول) په پرله پسې توګه ټیټېدونکی بهیر درلود او د درېمې ربعې په پای کې ۵.۹ سلنه ثبت شوی چې د تېرې ربعې د ۶.۱ سلنې او د دې ترڅنګ د تېر کال د ورته ربعې د ۷.۲ سلنې بیکارۍ نرخ په پرتله کم شوی دی.

د حرفه ایزه او سوداګریزو خدمتونو او په پرچونه سوداګرۍ او روغتیا سکتور کې د دندو د نرخ لوړېدل د بیکارۍ د نرخ د ټیټېدو لامل شوی دی.

**نړیواله سوداګري:** د متحدو ایالتونو د سوداګرۍ تشه

او خلا د تېرې ربعې او د تېر کال د ورته ربعې په پرتله د درېمې ربعې په پای کې لاپراخه شوې ده. د امریکې د سوداګرۍ وزارت لخوا د خپاره شوي معلوماتو له مخې د تولیزه صادراتو ارزښت ۱۹۵.۶ میلیارده امریکایي ډالره ؤ، په داسې حال کې چې د تولیزه وارداتو ارزښت ۲۳۸.۶ میلیارده امریکایي ډالره ښودل شوی چې ۴۳ میلیارده امریکایي ډالره کسر ښکاره کوي چې کچه یې د تېرې ربعې په وړاندې ۵.۴۴ سلنه او د تېر کال د ورته ربعې په وړاندې ۱.۸۲ سلنه ده.

له جرمني او جاپان وروسته چین د دې هېواد درېم ستر سوداګریز شریک دی، په داسې حال کې چې افغانستان په دې برخه کې ۹۹ یم ځای لري.

۲.۱ ګراف: د متحدو ایالتونو میاشتنی نړیواله سوداګري (په میلیارد ډالره)




سرچینه: د امریکې د اقتصادي تحلیل اداره / د امریکې د سوداګرۍ وزارت

**عامه پور**

د مالیاتي خدمتونو د اداري (Bureau of Fiscal Service) لخوا د وړاندې شویو معلوماتو له مخې د ۲۰۱۴ زیږدیز کال د درېمې ربعې په پای کې د متحدو ایالتونو ټول نا تصفیه شوي پورونه ۱۷،۸۲۴،۰۷۱ میلیون امریکایي ډالره

ثبت شوي چې د تېرې ربعې د پای په پرتله ۶.۵ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي.

**۲.۱ د بریتانیا اقتصاد**

د بریتانیا اقتصاد د ۲۰۱۴ زیږدیز کال په درېمه ربعه کې په معتدله توګه وده کړې ده. د دې هېواد د ملي احصائیې دفتر (ONS) لخوا د خپاره شویو لومړنیو اټکلونو له مخې د ارزوني لاندې ربعه کې ۰.۷ سلنه وده ثبت شوې، چې د تېرې ربعې د ۰.۹ سلنې په پرتله ټیټه خو د تېر کال د ورته ربعې په وړاندې تر ۳ سلنې پورې لوړه شوې ده.

د درېمې ربعې د ودې بنسټیز لامل څلور صنعتي ډلې دي. ودانیز سکتور او محصولاتو تر ټولو زیاته وده درلوده چې په ترتیب سره ۰.۸ سلنه او ۰.۷ سلنه وه؛ ورپسې کرنه او تولید په ترتیب سره ۰.۳ او ۰.۵ سلنه وده کړې ده.

**د انفلاسیون نرخ:** د درېمې ربعې په پای کې په بریتانیا کې د انفلاسیون نرخ ۱.۲ سلنه ثبت شوی چې د دویمې ربعې د ۱.۹ سلنې په پرتله ټیټ دی. د ټرانسپورټ او د یو لړ تفریحي توکو د لګښتونو کمېدل هغه عمده عوامل ؤ چې د انفلاسیون د عمومي نرخ د لوېدو سبب شوی دی.

د ۲۰۱۴ زیږدیز کال تر سپتمبر میاشتې پورې د خوړو او موټرو د سونګ توکو بیې په ترتیب سره ۱.۵ سلنه او ۶.۰ سلنه کمې شوې دي. د سترو پلورنځیو ترمنځ د سیالۍ زیاتېدل، د پاونډ ارزښت لوړېدل او د اومه نفتو او پټرولیم بیو کمېدل د انفلاسیون نرخ د راښکته کېدو لاملونه ګڼل کېدای شي.

۳.۱ ګراف: د انګلستان د انفلاسیون میاشتنی نرخ




سرچینه: د بریتـــانیاد احصائیې دفتر (ONS)

۴.۱ ګراف: د انګلستان د سوداګرۍ بیلانس (د موسمي تعدیلاتو په اساس)




سرچینه: د بریتـــانیا د احصائیې دفتر

**د بېکارۍ نرخ:** د ۲۰۱۴ زیږدیز کال په دریمه ربعه کې د بریتـــانیا د بېکارۍ نرخ ۶.۰ سلنه ښودل شوی چې د تېرې ربعې د ۶.۳ سلنې او د تېر کال د ورته ربعې د ۷.۶ سلنې په پرتله راټیټ شوی دی.

**نړیواله سوداګري:** د بریتـــانیا د سوداګرۍ کسر په دریمه ربع کې ۲.۸ میلیارده پاونډه اټکل شوی چې د تېرې ربعې د ۲.۲۸۶ میلیارده پاونډو په پرتله زیات شوی، خو کچه یې د تېر کال د ورته ربعې د ۴.۲ میلیارده پاونډو په وړاندې د پام وړ ټيټوالی موندلی دی.

جرمني د بریتـــانیا ترټولو لوی سوداګریز شـریـک پـاتې شوی دی چې زیاتره سوداګریزه مهم کسر یې له هـمدې پلوه رامنځته شوی، په داسې حال کې چې له امریکې سره د بریتـــانیا د سوداګرۍ ډېریدنه (مازاد) د تېرو ۸ کـلـونـو راپدېخوا ترټولو ښکته حد کې واقع شوی ده؛ که څه هـم له چین او هانکانګ سره د دې هېواد سوداګریز کسر ډېر کموالی موندلی دی.

### ۳.۱ د جرمني اقتصاد

**د کورني ناخالصه تولیداتو وده:** د جرمني د اقتصاد ارزښت د دریمې ربعې په پای کې (د ربعې پـه ربعـې بـنسـټ) ۷۳۹.۶۰ میلیارده یورو اټکل شوی دی چې د تېرې ربعې د ډېر لږ کمښت وروسته ۰.۱ سلنه وده ښکاره کوي. سره له دې، په دریمه ربعه کې د کورني ناخالصه تولیداتو وده د تېر کال د ورته ربعې د ۰.۳ سلنې په پرتله لږه ده.

د جرمني اقتصاد په دوېمه ربعه کې د یـو څـه کـمـوالي وروسته، په دریمه ربعه کې تر ۰.۱ سلنې پورې نسبتاً مثبتـه وده درلودلې ده.

کورنی نهایي لګښتونو، د حکومت لګښتونو او صادراتو د جرمني پر دې ودې مثبته اغېزه درلودلې، پـه داسې حـال کې چې د تولیزې پانګې ترکیب او د توکو زېرمې په دې موده کې لږې شوي دي.

**د انفلاسیون نرخ:** د مصرفي توکو د بيې شاخص (کال پـه کال) د دریمې ربعې په پای کې ۰.۸ سلنه اټـکـل شـوی، چې د تېرې ربعې په پرتله ۲ سلنه راښکته شوی، خو د تېـر کال د ورته ربعې د ۱.۴ سلنې په پرتلـه د پـام وړ انـدازه لوېدلی دی. په روان کال کې د انفلاسیون تر ټولو لوړ نرخ

۱.۳ سلنه ثبت شوی؛ په داسې حال کې چې تر ټولو ټیټه کچه یې ۰.۸ سلنه وه.

۵.۱ ګراف: د جرمني د انفلاسیون نرخ، د ۲۰۱۳ له سپتمبر څخه د ۲۰۱۴ تر سپتمبر پورې (کال په کال)




سرچینه: فدرال احصائیي دفتر (Destatis)

**د بېکارۍ نرخ:** په جرمني کې د بېکارۍ نرخ د تېرې (دویمې) ربعې په پرتله په دریمه ربعه کې ثابت پاتې شوی دی. د فدرال د احصائیي اداري لخوا د خپاره شویو شمېرو له مخې د ۲۰۱۴ کال په دریمه ربعه کې په جرمني کې د بېکارۍ نرخ د دویمې ربعې په شان ۵ سلنه پاتې شوی دی، که څه هم د تېر کال د ورته ربعې په پرتله تر ۳ سلنې پورې راښکته شوی دی.

**نړیواله سوداګري:** جرمني د دریمې ربعې په پای کې د سوداګرۍ په برخه کې په پرله پسې توګه له ۲۱.۹ میلیارده یورو ډېریدنې (مازاد) څخه برخمنه شوې، چې د همدې کال د دویمې ربعې په پای کې د ۱۶.۶ میلیارده یورو او د تېر کال د ورته مودې د ۲۰ میلیارده یورو څخه یې کچه لوړه ده.

د دریمې ربعې په پای کې جرمني د اروپايي اتحادیې غړو هېوادونو ته د ۵۸.۶ میلیارده یورو، د یورو سیمې هېوادونو ته د ۳۶.۵ میلیارده یورو، د اروپايي اتحادیې هېوادونو ته چې د یورو سیمې پورې تړلي نه دي تر ۲۲.۲ میلیارده یورو او نورو هېوادونو ته د ۴۳.۸ میلیارده یورو په ارزښت توکي صادر کړي دي.

۶.۱ ګراف: د جرمني سوداګري، د ۲۰۱۳ له سپتمبر څخه د ۲۰۱۴ تر سپتمبر پورې (په میلیارد یورو)




سرچینه: فدرال احصائیي دفتر

د یادولو وړ ده چې جرمني په تېرو دوو لسیزو کې په اوسط ډول ۸.۵ میلیارده یورو سوداګریزه ډېریدنه (مازاد) درلودلې ده. د ۲۰۱۴ کال تر سپتمبر پورې د دې هېواد تولیزه سوداګریزه ډېریدنه ۱۵۸.۹۰ میلیارده یورو ته ورسېده او تمه کېږي چې د کال تر پایه پورې له ۲۰۰ میلیارده یورو څخه واوړي.

۷.۱ ګراف: د جرمني د سوداګرۍ کلنۍ بیلانس (په میلیارد یورو)




سرچینه: فدرال احصائیي دفتر (Destatis)

**۴.۱ د فرانسې اقتصاد**

د ۲۰۱۴ زیږدیز کال په درېمه ربعه کې د فرانسې اقتصاد رغېدنه پیل کړه. د فرانسې د درې میاشتني راپور د لومړني پایلې له مخې چې د ۲۰۱۴ کال د نوامبر په ۱۴ مه خپور شوی، د فرانسې اقتصاد په درېمه ربعه کې ۰.۳ سلنه وده درلودلې ده.

د دې ودې ستر عوامل په کورني مصرفي لګښتونو، د حکومت په عمومي لګښتونو او د توکو په تولید او خدمتونو کې تر ۵ سلنې پورې وده ښودل شوې ده، دا وده د ۲۰۱۴ کال په دوېمه ربعه کې ۸ سلنه ټیټه شوې وه.

**د انفلاسیون نرخ:** فرانسې د ۲۰۱۴ کال د درېمې ربعې په پای کې ۰.۴ سلنه دیفلاسیون درلود، په داسې حال کې چې د تېر کال په ورته موده کې ۰.۳ سلنه انفلاسیون یې آزمایلی ؤ.

**د بېکارۍ نرخ:** د فرانسې د بېکارۍ نرخ د ۲۰۱۴ کال د درېمې ربعې په پای کې ۱۰.۵ سلنه ؤ چې د تېرې ربعې د ۱ سلنې او د تېر کال د ورته ربعې د ۲ سلنې په پرتله لوړ شوی دی.

**۸.۱ ګراف: د فرانسې غیر متراکم کورني ناخالصه تولیدات**




*سرچینه: د احصائیې او اقتصادي چارو د څېړنې ملي انستیتیوټ (INSEE)*

**نړیواله سوداګري:** په دوېمه ربعه کې د ۱ سلنې منفي ودې وروسته د فرانسې صادراتو د همدې کال په درېمه ربعه کې بېرته وده موندلې ده چې ۵ سلنه لوړوالی ښکاره کوي چې ستري سرچینې یې درمل جوړونه، کوک سکاره او پترولیم په ګوته شوي دي. همدا ډول واردات په درېمه ربعه کې ۱.۱ سلنه زیات شوي دي، په داسې حال کې چې په درېمه ربعه کې یې ۳ سلنه زیاتوالی درلود. بهرنۍ سوداګرۍ په درېمه ربعه کې په ټولیزه ناخالصه کورني تولیداتو کې ۲ سلنه منفي ونډه درلوده.

**۵.۱ د جاپان اقتصاد**

جاپان په درېمه ربعه کې د تمې خلاف ژور اقتصادي رکود درلود چې لامل یې په دوېمه ربعه کې د دې هېواد د اقتصاد شدیده انقباضي حالت ؤ. د جاپان کابینې د دفتر د دوېم ځل لومړني اټکلونو له مخې د جاپان اقتصادي وده په درېمه ربعه کې لاکمه شوه او تر ۰.۴۸ سلنې پورې ورسیده چې ارزښت یې ۵۲۳.۷۶ میلیارده ین ؤ. د دې رکود مهم لامل په اپریل میاشت کې د عامه پور د محدودولو په موخه تر ۸ سلنې پورې د مالیې لوړول ویل شوي دي.

**۹.۱ ګراف: د جاپان حقیقي کورني ناخالصه تولیدات (د موسمي تعدیلاتو پر اساس)**




*سرچینه: د جاپان د کابینې دفتر*

**د انفلاسیون نرخ:** په درېمه ربعه کې د جاپان د انفلاسیون نرخ ۳.۲۸ سلنه ښودل شوی (کال په کال) چې د تېرې ربعې او د تېر کال د ورته ربعې په پرتله راښکته شوی دی.

۱.۱۰ ګراف: د جاپان د انفلاسیون میاشتنی نرخ، ( کال په کال سلنې تغییرات)




*سرچینه: د جاپان د کورنیو چارو او اړیکو وزارت*

**د بېکارۍ نرخ:** د جاپان د بېکارۍ نرخ د درېمې ربعې په پای کې ۳.۶ سلنه ښودل شوی چې د تېرې ربعې په پرتله څه نا څه لوړ شوی خو د تېر کال د ورته ربعې په پرتله بیا ۴ سلنه ټیټ شوی دی.

**نړیواله سوداګري:** د ۲۰۱۴ کال په درېمه ربعه کې د خدمتونو او توکو د تولیزه صادراتو ارزښت ۲۲،۴۹۱ میلیارده ین ؤ، په داسې حال کې چې د خدمتونو او توکو د تولیزه وارداتو ارزښت بیا ۱۹،۸۹۲.۸ میلیارده ین ښودل شوی دی. په درېمه ربعه کې د ۲،۵۹۸.۷ میلیارده ین په ارزښت خالصه صادرات ترسره شوي چې د تېرې ربعې په پرتله ۴.۶ سلنه ټیټوالی خو د تېر کال د ورته ربعې د ۱،۹۹۲ میلیارده ین په پرتله بیا تر ۳۰ سلنې پورې لوړوالی ښکاره کوي.

## ۲. راغوړېدلي اقتصادونه

### ۱.۲. د روسیې اقتصاد

د نړیوال بانک د شمېرو له مخې د ۲۰۱۴ کال په درېمه ربعه کې د روسیې اقتصادي وده ۰.۷ سلنه ښودل شوې (کال په کال) چې کچه یې د دوېمې ربعې د ۰.۸ سلنې او د لومړۍ ربعې د ۰.۹ سلنې څخه راټیټه شوې ده. د اکراین د کړکېچ په سر یو لړ لګول شوي بندیزونه او د نفتو د بیې غورځېدل هغه مهم عوامل دي چې د دې هېواد اقتصادي وده یې سوکه کړې ده.

**د انفلاسیون نرخ:** د ۲۰۱۴ کال په تېرو پرله پسې لومړۍ او دوېمه ربعو کې د انفلاسیون نرخ له ثبات وروسته، په درېمه ربعه کې د بیې عمومي سطح لوړه شوې ده. د فدرال احصائیوي خدمتونو د اداري لخوا د خپاره شوي شمېرو له مخې په درېمه ربعه کې (کال په کال) د انفلاسیون کچه ۱.۵ سلنه وه. د امریکایي ډالرو په وړاندې د روسي روبل د ارزښت کمېدنه او د دې ترخنګ پر روسیې باندې لګول شوي بندیزونه ښایي په دې هېواد کې د بیو د لوړېدلو لامل شوی وي.

**د بېکارۍ نرخ:** په روسیه کې د تېرې ربعې په پرتله د ۲۰۱۴ کال په درېمه ربعه کې د بېکارۍ نرخ لږ څه راټیټ شوی دی. د فدرال احصائیوي خدمتونو اداري د شمېرو له مخې په درېمه ربعه کې د بېکارۍ نرخ په منځنۍ ډول ۴.۹ سلنه ښودل شوی چې د تېرې ربعې په پرتله ۱ سلنه خو د تېر کال د ورته ربعې په پرتله ۵.۲ سلنه د پام وړ ټیټوالی ښکاره کوي.

**نړیواله سوداګري:** د تېر کال په درېمه ربعه کې د سوداګرۍ ډېریدنه (مازاد) د ۳.۸ سلنې په اندازه زیاته شوه چې ۴۵ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسېده خو دا ډېریدنه د

تېرې ربعې په پرتله لږه وه. روسیه د اوړدې مودې راهیسې له سوداګریزې ډېریدنې څخه برخمنه ده. د تېرو ۵ کلونو معلوماتو په پام کې نیولو سره تر ټولو لوړه ډېریدنه د ۲۰۱۲ کال (د ربعې په ربعې بنسټ) په لومړۍ ربعه کې ثبت شوې وه چې ۵۸.۷ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسېده، په داسې حال کې چې تر ټولو ټیټه ډېریدنه د ۲۰۱۰ کال په دریمه ربعه کې ثبت شوې چې شاوخوا ۲۸ میلیونه امریکایي ډالره ؤ.

۱۱.۱ ګراف: د روسیې د سوداګرۍ درې میاشتنی بیلانس (په میلیارد ډالر)




*سرچینه: د روسیې مرکزي بانک*

## ۲.۲ د چین اقتصاد

د ۲۰۱۴ کال د سپتمبر په پای کې چین خپل تر ټولو ټیټه اقتصادي وده تجربه کړه. د دغه هېواد کلنۍ وده ۷.۳ سلنه ثبت شوې چې د دوېمې ربعې د ۷.۵ سلنې او د لومړې ربعې د ۷.۴ سلنې څخه ټیټه ده. همدارنګه په دریمه ربعه کې د اقتصادي ودې نرخ د تېر کال د همدې ربعې د ۷.۸ سلنې څخه لږ ؤ.

د ناخالصه کورني تولیداتو د محاسبې د لومړنیو پایلو له مخې چې د چین د احصائیې د ملي ادارې لخوا خپره شوې، د دریمې ربعې د ودې اصلي لامل د عمده او پرچونه سوداګرۍ غوره فعالیت په ګوته شوی چې ۹.۷ سلنه وده یې درلوده، وروسته د مالي وساطت وده ۹.۱ سلنه او د ودانیزې برخې وده ۹.۰ سلنه ثبت شوې ده. له دې سربېره کرنیزو محصولاتو او صنعتي تولیداتو ښه پرمختګ کړی دی چې د دې هېواد د اقتصاد په پراختیا کې یې مثبته ونډه درلودلې ده.

۱۲.۱ ګراف: د چین د اقتصادي ودې نرخ (کال په کال سلنې تغیرات)




*سرچینه: د کار، ټولنیزو چارو او علمي احصائیې وزارت، د فدرالي دولت احصائیوي خدمتونه*

۱۳.۱ ګراف: د چین د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ




*سرچینه: د چین د احصائیې ملي اداره*

**د انفلاسیون نرخ:** د دریمې ربعې په پای کې د کلنۍ بیو کچه ۱.۶ سلنه ثبت شوې، چې کچه یې د دوېمې ربعې د ۲.۳ سلنې او د لومړې ربعې د ۲.۴ سلنې په پرتله راښکته شوې ده.

په ښاري سیمو کې بیې تر ۱.۷ سلنې پورې لوړې شوې، په داسې حال کې چې په کلیوالو سیمو کې دغه نرخ ۱.۴ سلنه ؤ. د هر یو د خوراکي توکو او خدمتونو بیې تر ۲.۳

سلنې پورې زیاتې شوې دي، په داسې حال کې چې د غیر خوراکي توکو بیې تر ۱.۳ سلنې پورې زیاتې شوې دي. له جنوري څخه تر سپتمبر پورې د تولیزه مصرفي توکو د بیې شاخص د تېر کال د ورته دورې په پرتله ۲.۱ سلنه پورته شوې دی.

**د بېکارۍ نرخ:** په چین کې د بېکارۍ نرخ د تېرې ربعې په شان په ثابته توګه یعني ۴.۱ سلنه پاتې شوې دی.

۱۴.۱ ګراف: د چین د مصرفي توکو د بیې شاخص




**نړیواله سوداګري:** د درېمې ربعې په پای کې د چین د تولیزه صادراتو کچه ۱.۳۲ تریلیون یوان ته ورسیده، په داسې حال کې چې د تولیزه وارداتو ارزښت یې ۱.۱۲ تریلیون یوان و چې ۱۹۰.۱ میلیارده یوان ډېریدنه ښکاره کوي.

د ۲۰۱۴ کال په لومړیو درېو ربعو کې د چین د تولیزه صادراتو ارزښت ۱.۷ تریلیون امریکایي ډالره ؤ، په داسې حال کې چې د تولیزه وارداتو ارزښت یې ۱.۴۶ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیده. د تېر کال په پرتله صادرات ۵.۱ سلنه او واردات ۱.۳ سلنه زیات شوي دي؛ د دې ترڅنګ د سوداګرۍ ډېریدنه یې ۳۷.۸ سلنه لوړه شوې ده.

### ۳.۲ د ترکیې اقتصاد

د ترکیې د کورني ناخالصه تولیداتو وده په درېمه ربعه کې ۱.۷ سلنه وه چې د تېرو دوو ربعو او د تېر کال د ورته ربعې په پرتله ښکته شوې ده. د ودې اصلي لاملونه د مالي، بیمې او تولیدي صنعتونو پرمختګ ښودل شوی دی.

۱۵.۱ ګراف: د ترکیې د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ (د ربعې په اساس)




*سرچینه: د ترکیې د احصائیې اداره*

**د انفلاسیون نرخ:** د درېمې ربعې په پای کې د انفلاسیون کلنی نرخ ۸.۸۶ سلنې ته رسیده چې د تېرې ربعې د ۹.۱۶ سلنې په پرتله ټیټ خو د تېر کال د ورته ربعې د ۶.۴۳ سلنې په پرتله لوړ ؤ.

**د بېکارۍ نرخ:** د ترکیې د بېکارۍ نرخ د درېمې ربعې په پای کې ۱۰.۵ سلنه ښودل شوی چې د تېرې ربعې د ۹.۱ سلنې او د تېر کال د ورته ربعې د ۹.۲ سلنې په پرتله کم شوی دی.

۱۶.۱ ګراف: د ترکیې د بېکارۍ میاشتنی نرخ




*سرچینه: د ترکیې د احصائیې اداره*

**نړیواله سوداګري:** د ترکیې اقتصاد د خو کلونو راپدېخوا له سوداګریز کسر څخه ځوریږي. د دریمې ربعې په پای کې د دې هېواد د سوداګرۍ کسر ۷ میلیارده امریکایي ډالره ؤ چې د تېرې ربعې د ۷.۹ میلیارده امریکایي ډالرو او همدا شان د تېر کال د همدې ربعې په پرتله ۵۰۰ میلیونه امریکایي ډالرو پورې کم شوی دی.

۱۷.۱ ګراف: د ترکیې د سوداګرۍ میاشتنی بهیر (میلیون ډالر)




*سرچینه: د ترکیې د احصائیې اداره*

### ۴.۲. د هند اقتصاد

د هند اقتصاد د ۲۰۱۴ زیږدیز کال په دریمه ربعه کې ۳.۲ سلنه کلنۍ وده ثبت کړې ده. دا وده د تېرې ربعې په پرتله تر ۶ سلنې پورې راښکته شوې ده. برښنا، ګاز، اوبه رسونه، ودانیز، ټولنیز او شخصي خدمتونه، بیمه او جایدادونه او داسې نور د دې ودې اصلي لاملونه دي.

**د انفلاسیون نرخ:** د ۲۰۱۴ زیږدیز کال په دریمه ربعه کې د انفلاسیون نرخ ۴.۶۴ سلنه دی (کال په کال)، چې د تېرې ربعې د ۷.۷۳ سلنې او د تېر کال د ورته ربعې د ۹.۸۴ سلنې څخه کم دی.

**نړیواله سوداګري:** د دریمې ربعې په پای کې د هند د تولیدي توکو د صادراتو ارزښت ۱۶۳.۷ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیده، په داسې حال کې چې د وارداتو ارزښت یې ۲۳۴.۱ میلیارده امریکایي ډالره ؤ چې ۷۰.۴ میلیارده امریکایي ډالره کسر ښکاره کوي. د تېر کال د ورته دورې په پرتله یې صادرات ۶.۴۴ سلنه او واردات۱.۵۶ سلنه زیات شوي دي او د سوداګرۍ تشه تر ۸.۲ سلنې پورې راکمه شوې ده.

### اخځلیکونه

*www.treasurydirect.gov*
*www.bea.gov*
*www.bls.gov*
*www.ons.*
*www.ons.gov.uk*
*www.destatis.de*
*www.insee.fr*
*www.cao.go.jp*
*www.soumu.go.jp*
*www.mof.go.jp*
*www.cbr.ru*
*www.gks.ru*
*www.stats.gov.cn*
*english.customs.gov.cn*
*www.turkstate.gov.tr*
*www.rbi.org.in*
*www.mospi.nic.in*
*www.oecd.com*
*www.reuters.com*
*www.bloomberg.com*

# ۲

# د پانګې او پولي بازار پرمختګونه

# ۲

# د پانګې او پولي بازار پرمختګونه

دا څپرکی د ۱۳۹۳ مالي (۲۰۱۴) کال په دریمه ربعه کې د پانګې او پولي بازار د سکتور د پرمختګونو په اړه مفصل راپور وړاندې کوي. له دې سربېره، دا څپرکی د افغانستان د پانګې او پولي بازار د پیاوړتیا او غښتلتیا په موخه د افغانستان بانک پر کړنو او رول باندې هم رڼا اچوي.

### ۱. پولي پروګرام

د پولي سیاست د کاري اداني له مخې، پولي زیرمې په دریمه ربعه کې د یو مهم عملیاتي هدف او د کړنو د معیار په توګه عمل کړی، په داسې حال کې چې په ګردښت کې پیسې د ضمني هدف په توګه د افغانستان بانک د لومړني موخې یعنې د کورنیو بیو د ثبات لپاره طرحه شوی دی.

د افغانستان بانک د دې لپاره پولي سیاست تطبیقوي چې کورني عمومي بیې ثابتې وساتي او له اوږد مهاله انفلاسیون او دیفلاسیون څخه مخنیوی وکړي. د افغانستان بانک نقدینه ګی د حجم له رژیم څخه کار اخلي چې په مرسته یې کولای شي د پولي سیاست تطبیقول تنظیم کړي. د افغانستان بانک پولي موخې او د دې موخو د ترلاسه کولو په لاره کې پرمختګونه په منظم ډول عامه خلکو او د بازار لوبغاړو ته راپور ورکوي څو د پولي سیاست د وضعیت په اړه اړین معلومات ترلاسه کړي.

د پولي زیرمو (RM) کره مبلغ چې د کورنیو بیو د ثبات ملاتړ کوي، د پیسو د مقداري تیورۍ په کارولو سره ټاکل کیږي. د ۱۳۹۳ مالي (۲۰۱۴) کال لپاره د پولي زیرمو او په ګردښت کې د پیسو د ودې کلني هدفونه هر یو له ۸ سلنې څخه ۱۲.۷ سلنې ته تجدید شوي دي.

د ۱۳۹۳ مالي کال (د ۲۰۱۴ سپتمبر میاشت) د دریمې ربعې په پای کې حقیقي پولي زیرمو د کال د پیل په پرتله ۱۱.۱ سلنه وده درلوده. د کال په پیل کې حقیقي پولي زیرمې ۱۹۸.۷۵۷ میلیارده افغانۍ وې، دا مبلغ د دریمې ربعې په پای کې ۲۰۳.۶۷۳ میلیارده افغانۍ ته ورسېد چې له ټاکلي حد څخه ۲۲.۰۹۸ میلیارده افغانۍ واوښتې. د حقیقي پولي زیرمو د تیز زیاتوالي لوی عوامل په هېواد کې سیاسي او اقتصادي ناډاډمنتیا ښودل شوې چې دا کار لامل شوی څو امریکایي ډالر او نور اسعار د ارزښت د خوندیتوب په توګه وکارول شي. دوېم دا چې تر ارزوني لاندې موده کې پر امنیتي او دفاعي سکتورونو باندې د حکومت زیات لګښتونه هم د دې لامل شوي چې په ګردښت کې د افغانۍ حجم زیات شي.

۱.۲ ګراف: د ۱۳۹۳ کال لپاره پولي زیرمې –۱۲.۷ سلنه




*سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت/د افغانستان بانک*

### ۲. د نقدینه ګۍ حجم

د پولي سیاست لوی آمریت، د نقدینه ګۍ حجم [د محدوده مفهوم په توګه پیسې (M1) او د پراخه مفهوم په توګه پیسې (M2)] د MFS میتودولوژۍ او تعریف له لارې محاسبه کوي. په افغانستان کې د محدوده مفهوم په توګه پیسې ټولې هغه فزیکي پیسې، سکې او رایجې پیسې،

جاري امانتونه؛ او د سوداګریزو بانکونو نورې نقدي شتمنۍ دي چې د افغانستان بانک سره ساتل کېږي. په داسې حال کې چې د پراخه مفهوم په توګه پیسو په پراخه ترکیب کې د هغو مالي شتمنیو د سیالیت درجه ارزول کېږي چې د هر ډول مالي شتمنیو د سیالیت او د ارزښت د خوندیتوب په حدودو تمرکز کوي. (د پیسو نړیوال صندوق).




*سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت/ د افغانستان بانک*

د پراخه مفهوم په توګه پیسې (M2) د تېرې ربعې په پرتله نسبتاً معتدله وده کړې ده. د ۱۳۹۳ مالي کال په دریمه ربعه کې د پراخه مفهوم په توګه پیسې ۳۸۴،۸۵۶ میلیون افغانۍ وې چې د ۱۳۹۲ مالي کال د ورته ربعې د ۶.۵۳ سلنې ودې په وړاندې ۳.۸۲ سلنه زیاتې شوې دي. د پراخه مفهوم په توګه د پیسو د ودې ستر عامل د محدوده مفهوم په توګه پیسو (M1) زیاتېدل په ګوته شوې چې د M2 لویه برخه جوړوي. د M2 بله برخه تر ۷ سلنې پورې منفي وده درلودلې ده. د محدوده مفهوم په توګه پیسې (M1) د ۱۳۹۲ کال د ورته ربعې د ۶.۶ سلنې په پرتله ښکته شوې او په دې ربعه کې یې ۴.۴۵ سلنه وده درلودلې ده.

په همدې حال کې پیسه وزمه (Quasi Money) یا موديزه (میعادي) امانتونه چې د M2 بله برخه جوړوي د تېر کال د ورته ربعې د ۴.۳ سلنې زیاتوالي په پرتله په دې ربعه کې ۷ سلنه کم شوي دي.

له همدې امله د ۱۳۹۳ مالي کال په دریمه ربعه کې د M2 د لږې ودې مهم لامل د M1 کمزوره وده په ګوته شوې ده. په M2 کې د پیسه وزمې ونډه ډېره کمه ده او د همدې لپاره پر M2 باندې د هغه اغېزه ډېر لږه او د پام وړ نه ده.




*سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت/ د افغانستان بانک*

### ۳. خلاصه نړیواله زیرمې

نړیوالې زیرمې چې ورته اسعاري زیرمې هم ویل کېږي، څو تعریفونه لري چې له دې ډلې تر ټولو عام او منل شوی تعریف یې د پیسو دنړیوال صندوق تعریف په دې توګه دی:" د عامه سکتور رسمي بهرني شتمنۍ چې د پولي بنسټونو په واک او کنټرول کې دي او د تادیاتو د نا انډولتیا د مستقیمه تمویل او د دا شان نا انډولتیا د تعادل او توازن لپاره کارول کېږي چې دا کار د اسعارو د تبادلې په بازارونو کې د ملي پیسې د مبادلوي نرخ د اغېزتیا لپاره د مثبتې لاسوهنې له لارې ترسره کېږي. همدا شان اسعاري

زیرمې د نورو موخو لپاره هم کارول کېږي".

د افغانستان بانک په نړیواله زیرمو کې سره زر، د پیسو نړیوال صندوق سره د پور زیرمه او ونډه، د برداشت ځانګړی حق (SDR) او پیاوړي بهرني اسعاري زیرمې لکه امریکایي ډالر، یورو او انګلیسي پاونډ، شامل دي. د افغانستان نړیواله زیرمو د انتقالي حکومت راهیسې صعودي بهیر درلودلی دی چې اصلي لامل یې بهرنی مالي بسپنه ده.

د افغانستان بانک لپاره اړینه ده چې د لاندنیو دلایلو له امله کافي اندازه نړیوالي زیرمې له ځان سره وساتي:

- نړیوالي اسعاري زیرمې د افغانۍ د ارزښت د رسمي حمایت په موخه ساتل کېږي. په کافي اندازه د نړیوالو زیرمو ساتل د افغانۍ د ارزښت د خوندیتوب لپاره ډېر مهم دی.
- نړیوالي زیرمې په ژمنه شوي وخت د نړیوالو تادیاتو ژمنې د ادایني او د دې ترڅنګ د نړیوالي سوداګرۍ د تمویلولو لپاره ډېرې اړیني دي چې له همدې امله د نقدینه زیرمو لپاره د تقاضا د ډېرېدو لامل کېږي چې د سوداګریزو مکلفیتونو د تصفیې لپاره کارول کېدای شي.
- د افغانستان بانک خپلي نړیوالي زیرمې، په ګـردښـت کې د پیسو د مدیریت او د بهرنیو اسعارو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ د ثبات لپاره کاروي.
- د افغانستان بانک نړیواله خالصه زیرمې د کال په پیل کې ۶.۶۷۹ میلیارده امریکایي ډالره ثبت شوې وې چې د ۱۳۹۳ مالي(۲۰۱۴) کال د دریمې ربعې په پای کې ۶.۷۷۱ میلیارده امریکایي ډالرو ته ورسېدې. د افغانستان بانک په ټولیزه توګه ۲.۳۷۳ میلیارده امریکایي ډالره د بازار د تقاضا د پوره کولو او د مهمو اسعارو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ له بې ځایه خوځښت او بې ثباتۍ څخه د مخنیوي لپاره لیلام کړي دي.

۴.۲ ګراف: خالصه نړیواله زیرمې د ۱۳۹۳ (۲۰۱۴) کال په دریمه ربعه کې




*سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت/ د افغانستان بانک*

**۲.۱ جدول: د نقدینه ګۍ حجم، د ۱۳۹۳ کال دریمه ربعه (د ۲۰۱۴ کال د جولای له ۲۱ څخه د سپتمبر تر ۲۰ پورې)، په میلیون افغانۍ**

| | ۱۳۹۱، دریمه ربعه | ۱۳۹۲، دریمه ربعه | کال په کال بدلون | توپیر | ۱۳۹۳، دریمه ربعه | کال په کال بدلون | توپیر |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | مبلغ | مبلغ | | | مبلغ | | |
| **۱– خالصه بهرني شتمنۍ** | **402,836** | **477,519** | **18.5%** | **74,682** | **455,865** | **-4.53%** | **-21,654** |
| (الف) بهرني شتمنۍ | 431,860 | 509,707 | 18.0% | 77,847 | 483,699 | -5.10% | -26,008 |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| -18,252 | -4.37% | 398,942 | 57,738 | 16.1% | 417,195 | 359,457 | د افغانستان بانک اسعاري زیرمې |
| -12,915 | -21.37% | 47,509 | 2,790 | 4.8% | 60,424 | 57,634 | سره زر |
| -5,337 | -1.50% | 351,433 | 54,947 | 18.2% | 356,770 | 301,823 | نور |
| -7,756 | -8.38% | 84,757 | 20,109 | 27.8% | 92,513 | 72,404 | نورې بهرنۍ شتمنۍ |
| -4,354 | -13.53% | 27,834 | 3,165 | 10.9% | 32,189 | 29,024 | (ب) بهرنۍ پورواینې |
| **45,541** | **-39.07%** | **-71,009** | **-45,136** | **63.2%** | **-116,551** | **-71,415** | **۲. خالصه کورنۍ شتمنۍ** |
| 39,670 | -69.01% | -17,812 | -11,020 | 23.7% | -57,482 | -46,463 | (ب) خالص کورني کریډېټ |
| 40,937 | -39.44% | -62,850 | -16,850 | 19.4% | -103,787 | -86,937 | د غیر مالي عامه سکتور لپاره خالص کریډېټ |
| 40,804 | -39.42% | -62,718 | -16,786 | 19.4% | -103,522 | -86,736 | د مرکزي حکومت لپاره خالص کریډېټ |
| -743 | -2.19% | 33,206 | 1,160 | 3.5% | 33,949 | 32,789 | د مرکزي حکومت لپاره کریډېټ |
| -41,547 | -30.22% | 95,924 | 17,946 | 15.0% | 137,471 | 119,525 | د مرکزی حکومت لپاره پورواینې |
| 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0 | 0 | سیمه ایزه حکومت لپاره خالص کریډېټ |
| 133 | -50.16% | -132 | -64 | 31.9% | -265 | -201 | د عامه غیر مالي شرکتونو لپاره خالص کریډېټ |
| -1,466 | -3.08% | 46,188.21 | 6,380 | 15.5% | 47,654 | 41,274 | د خصوصي سکتور لپاره کریډېټ |
| 199 | -14.74% | -1,150.46 | -549 | 68.7% | -1,349 | -800 | د نورو مالي شرکتونو لپاره خالص کریډېټ |
| -5,414 | -5.16% | 99,419 | 26,466 | 33.8% | 104,833 | 78,367 | (ب) د پانګې حسابونه |
| 458 | 1.00% | 46,222 | -7,651 | -14.3% | 45,764 | 53,415 | (ت) نور خالص اقلام |
| **23,888** | **6.62%** | **384,856** | **29,546** | **8.9%** | **360,968** | **331,422** | **۳ – د پراخه مفهوم په توګه پیسې (M2)** |
| 25,850 | 7.59% | 366,299 | 27,722 | 8.9% | 340,449 | 312,727 | د محدوده مفهوم په توګه پیسې (M1) |
| 35,188 | 23.26% | 186,443 | 8,005 | 5.6% | 151,255 | 143,250 | په ګردښت کې پیسې (CIC) (هغه پیسې چې د امانات ایښودونکو شرکتونو څخه بهر دي) |
| -9,338 | -4.94% | 179,856 | 19,718 | 11.6% | 189,195 | 169,477 | جاري امانتونه |
| -1,962 | -9.56% | 18,556 | 1,824 | 9.8% | 20,519 | 18,695 | نور امانتونه (پیسه وزمه) |
| -2,870 | -35.25% | 5,272 | 650 | 8.7% | 8,142 | 7,492 | په افغانۍ |
| 908 | 7.34% | 13,285 | 1,174 | 10.5% | 12,377 | 11,203 | په بهرنیو اسعارو |
| 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | له ونډو (سهام) پرته په دولتي او غیر دولتي پورونو کې د پانګې اچونې پانې (Securities) |

*سرچینه: د پولي سروې مدیریت/د پولي سیاست لوی آمریت/ د افغانستان بانک*

## ۴. د اسعارو د مبادلې بازار

د افغانستان بانک د مبادلې له مدیریت شوي نرخ له رژیم څخه کټه اخلي او د بازار لخوا د اضافه عرضه شویو پیسو د تصفیې، د افغانی د ارزښت خوندي ساتلو، د اسعاري زیرمو د غوره وضعیت د ټینګیدلو او د بهرني بیلانس څخه د ډاډمنتیا په موخه، بې له دې چې د ملي اقتصاد د ثبات په کُلي موخو جوړ جاړی وکړي، د اسعارو په بازار کې په منظم ډول مثبته لاسوهنه کوي. د ۱۳۹۳ مالي کال په دریمه ربعه کې د افغانی ارزښت د ځینو مهمو اسعارو په وړاندې لوړ شوی دی.

د ۲۰۱۴ کال په دریمه ربعه کې په نړیوال بازارونو کې د امریکايي ډالرو د ارزښت لوړیدو سره سره د افغانستان بانک وکړای شول چې د امریکايي ډالرو په وړاندې د افغانی د مبادلې نرخ په غوره حد کې خوندي وساتي. په ۱۳۹۳ مالي کال کې د امریکايي ډالرو په وړاندې د افغانی د مبادلې د اوسط نرخ ورځنۍ شرحه په لاندې ګراف کې ښودل شوې ده.



۵.۲ ګراف: د افغانی/امریکايي ډالرو د مبادلې ورځنۍ اوسط نرخ

*سرچینه:د پولي سیاست لوی آمریت / د افغانستان بانک*

همدارنګه د افغانی ارزښت د یورو په وړاندې ۶.۳۷ سلنه، د پاونډ په وړاندې ۹.۰۲ سلنه او د هندي روپۍ په وړاندې ۱.۳۷ سلنه زیات شوی دی. د دې ترڅنګ افغانی د پاکستاني روپۍ په وړاندې ۴.۱۱ سلنه او د ایراني ریال په وړاندې ۱.۶۷ سلنه لوړه شوې ده.




۶.۲ ګراف: د افغانی په وړاندې د پاونډ او یورو ارزښت




۷.۲ ګراف: د افغانی په وړاندې هندي روپۍ او پاکستاني روپۍ

## ۱.۴ د اسعارو لیلام

د افغانستان بانک د آزاد بازار د عملیاتو په اډانه کې په بازار کې لاسوهنه کوي او د یو روڼ بهیر په ترڅ کې په اونۍ کې دوه ځلې په جواز لرونکو سوداګریزو بانکونو او صرافانو باندې د لیلام له لارې اسعار پلوري. د اسعارو د لیلام اصلي هدف د پیسو د عرضې کنټرولول او د افغانی د اسمي مبادلې نرخ له بې ثباتۍ څخه مخنیوی دی.

د ۱۳۹۳ کال په لومړیو ۹ میاشتو کې د افغانستان بانک په ټولیزه توګه ۲.۳۷۳ میلیارده امریکايي ډالره لیلام کړي دي،

دا په داسې حال کې ده چې په همدې موده کې ټوليزه تقاضا ۳.۳۳۲ ميلیارده امريکايي ډالره وه. په اوسط ډول په هر ليلام کې ۳۳ ميليون امريکايي ډالره ليلام شوي دي.

### ۲.۲ جدول: د ۱۳۹۳ مالي کال په دريمه ربعه کې د اسعارو ليلام

| د ليلام نېټه | د بازار د مبادلې نرخ | ټاکل شوی نرخ | اعلان شوی مبلغ | ورکړل شوی مبلغ | غوښتل شوی مبلغ |
|---|---|---|---|---|---|
| 24-Dec-13 | 56.75 | 56.64 | 50.00 | 50.25 | 75.10 |
| 28-Dec-13 | 56.27 | 56.12 | 50.00 | 49.93 | 65.78 |
| 31-Dec-13 | 56.01 | 55.92 | 40.00 | 39.80 | 69.35 |
| 4-Jan-14 | 56.37 | 56.40 | 35.00 | 34.55 | 59.95 |
| 7-Jan-14 | 56.17 | 56.18 | 30.00 | 19.65 | 50.75 |
| 11-Jan-14 | 56.75 | 56.84 | 25.00 | 25.60 | 47.35 |
| 14-Jan-14 | 56.95 | 56.84 | 25.00 | 24.65 | 32.20 |
| 18-Jan-14 | 56.85 | 56.87 | 25.00 | 25.30 | 39.15 |
| 21-Jan-14 | 56.71 | 56.65 | 25.00 | 19.65 | 35.80 |
| 25-Jan-14 | 57.04 | 57.00 | 25.00 | 20.10 | 30.90 |
| 28-Jan-14 | 57.20 | 57.18 | 30.00 | 29.85 | 40.20 |
| 1-Feb-14 | 57.07 | 57.06 | 30.00 | 24.00 | 36.95 |
| 4-Feb-14 | 56.81 | 56.80 | 25.00 | 9.25 | 27.50 |
| 8-Feb-14 | 57.14 | 57.16 | 20.00 | 19.70 | 33.42 |
| 11-Feb-14 | 57.14 | 57.12 | 20.00 | 20.50 | 28.45 |
| 16-Feb-14 | 57.26 | 57.22 | 20.00 | 17.05 | 22.70 |
| 18-Feb-14 | 57.21 | 57.20 | 20.00 | 19.65 | 25.50 |
| 22-Feb-14 | 57.20 | 57.16 | 20.00 | 19.85 | 25.95 |
| 25-Feb-14 | 57.32 | 57.32 | 20.00 | 24.10 | 30.95 |
| 1-Mar-14 | 57.41 | 57.39 | 30.00 | 30.00 | 38.60 |
| 4-Mar-14 | 57.65 | 57.64 | 30.00 | 35.20 | 44.65 |
| 8-Mar-14 | 57.48 | 57.30 | 40.00 | 30.90 | 36.30 |
| 12-Mar-14 | 57.44 | 57.16 | 35.00 | 30.25 | 32.25 |
| 15-Mar-14 | 57.30 | 57.11 | 35.00 | 34.75 | 39.25 |
| 18-Mar-14 | 57.20 | 57.12 | 35.00 | 34.70 | 50.95 |
| 23-Mar-14 | 57.31 | 57.27 | 25.00 | 25.35 | 35.35 |
| 25-Mar-14 | 57.26 | 57.23 | 25.00 | 24.50 | 37.95 |
| 29-Mar-14 | 57.40 | 57.40 | 25.00 | 30.05 | 40.25 |
| 1-Apr-14 | 57.61 | 57.53 | 35.00 | 34.45 | 49.50 |
| 8-Apr-14 | 57.09 | 56.96 | 60.00 | 51.65 | 72.15 |
| 12-Apr-14 | 57.15 | 57.16 | 30.00 | 33.05 | 49.65 |
| 15-Apr-14 | 57.07 | 57.00 | 35.00 | 34.45 | 43.85 |
| 19-Apr-14 | 57.11 | 57.05 | 30.00 | 32.65 | 39.10 |
| 22-Apr-14 | 57.06 | 57.02 | 30.00 | 31.45 | 45.55 |
| 26-Apr-14 | 57.12 | 57.12 | 30.00 | 31.20 | 46.60 |
| 29-Apr-14 | 57.25 | 57.24 | 30.00 | 30.70 | 45.00 |
| 3-May-14 | 57.22 | 57.20 | 40.00 | 34.75 | 56.40 |
| 6-May-14 | 57.28 | 57.30 | 30.00 | 28.20 | 48.55 |
| 10-May-14 | 57.32 | 57.31 | 30.00 | 31.60 | 43.15 |
| 13-May-14 | 57.35 | 57.32 | 35.00 | 36.50 | 44.50 |
| 17-May-14 | 57.55 | 57.49 | 30.00 | 29.35 | 40.50 |
| 20-May-14 | 57.50 | 57.47 | 30.00 | 30.00 | 43.40 |
| 24-May-14 | 57.64 | 57.60 | 30.00 | 33.85 | 44.05 |
| 27-May-14 | 57.55 | 57.36 | 35.00 | 35.05 | 35.95 |
| 31-May-14 | 57.62 | 57.55 | 35.00 | 34.15 | 47.95 |
| 03-Jun-14 | 57.71 | 57.68 | 35.00 | 34.40 | 54.05 |
| 07-Jun-14 | 57.77 | 57.78 | 35.00 | 41.20 | 54.25 |
| 10-Jun-14 | 57.92 | 57.90 | 40.00 | 41.00 | 61.30 |
| 17-Jun-14 | 57.63 | 57.48 | 60.00 | 60.35 | 85.65 |
| 21-Jun-14 | 57.97 | 57.96 | 35.00 | 35.35 | 55.55 |
| 24-Jun-14 | 57.82 | 57.73 | 40.00 | 39.95 | 49.90 |
| 28-Jun-14 | 57.97 | 57.93 | 40.00 | 40.90 | 55.05 |
| 1-Jul-14 | 57.97 | 57.90 | 40.00 | 39.90 | 50.90 |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 5-Jul-14 | 57.90 | 57.87 | 40.00 | 40.00 | 54.15 |
| 8-Jul-14 | 57.70 | 57.62 | 40.00 | 40.00 | 46.05 |
| 12-Jul-14 | 57.80 | 57.72 | 35.00 | 34.35 | 43.55 |
| 15-Jul-14 | 56.96 | 56.81 | 35.00 | 35.20 | 41.55 |
| 19-Jul-14 | 56.64 | 56.52 | 30.00 | 36.35 | 38.25 |
| 22-Jul-14 | 56.71 | 56.61 | 30.00 | 39.45 | 48.55 |
| 26-Jul-14 | 56.34 | 56.25 | 35.00 | 39.40 | 52.30 |
| 2-Aug-14 | 56.51 | 56.42 | 35.00 | 35.25 | 41.80 |
| 5-Aug-14 | 56.54 | 56.46 | 35.00 | 35.35 | 46.60 |
| 9-Aug-14 | 56.30 | 56.26 | 35.00 | 36.30 | 51.65 |
| 12-Aug-14 | 56.74 | 56.73 | 35.00 | 37.25 | 61.85 |
| 16-Aug-14 | 56.67 | 56.68 | 40.00 | 40.30 | 64.05 |
| 23-Aug-14 | 57.29 | 57.22 | 35.00 | 36.30 | 48.70 |
| 26-Aug-14 | 57.02 | 57.02 | 35.00 | 35.85 | 49.35 |
| 30-Aug-14 | 57.00 | 56.99 | 35.00 | 35.30 | 50.20 |
| 2-Sep-14 | 57.50 | 57.48 | 35.00 | 35.00 | 61.10 |
| 6-Sep-14 | 57.24 | 57.17 | 35.00 | 38.65 | 45.05 |
| 13-Sep-14 | 57.51 | 57.46 | 35.00 | 34.70 | 42.15 |
| 16-Sep-14 | 57.16 | 57.07 | 35.00 | 33.20 | 48.60 |

## ۵. د پانګې بازارونه او د سیالیت وضعیت

### ۱.۵ د پانګه ایزو پاڼو (کپیټل نوټ) لیلام

د افغانستان بانک له پانګه ایزه پاڼو څخه د دوېم پولي ابزار په توګه ګټه اخلي. د افغانستان بانک مجوزو سوداګریزو بانکونو ته هره اونۍ د ۳۶۴ ورځو، ۱۸۲ ورځو او د ۲۸ ورځو د سررسید پانګه ایزه پاڼې صادروي.

د پانګه ایزه پاڼو د صادرولو موخه د سیالیت د مدیریت موضوع ترڅنګ د اسعارو په لیلام باندې د فشار کمول دي؛ د اسعارو لیلام د افغانستان د نړیوالو زیرمو د کمېدو لامل کېږي.

د پانګه ایزه پاڼو تولیزه نا تصفیه شوې کچه د ۱۳۹۳ مالي کال په دریمه ربعه کې ۳۵.۲ میلیارده افغانۍ ثبت شوې ده.

۸.۲ ګراف: د پانګه ایزه پاڼو کچه ( په میلیون افغانۍ)، د ۲۰۱۴ کال د سپتمبر ۱۶ مه



۳

# د پړسوب (انفلاسیون) بهیر او لید لوری

# ۳
## د پړسوب (انفلاسیون) بهیر او لید لوری

د نړۍ اقتصاد د تېرو شپږو کلونو راهیسې د نړیوال مالي کړکېچ د ویجاړوونکو اغېزو سره مبارزه کوي. د امریکې، انګلستان او د اروپايي ټولنې په ګډون ستر اقتصادونه د بشپړ مالي ناکامي ترڅنګ له بې ساري زیاتې بېکارۍ او د کورني ناخالصه تولیداتو په نسبت له ستر او بې ثباته ملي پورونو سره مخامخ شوي دي. د نړۍ پر اقتصاد باندې د نړیوال مالي کړکېچ اغېزه دومره ژوره ده چې ډېرى اقتصاد پوهان ورته آن "لوی رکود" وايي. که څه هم د امریکې او د اروپايي اتحادیې حکومتونو زیات شمېر معمول او غیر معمول مالي او پولي سیاستونه پلي کړي دي خو د دې هېوادونو اقتصادي رکود ته د پای ټکی کېږدي خو تر اوسه پورې دې ګامونو او هڅو کومه هیله مند کوونکې پایله درلودلې نه ده. په ورته وخت کې په دې موده کې د آسیايي هېوادونو اقتصاد د نړیوال اقتصاد لپاره د ماشین په توګه عمل کړی دی، په تېره بیا چین له ۲۰۰۸ تر ۲۰۱۰ کاله پورې د نړیوال اقتصاد په پرمختګ کې مهم او د پام وړ رول لوبولی دی.

د نړیوال اقتصاد په اړه د ټولو شواهدو له مخې دا روښانه شوې ده چې نن ورځې د نړیوال اقتصاد پراختیايي پړاو د پای لوري ته روان دی او مونږ وینو چې سوداګریز دوران هم ټیټېدونکی پړاو لري. له همدې امله د اقتصادي فعالیتونو زیاتېدل هغه موضوع نه ده چې په اټکل شوي راتلونکي څلورو کلونو کې یې تمه ولرو.

د نفتو په نړیوالو بازارونو کې په تېرو درېو میاشتو کې د اومه نفتو بیې ډېرې راټیټې شوې دي، ترڅنګ یې د چین، جرمني، جاپان او فرانسې په ګډون په نورو هېوادونو کې د صنعتي تولیداتو کچه ډېره راښکته شوې ده. د تولیزې تقاضا او د سوداګریزو فعالیتونو ټیټېدونکی بهیر ښیي چې اقتصادي رکود بیا پیښېدونکی دی.

د نړۍ واکمنه اقتصادي وضعیت، د نفتو د بیې کموالی او د تولیزې تقاضا د بې ساري راولوېدلو په پام کې نیولو سره، په پرمختللي هېوادونو په ځانګړي توګه په اروپايي هېوادونو کې د اقتصادي رکود له امله د ۲۰۱۴ کال په دریمه ربعه کې د نړۍ د انفلاسیون نرخ راښکته شوی دی. د امریکې او د یورو سیمې د صنعتي تولیداتو د پام وړ کموالي له امله د توکو بیه راټیټه شوې ده. د توکو د بیو د راټیټېدو ترڅنګ د نفتو د بیو ټیټېدل په دغو هېوادونو کې د عمومي انفلاسیون پر بهیر نزولي فشار راوستی دی.

د پرمختللي اقتصادونو په څېر د آسیا راغوړېدلي اقتصادونو هم په تېره ربعه کې د انفلاسیون ټیټېدونکی بهیر تجربه کړی دی. چین چې په آسیا کې د اومه توکو او نفتو ستر واردوونکی هېواد دی، اقتصادي فعالیتونه یې له نزولي بهیر سره مخامخ شوي دي. د چین محصولاتو لپاره تقاضا زیانمنه شوې ده.

د تولیزې تقاضا کمېدل او د نفتو او د توکو د بیو ټیټېدل په دې هېوادونو کې د انفلاسیون په نزولي بهیر لا هم فشار ډېر کړی دی. په نړیوال بازار کې د اومه نفتو بیه په دریمه ربعه کې نږدې ۱۰ سلنه ښکته شوې ده. د بېلګې په توګه په تېر جون میاشت کې د یو بېرل برنټ نفتو بیه ۱۱۵ امریکايي ډالرو ته رسېده، حال دا چې په سپتمبر میاشت کې د هر بېرل بیه ۹۵ امریکايي ډالرو ته ولوېده. له کومه چې نفت د عمومي انفلاسیون یو لویه او مهمه برخه جوړوي نو د

دې توکي په بيه کې تر دومره اندازه کمښت په نړيوال توليدي لګښتونو او انفلاسيوني نرخ کې پام وړ ټيټوالی راوړي. د نفتو پر بيې باندې ديفلاسيوني فشار تر زياته اندازه د نفت توليدوونکي هېوادونو لخوا د زياتې اندازې نفت د عرضه کولو او ترڅنګ يې د صنعتي اقتصادونو د لږې تقاضا له امله رامنځ ته شوی دی.

نفتو ته ورته، د خوراکي توکو بيه هم تر ارزونې لاندې ربعه (د ۲۰۱۴ مالي کال دريمه ربعه) کې ډېره راښکته شوې ده. د FAO د خوړو بيې شاخص په دې موده کې د نړۍ په عمومي خوراکي بيو کې په اوسط ډول تر ۵.۹ سلنې پورې ديفلاسيون ښکاره کوي.[1] په متحده ايالتونو کې د پرېمانه کرنيزو توليداتو له امله د همدې کال د مې مياشتې په پرتله د غنمو بيه ۲۷ سلنه او د جوارو بيه ۲۵ سلنه غورځېدلې ده. همدارنګه د خرما غوړيو او د مالوچو شاخصونه په دې محصولاتو کې د بيو ټيټوالی په ګوته کوي.

۱.۳ ګراف: د نړۍ د خوراکي توکو د انفلاسيون نرخ




د نړيوال انفلاسيون د غوره وضعيت له امله په افغانستان کې هم کلنی انفلاسيون د ۲۰۱۳ کال د سپتمبر له ۷.۹۸ سلنې څخه د ۲۰۱۴ کال راهيسې خپل تر ټولو ټيټ نرخ يعني ۴.۲۱ سلنې ته رالويدلی دی. د نړۍ د نفتي او خوراکي توکو د بيو ټيټوالي، د نړيوال اقتصادي ودې د کموالي او د ضعيفې توليزې تقاضا ترڅنګ چې په نړيواله کچه د ټيټ انفلاسيون لامل شوي، په افغانستان کې د انفلاسيون د کموالي لاملونه د کورني سياسي او اقتصادي وضعيت په ګډون د هېواد يو لړ کورني عواملو پورې تړاو لرلی شي.

د ۲۰۱۴ مالي کال په دريمه ربعه کې سياسي او امنيتي ناډاډمنتيا او بې ثباتي خپل وروستي حد ته ورسېده. د ناڅرګنده سياسي ليد له امله د اقتصادي فعاليتونو او پانګونې کچه د پام وړ اندازه راښکته شوه، د پروژو تطبيق وځنډول شو او ډېرو نادولتي ادارو (انجوګانو) او کمپنيو خپل کارکوونکي رخصت کړل. د پانګونې لپاره کمه هيله او د بيکارۍ د کچې زياتېدنه چې د کمې پانګونې او د کورنۍ لګښتونو د کموالي لامل شوي، په هېواد کې يې پر توليزې تقاضا باندې معکوسه اغېزه پرې ايښې دی. د تقاضا کمېدل، ديفلاسيوني فشارونه زيات کړي او د عمومي بيو نرخ يې راښکته کړی دی.

### ۱. په افغانستان کې د مصرفي توکو د بيې شاخص

په ټول افغانستان کې انفلاسيون د ۲۰۱۴ مالي کال په دريو لومړيو ربعو کې د هغه غالب بهير په دوام ټيټېدونکی بهير درلود، چې د تېر کال (۲۰۱۳ مالي کال) په دريمه ربعه کې پيل شوی ؤ. انفلاسيوني فشار د تېر مالي کال (۲۰۱۳) له نيمايي وروسته په کمېدو پيل کړی دی. له هغې مودې راپدېخوا د يو څو کوچني نوساناتو سربېره چې موسمي عوامل يې درلودل، په ټول هېواد کې د انفلاسيون عمومي بهير پر ټيټېدو روان دی.

۱. د FAO وب پاڼه

د مصرفي توکو د بيې د شاخص انفلاسيون د ۲۰۱۳ کال په سپتمبر مياشت کې د هېواد په کچه خپلې لوړې کچې يعنې ۹.۲ سلنې ته ورسېد. يو کال وروسته د ۲۰۱۴ په سپتمبر مياشت کې بيا د انفلاسيون دا شمېره د ۲۰۱۱ کال راهيسې خپل تر ټولو ټيټ نرخ يعنې ۴.۲ سلنې ته راټيټه شو. د شمېرو په ارزونې سره دا په آسانۍ پوهېدل کېږي چې په دې موده کې د انفلاسيون د کمېدو اصلي لامل د مصرفي توکو د بيې د شاخص په انفلاسيون کې د غير خوراکي توکو د بيو بې ساري کمېدل دي.

**۲.۳ ګراف: د ملي مصرفي توکو د بيې شاخص**
**(کال په کال)**




*سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره/د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه*

په دې ټولو کې د مصرفي توکو د بيې د شاخص فرعي برخې لکه استوګنځی، برښنا او نفت چې د مصرفي توکو د بيې د شاخص د غير خوراکي برخې تر ټولو لويه برخه جوړوي، د پام وړ اندازه کمښت درلودلی دی. د ۲۰۱۳ کال په اګست کې د ملي مصرفي توکو د بيې د شاخص د دې فرعي برخې د انفلاسيون نرخ ۹.۳ سلنه ثبت شوی دی. د ۲۰۱۳ مالي کال په وروستي ربعې او د ۲۰۱۴ مالي کال په لومړي نيمايي مياشتو کې د دې فرعي برخو (استوګنځي، برښنا او نفتو) د انفلاسيون نرخ ۱۰.۴ سلنې ديفلاسيون ته واوښته چې د يوه کال په موده کې نږدې ۱۹.۷ سلنه کمښت په ډاګه کوي.

د نړۍ د نفتو د بيې ټيټېدل، د بهرنيو ځواکونو د وتلو سره د زيږيدلې ناډاډمنتيا له امله د پانګونې لپاره د تقاضا کمېدل او د ولسمشريزه ټولټاکنو د اوږده پړاو له امله د سياسي ناډاډمنتيا په ګډون يو لړ کورني عوامل په هېواد کې د عمومي بيې د ټيټېدونکي بهير ستر لاملونه ګڼل کېږي.

د افغانستان بانک په نږدې راتلونکي کې د انفلاسيوني فشارونو د پيښېدو تمه لري او وړاند وينه کوي چې د هېواد اوسنی سياسي بې ثباتي به هواره شي او د هېواد اقتصاد به له روان ودرېدلي وضعيت څخه بهر راوځي او وده به وکړي؛ که څه هم تمه کېږي چې د مصرفي توکو د بيې شاخص به په عمده توګه د نړيوال انفلاسيون د غوره وضعيت له امله نسبتاً معتدله وده ولري او په يو شمېريزه حد کې به پاتې شي.

د کابل د مصرفي توکو د بيې شاخص په کتلو سره دا روښانه کېږي چې د پلازمېنې کابل د انفلاسيون نرخ د هېواد د انفلاسيون نرخ ښکارندوي کوي. د ۲۰۱۴ زيږديز کال په سپتمبر مياشت کې، کال په کال انفلاسيوني نرخ ۱.۲ سلنه ثبت شوی دی چې د تېر کال د ورته دورې د ۵.۷ سلنې څخه ټيټ شوی دی. دې ته ورته د ۲۰۱۳ مالي کال له نيمايي دوېمې وروسته په کابل کې د انفلاسيون فشار په کمېدو پيل کړی دی.

د مصرفي توکو د بيې د شاخص غير خوراکي برخې د پورته ويل شويو دليلونو له امله پام وړ کمښت موندلی دی. د کابل د مصرفي توکو د بيې د شاخص غير خوراکي برخه د ارزونې لاندې موده کې د انفلاسيون په نرخ کې

غوره رول درلودلی دی. د کابل د مصرفي توکو د بيې د عمومي شاخص په دې برخه کې د انفلاسيون نرخ د تېر کال په پرتله د پام وړ اندازه ښکته شوی او ۱.۶ سلنه ديفلاسيون (کال په کال) ښکاره کوي چې د تېر کال د ۸ سلنې انفلاسيون په پرتله خورا زيات توپير په ډاګه کوي. د يادولو وړ ده چې د کابل په عمومي انفلاسيون کې دغه نوسانات د هېواد د انفلاسيون په نرخ کې تر ټولو زيات نوساني حالت ښکاره کوي.

په هېواد کې د انفلاسيون په نرخ کې د انحراف د اغېزو د کمولو او د دوامداره بهير د ښه انځور ترلاسه کولو لپاره مورږ اصلي انفلاسيون اندازه کوو. د ۲۵ سلنه Trimmed Mean (TM) په مرسته د اصلي انفلاسيون سنجول دا ښکاره کوي چې د ۲۰۱۴ کال په سپتمبر او اګست هرې مياشتې کې د انفلاسيون نرخ ۵.۶ سلنه ؤ.

۳.۳ ګراف: اصلي انفلاسيون
(Trimmed Mean۲۵٪)




*سرچينه: د احصائيې ملي اداره / د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه*

## ۱.۱ په ملي عمومي انفلاسيون کې پرمختياوې

### ۱.۱.۱ کلني پرمختياوې

ملي عمومي انفلاسيون چې د ملي مصرفي توکو د بيې په شاخص کې د سلنيز بدلونونو په مرسته سنجول کېږي د ۲۰۱۳ کال له اګست څخه تر اوسه (د ۲۰۱۴ کال سپتمبر) پورې د پام وړ ټيټوالی مونډلی دی. په هېواد کې پراخې عمومي بيې د ۲۰۱۴ مالي کال د درېمې ربعې په پای کې ۴.۲ سلنه ثبت شوې چې د تېر کال د ورته ربعې د ۸ سلنې څخه ټيټې شوې دي.

د ملي مصرفي توکو د بيې د شاخص د خوراکي توکو او نخوراکي برخې چې د مصرفي توکو د بيې د ټوکرۍ تر ټولو لويه برخه جوړوي؛ د انفلاسيون نرخونه د ۲۰۱۳ مالي کال د درېمې ربعې د ۹.۱ سلنې څخه (کال په کال) د ۲۰۱۴ مالي کال د درېمې ربعې (کال په کال) ۶.۸ سلنې ته ښکته شوي دي. ډوډۍ او حبوبات، غوښه، شيدې او سبزيجات د خوړو برخې د فرعي شاخص تر ټولو لويې او وزن لرونکي فرعي برخې دي، له همدې امله د خوراکي توکو د برخې د پرمختګونو په شننې کې بايد پر دې برخو ډېر تمرکز وشي.

د تېر کال له شمېرو سره د سږ کال شمېرو په پرتله کولو سره انفلاسيوني عمومي مطلوب بهير ليدل کېدای شي. د يوه کال په موده کې ډوډۍ او حبوباتو تر ۳.۶ سلنې پورې کمښت مونډلی چې په رواني ربعې (کال په کال) کې ۱۱ سلنې ته رسيږي. ډوډۍ او حبوباتو ته ورته نورې فرعي برخې لکه غوښه، شيدې، پنير، هګيو او سبزيجاتو هم د ۲۰۱۳ کال له سپتمبر څخه د ۲۰۱۴ کال تر سپتمبر پورې ټيټېدونکی بهير درلود.

د خوراکي توکو په انفلاسيون کې د دې کموالي لامل تر يوه اندازه پورې، په تېر کال کې د خوراکي توکو د نړيوالو بيو کمېدو سره تړاو لري. د بېلګې په توګه په امريکې کې د پرېمانه حبوباتو توليد د دې لامل شو چې د

غنمو بیه ۲۷ سلنه او د جوارو بیه ۲۵ سلنه ټیټه شي. همدارنګه د خرما غوړو له شاخص څخه ښکاري چې په همدې موده کې د دې محصول بیې کمې شوې دي. د ملي مصرفي توکو د بیې د شاخص په انفلاسیون کې ډېرى غوره پرمختګونه د مصرفي توکو د بیې د شاخص په غیر خوراکي برخه کې لیدل شوي دي. په غیر خوراکي برخه کې ټولیز کلنى انفلاسیون د ۲۰۱۳ د سپتمبر له ۶.۸ سلنې څخه د راپور ورکولو مودې تر پایه پورې ۱.۴ سلنې ته راښکته شوى دى. د غیر خوراکي برخې د ټولو توکو په ډله کې د مصرفي توکو د بیې شاخص د کور جوړونې فرعي برخه، چې ترټولو لویه برخه جوړوي، د ۲۰۱۳ کال د درېمې ربعې له ۶.۸ سلنې انفلاسیون په پرتله د ارزونې لاندې ربعې (کال په کال) کې ۸.۸ سلنې دیفلاسیوني نرخ درلود. د مصرفي توکو د بیې د شاخص په دې فرعي برخه کې د دوموره اندازه کمښت لامل د کرایي کورونو لپاره لږه تقاضا او په هېواد کې د دوامداره سیاسي ناډاډمنتیا له کبله پر سوداګرۍ او پانګونې لږه ډاډمنتیا ښودل کېداى شي. د کور جوړونې او نفتو برعکس، د غیر خوراکي برخې نورې اړوندې فرعي برخې لکه د فرنیچر، کورني توکو او د ټرانسپورټ انفلاسیوني نرخ بیا پدې موده کې لوړ شوى دى. د اسعارو په وړاندې د افغانۍ د ارزښت کمېدل او امنیتي ستونزې د دې فرعي برخو د انفلاسیون د لوړېدو لاملونه بلل کېږي.

۴.۳ ګراف: د ملي انفلاسیون د ۱۲ میاشتو اوسط




*سرچینه: د احصائیې ملي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه*

**۱.۳ جدول: د ملي عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص د اجزاو ویشنه**

(د کال پر اساس د بدلونونو سلنه)

(د ۲۰۱۱ مارچ میاشت = ۱۰۰)

| | وزن | د ۱۳۹۱ مالي کال* | | | ۱۳۹۲ | | | | ۱۳۹۳ | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | لومړۍ ربعه | دويمه ربعه | درېمه ربعه | لومړۍ ربعه | دويمه ربعه | درېمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړۍ ربعه | دويمه ربعه | درېمه ربعه |
| **ټولیز شاخص** | **100.0** | **6.8** | **5.4** | **5.9** | **6.4** | **7.6** | **8.0** | **7.2** | **5.6** | **5.6** | **4.2** |
| **خوراکي توکي او څښاک** | **52.0** | **5.5** | **3.5** | **4.5** | **5.2** | **6.9** | **9.1** | **9.6** | **10.0** | **9.7** | **6.8** |
| ډوډۍ او حبوبات | 17.7 | 2.2 | 4.6 | 8.4 | 12.8 | 13.7 | 14.6 | 9.1 | 9.5 | 11.4 | 11.0 |
| غوښه | 7.2 | 13.8 | 12.9 | 10.2 | 6.0 | 5.3 | 6.6 | 5.0 | 2.6 | 3.4 | 3.7 |
| شیدې، پنیر او هګۍ | 4.8 | 9.7 | 7.9 | 8.8 | 4.9 | 4.1 | 7.8 | 5.0 | 6.5 | 6.1 | 2.1 |
| غوړي او شحمیات | 4.0 | 5.2 | 0.3 | 3.5 | -0.5 | -2.3 | -0.4 | 0.3 | 1.8 | 1.7 | 0.9 |
| وچه او تازه میوه | 4.8 | 16.1 | 6.3 | -5.3 | -3.2 | -2.0 | -0.1 | 4.4 | 8.5 | 9.9 | 9.2 |
| سبزیجات | 7.9 | 5.1 | -4.4 | 1.0 | -3.3 | 6.6 | 15.3 | 30.7 | 30.3 | 24.3 | 7.1 |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| بوره او خواږه توکي | 2.9 | 0.5 | -2.8 | -0.3 | 3.4 | 4.7 | 2.8 | 2.4 | 2.5 | -1.6 | -0.2 |
| اچار، ترشي او... | 0.9 | 26.7 | 11.8 | 15.3 | 8.8 | 10.2 | 5.6 | 8.1 | 10.5 | 9.4 | 12.0 |
| غير الکولي مشروبات | 1.8 | 16.3 | 17.1 | 13.9 | 7.6 | 8.5 | 6.8 | 6.6 | 7.4 | 3.7 | 4.0 |
| **غیر خوراکي** | **48.0** | **8.6** | **7.7** | **7.4** | **7.7** | **8.4** | **6.8** | **4.7** | **1.1** | **1.4** | **1.4** |
| تمباکو | 0.4 | 4.5 | 0.7 | 9.7 | 11.5 | 19.5 | 21.2 | 10.9 | 8.4 | 3.0 | 0.6 |
| پوښاک | 7.0 | 13.7 | 8.3 | 7.7 | 8.0 | 10.3 | 8.9 | 8.8 | 8.3 | 8.1 | 6.9 |
| کور جوړونه (استوګنځی) | 20.7 | 11.6 | 12.7 | 12.2 | 11.8 | 11.1 | 6.8 | 1.8 | -8.5 | -9.1 | -8.8 |
| فرنیچر او کورني توکي | 7.0 | -5.4 | -4.5 | 0.0 | 3.9 | 6.0 | 6.5 | 8.7 | 8.5 | 10.4 | 10.3 |
| روغتیا | 3.3 | 1.7 | 4.4 | 7.7 | 11.3 | 13.0 | 11.2 | 8.0 | 8.8 | 9.0 | 10.3 |
| ترانسپورټ | 4.7 | 13.1 | 6.6 | -0.3 | -2.5 | -1.5 | 3.6 | 5.8 | 16.6 | 20.1 | 19.5 |
| اړیکي | 1.1 | 0.2 | -2.7 | -4.3 | -6.7 | -6.4 | -4.5 | -2.5 | -1.5 | -1.4 | -2.0 |
| زده کړه | 0.7 | 4.7 | 6.7 | 5.2 | 7.1 | 1.7 | 1.8 | 1.8 | 1.9 | 5.0 | 4.0 |
| معلومات او کلتور | 0.1 | 10.8 | 1.9 | 5.3 | 3.2 | 3.5 | 2.6 | 2.3 | 6.5 | 5.4 | 7.1 |
| ریسټورانټونه او هوټلونه | 1.0 | 5.9 | 10.4 | 8.2 | 2.4 | 2.8 | 3.7 | 1.8 | 2.6 | 2.4 | 4.6 |
| متفرقه | 1.8 | 19.2 | 17.7 | 9.1 | 5.5 | 5.2 | 6.6 | 8.0 | 7.6 | 10.2 | 8.2 |
| **اصلي انفلاسیون (۲۸ سلنه TM)** | | **8.1** | **5.7** | **6.0** | **4.9** | **5.8** | **5.8** | **5.6** | **6.4** | **6.3** | **5.6** |
| **اصلي انفلاسیون ( د ډوډۍ او حبوباتو، غوړي او شحمیاتو او تمباکو څخه پرته عمومي انفلاسیون)** | | **7.7** | **5.9** | **5.8** | **5.9** | **7.4** | **7.2** | **7.2** | **4.3** | **3.6** | **1.7** |

*سرچینه: د احصائیې ملي اداره/ د افغانستان بانک د پولي سیاست مدیریت د کارکوونکو محاسبه*

** د افغانستان مالي کال (له دسمبر څخه جنوري پورې) د ۱۳۹۱ کال څخه پیل شوی، د همدې لپاره درې ربعې رانغاړي.*

### ۲.۱.۱ درې میاشتنی پرمختیاوې

د دې لپاره چې وګورو، په دې وروستیو کې د انفلاسیون بهیر څنګه پرمخ ځي نو اړینه ده چې د عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص او د هغه د بېلابېلو برخو د ربعې په ربعې بدلونونه سره پرتله کړو. د ملي عمومي انفلاسیون د ربعواره پرمختیاوو ارزونه موږ ته دا موکه راکوي چې د انفلاسیوني بهیر نور اړخونه چې په کلني بهیر کې تر یوه اندازه ناڅرګنده پاتې کیږي، ولټوو.

عمومي انفلاسیون په څلورمه ربعه کې لوړیږي او د هر کال په دسمبر میاشت کې خپل اوج ته رسیږي. د انفلاسیون د عمومي ځانګړنو په پام کې نیولو سره، د انفلاسیون نرخ د ۲۰۱۴ مالي کال په اوږدو کې ځیني بې ساري ځانګړتیاوې درلودلي دي چې یوازې د هیواد د واکمنه سیاسي او اقتصادي وضعیت په رڼا کې د توضیح وړ دي.

د تېرو کلونو خلاف، په هیواد کې د انفلاسیون د خوراکي او غیر خوراکي برخو ترمنځ زیاته اندازه پراګندګي رامنځ ته شوې ده. د غیر خوراکي برخې انفلاسیون د لېږي ودې وروسته بېرته شدیده ټیټوالی درلودلی چې د ۲۰۱۴ کال په مارچ کې تر ټولو ټیټ نرخ، ۲- سلنې ته رسېدلی دی. له

دې سربېره د انفلاسیون په کچه کې یو څه تیټوالی راغلی چې په بله ربعه کې د یو څه زیاتې ودې لامل کېدای شي. د ۲۰۱۴ مالي کال په دریمه ربعه کې د ۱.۴ سلنې کموالي په ګډون په ملي عمومي انفلاسیون کې تر ۳.۸ سلنې کلنی کمښت یو لړ عواملو پورې اړه لري. د دې بدلونونو د ریښو د موندلو لپاره مونږ پخپله شننه کې یو ګام مخکې ځو او د ملي انفلاسیون اصلي برخې او فرعي برخې په ژوره توګه څېړو.

۵.۳ ګراف: د ملي مصرفي توکو د بیې شاخص (ربعه په ربعه)




که څه هم د ملي عمومي انفلاسیون ربعوارې شمېرې هغو کلنې بهیرونو ته ورته بهیر په ډاګه کوي چې مخکې مو تحلیل کړي دي، د مصرفي توکو د بیو د انفرادي برخو کړنې او بهیر یوه اندازه سره ګډ دي. عمومي انفلاسیون په دریمه ربعه کې د ربعې په ربعې له مخې تر ۰.۲ سلنې پورې دیفلاسیون تجربه کړی، حال دا چې په مخکنۍ ربعه کې ۱.۲ سلنه انفلاسیون درلود.

د ډوډۍ او حبوباتو بیې د ربعې په اساس د دویمې ربعې د ۴.۱ سلنې په پرتله په دریمه ربعه کې ۲.۷ سلنه زیاتې شوي دي. په روانه ربعه کې د مېوې او سبزیجاتو فرعي برخو پر بیو باندې د دیفلاسیون فشارونه لامل شوي چې د دې توکو بیې د تېرې ربعې په پرتله نورې هم ټیټې شي.

د غیر خوراکي برخې تر ټولو مهمې فرعي برخې، کور جوړونې (استوګنځي) او نفتو نسبتاً کمه رغاونه درلوده او د تېرې ربعې په پرتله په دریمه ربعه کې دیفلاسیوني نرخ یې ۰.۱ سلنې ته ورسېد.

### ۲.۳ جدول: د ملي عمومي مصرفي بیو د شاخص د اجزاو ویشنه

(د ربعې پر اساس د بدلونونو سلنه)

(د ۲۰۱۱ مارچ = ۱۰۰)

| | د ۱۳۹۱ مالي کال* | | | ۱۳۹۲ | | | | ۱۳۹۳ | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | لومړۍ ربعه | دویمه ربعه | درېمه ربعه | لومړۍ ربعه | دویمه ربعه | درېمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړۍ ربعه | دویمه ربعه | درېمه ربعه |
| **ټولیز شاخص** | **0.1** | **0.8** | **4.8** | **0.6** | **1.2** | **1.1** | **4.1** | **-0.9** | **1.2** | **-0.2** |
| **خوراکي توکي او څښاک** | **-0.3** | **-0.3** | **5.4** | **0.5** | **1.3** | **1.7** | **5.9** | **0.8** | **1.0** | **-1.0** |
| ډوډۍ او حبوبات | 1.6 | 2.2 | 8.4 | 0.2 | 2.4 | 3.0 | 3.2 | 0.6 | 4.1 | 2.7 |
| غوښه | 0.7 | 0.6 | 2.1 | 2.6 | 0.0 | 1.8 | 0.6 | 0.3 | 0.7 | 2.1 |
| شیدې، پنیر او هګۍ | -0.6 | 1.2 | 3.9 | 0.4 | -1.4 | 4.8 | 1.2 | 1.9 | -1.8 | 0.8 |
| غوړي او شحمیات | 1.7 | -1.2 | 1.4 | -2.3 | -0.2 | 0.7 | 2.1 | -0.9 | -0.2 | -0.1 |
| تازه او وچه میوه | 0.7 | -2.9 | -3.6 | 2.7 | 2.0 | -1.0 | 0.7 | 6.7 | 3.4 | -1.7 |
| سبزیجات | -7.8 | -8.5 | 14.5 | 0.0 | 1.7 | -1.0 | 29.9 | -0.3 | -3.0 | -14.7 |
| بوره او خواږه توکي | 0.1 | 3.8 | 1.9 | -2.3 | 1.3 | 1.9 | 1.5 | -2.1 | -2.8 | 3.3 |
| آچار، ترشي او... | 2.5 | 2.1 | 2.9 | 1.0 | 3.8 | -2.1 | 5.3 | 3.3 | 2.7 | 0.3 |
| غیر الکولي مشروبات | 2.1 | 3.2 | 2.3 | -0.2 | 3.0 | 1.6 | 2.1 | 0.5 | -0.6 | 1.9 |
| **غیر خوراکي** | **0.5** | **2.0** | **4.3** | **0.8** | **1.1** | **0.6** | **2.3** | **-2.8** | **1.4** | **0.6** |
| تمباکو | 0.4 | -1.9 | 11.0 | 2.1 | 7.5 | -0.5 | 1.5 | -0.2 | 2.2 | -2.8 |
| پوښاک | -0.1 | 2.3 | 3.9 | 1.7 | 2.1 | 0.9 | 3.8 | 1.2 | 1.9 | -0.2 |
| استوګنځی | 1.1 | 3.6 | 6.7 | 0.1 | 0.4 | -0.4 | 1.7 | -10.0 | -0.3 | -0.1 |
| روغتیا | 0.2 | 3.0 | 4.3 | 3.4 | 1.8 | 1.3 | 1.2 | 4.2 | 2.0 | 2.5 |
| ټرانسپورټ | -0.8 | -2.1 | 1.5 | -1.0 | 0.2 | 2.9 | 3.6 | 9.1 | 3.2 | 2.4 |
| اړیکې | -1.7 | -2.7 | -1.3 | -1.1 | -1.4 | -0.7 | 0.7 | -0.1 | -1.3 | -1.3 |
| زده کړه | 4.6 | 0.8 | -0.1 | 1.7 | -0.6 | 0.8 | 0.0 | 1.8 | 2.4 | -0.2 |
| معلومات او کلتور | -0.2 | 0.8 | 1.2 | 1.3 | 0.1 | 0.0 | 0.9 | 5.5 | -1.0 | 1.6 |
| ریستورانتونه او هوټلونه | 0.2 | 0.2 | 1.7 | 0.2 | 0.6 | 1.1 | -0.1 | 0.9 | 0.4 | 3.3 |
| متفرقه | 0.6 | 0.5 | 2.6 | 1.6 | 0.3 | 2.0 | 4.0 | 1.2 | 2.8 | 0.1 |

*سرچینه: د احصائیې ملي اداره/د افغانستان بانک د پولي سیاست د لوی آمریت د کارکوونکو محاسبه*

**د افغانستان مالي کال له ۱۳۹۱ کال څخه پیل شوی دی (چې له دسمبر څخه تر جنوری میاشتې پورې دی)، له همدې کبله درې ربعې رانغاړي*

### ۲. د کابل په عمومي انفلاسیون کې پرمختیاوې

کابل کې شاوخوا ۵ میلیونه وګړي ژوند کوي چې د ټول افغانستان یو پر شپږمه برخه نفوس جوړوي. کابل نه یوازې د هېواد سیاسي پلازمینه ده، بلکې د اقتصادي فعالیتونو مرکز هم دی. د دې ښار د ځانګړي مقام د درلودلو له امله پدې ښار کې د اقتصادي متحولونو هر ډول پرمختګونه د

هېواد پر ټولیز اقتصادي وضعیت باندې نېغ په نېغه اغېزه کوي. په لاندې کرښو کې د کابل د عمومي بیې نوسانات تر ارزونې لاندې نیول شوي دي.

**۱.۲ کلنی پرمختیاوې**

د کابل د انفلاسیون بهیر د هېواد د عمومي انفلاسیون سره یو شان ځانګړتیاوې لري. د عمومي بیو په کچه کې د پرمختګونو په شان د کابل عمومي انفلاسیون هم د پام وړ کمښت موندلی او د ۲۰۱۴ مالي کال د دریمې ربعې په پای کې (د کال په کال اساس) د انفلاسیون نرخ په پلازمینه کې ۱.۲ سلنه ښودل شوی چې د تېر کال د ورته ربعې د ۵.۷ سلنې انفلاسیون څخه ډېر ټیټ دی. د دې کموالي تر شا اصلي عامل د مصرفي توکو د بیې شاخص د غیر خوراکي برخې د بیې کمښت په ګوته کېږي.

**۶.۳ ګراف: د کابل د انفلاسیون د ۱۲ میاشتو اوسط**




**۷.۳ ګراف: د کابل د مصرفي توکو د بیې شاخص (کال په کال)**




*سرچینه: د احصائیې ملي اداره/د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه*

د کابل د مصرفي توکو د بیې د شاخص خوراکي برخې د یوه کال په موده کې (د ۲۰۱۳ کال له سپتمبر څخه د ۲۰۱۴ کال تر سپتمبر پورې) د پام وړ بدلون موندلی نه دی. دا په داسې حال کې ده چې د مصرفي توکو د بیې د شاخص د دې برخې جوړونکي توکو په ورته موده کې د انفلاسیون د پرمختګونو له پلوه ګډ بهیر او خوځښت ښکاره کوي. د بیلګې په توګه، د ډوډۍ، حبوباتو او د خوراکي غوړو فرعي برخو په انفلاسیون کې شدیده کموالی راغلی دی؛ حال دا چې د شیدو، پنیر او تازه او وچې میوو د انفلاسیون کچه د تېر سپتمبر میاشت په پرتله ډېره زیاته شوې ده.

د ډوډۍ او د حبوباتو د انفلاسیون نرخ له ۱۲.۶ سلنې څخه ۶.۶ سلنې (کال په کال) ته کم شوی او د خوراکي غوړو د انفلاسیون نرخ بیا له ۳.۴ سلنې څخه ۵.۱ سلنې دیفلاسیوني نرخ ته راښکته شوی دی. د شیدې بیه په شدیده توګه زیاته شوې او د تېر کال د ورته ربعې د ۱ سلنې دیفلاسیون په پرتله ۸.۷ سلنه انفلاسیون یې درلودلی دی. شیدې ته ورته د تازه او وچو میوو بیه هم په همدې موده کې ډېره لوړه شوې ده.

د کابل د مصرفي توکو د بیې د شاخص په خوراکي برخه کې د باثباته انفلاسیون خلاف، د دې شاخص غیر خوراکي برخې د پام وړ کموالی ثبت کړی چې د تېر کال د ورته ربعې د ۵.۹ سلنې انفلاسیون په پرتله ۱.۶ سلنې دیفلاسیون ته رسېدلی دی (کال په کال). د دې توکو په بیو کې دومره اندازه کمښت په سیاسي بې ثباتۍ او له امله یې رامنځ ته شوي ټکني امنیتي وضعیت پورې تړاو لري؛ دا وضعیت لامل شوی چې د پانګونې لپاره تقاضا په بې ساري کچه لږه شي. په دې موده کې د پانګونې لږه تقاضا د دوام لرونکو توکو لپاره هم تقاضا کمه کړې ده چې د بیو نرخ یې دومره ښکته کړی چې د دوام لرونکو توکو بازار د ۲۰۱۴ کال په می میاشت کې د لنډې مودې لپاره دیفلاسیون سره مخ شو.

### ۳.۳ جدول: د کابل د مصرفي توکو د بیې د شاخص د اجزاو وېشنه

(د کال له مخې د بدلونونو سلنه)

(د ۱۳۹۸ کب= ۱۰۰)

| | وزن | د ۱۳۹۱ مالي کال* | | | ۱۳۹۲ | | | | ۱۳۹۳ | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | لومړی ربعه | دوېمه ربعه | درېمه ربعه | لومړی ربعه | دوېمه ربعه | درېمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړی ربعه | دوېمه ربعه | درېمه ربعه |
| **عمومي شاخص** | **100** | **9.0** | **7.4** | **6.5** | **5.8** | **7.4** | **5.7** | **6.7** | **1.8** | **1.2** | **1.2** |
| **خوراکي توکي او څښاک** | **52.0** | **8.5** | **4.0** | **2.7** | **2.6** | **5.1** | **5.4** | **9.7** | **7.9** | **5.5** | **5.4** |
| ډوډۍ او حبوبات | 17.7 | 6.7 | 7.2 | 10.3 | 11.8 | 13.4 | 12.6 | 10.4 | 7.7 | 4.8 | 6.6 |
| غوښه | 7.2 | 15.8 | 15.5 | 14.2 | 9.3 | 5.3 | 3.4 | 4.2 | -1.4 | -1.4 | 3.8 |
| شيدې، پنير او هګۍ | 4.8 | 9.6 | 6.1 | 5.3 | 0.4 | -2.0 | -1.0 | 2.3 | 6.1 | 9.9 | 8.7 |
| غوړي او شحميات | 4.0 | 9.8 | -0.7 | 0.7 | 0.1 | -0.4 | 3.4 | 1.1 | -0.9 | -3.1 | -5.1 |
| وچه او تازه مېوه | 4.8 | 27.4 | 11.9 | -12.6 | -8.6 | -6.3 | -4.2 | 2.3 | 6.5 | 8.8 | 7.4 |
| سبزيجات | 7.9 | 4.9 | -3.5 | -3.2 | -6.5 | 7.2 | 8.6 | 30.0 | 24.7 | 15.8 | 8.9 |
| بوره او خواږه توکي | 2.9 | -1.6 | -4.7 | -2.3 | 2.0 | 1.1 | -1.1 | -1.4 | -0.5 | -6.9 | -3.5 |
| آچار، ترشي او ... | 0.9 | 29.7 | 35.6 | 37.9 | 14.2 | 9.0 | 4.0 | 4.8 | 8.3 | 7.0 | 9.2 |
| غير الکولي مشروبات | 1.8 | 10.1 | 8.7 | 3.9 | 4.1 | 6.8 | 6.4 | 6.6 | 7.8 | 2.1 | 2.6 |
| **نا خوراکي توکي** | **48.0** | **9.4** | **10.3** | **9.9** | **8.0** | **8.9** | **5.9** | **4.6** | **-2.3** | **-1.7** | **-1.6** |
| تمباکو | 0.4 | 7.8 | 7.6 | 6.1 | 6.1 | 10.0 | 11.6 | 10.3 | 11.0 | 13.3 | 11.5 |
| پوښاک | 7.0 | 3.6 | 3.8 | 5.1 | 3.7 | 7.5 | 4.9 | 5.8 | 7.8 | 11.5 | 11.3 |
| استوګنځی | 20.7 | 15.9 | 18.0 | 16.1 | 11.7 | 12.3 | 7.0 | 3.6 | -12.2 | -13.2 | -13.1 |
| فرنيچر او کورني توکي | 7.0 | -4.3 | -6.0 | -1.1 | 3.8 | 3.8 | 4.9 | 6.8 | 6.2 | 13.4 | 13.2 |
| روغتيا | 3.3 | 6.2 | 15.9 | 18.9 | 20.9 | 19.4 | 9.1 | 7.9 | 7.8 | 7.3 | 8.7 |
| ټرانسپورټ | 4.7 | 5.3 | 1.8 | -2.1 | -4.4 | -1.9 | 3.2 | 8.0 | 33.3 | 33.2 | 32.1 |
| اړيکې | 1.1 | 0.1 | -0.4 | -0.4 | -0.4 | -1.2 | -0.7 | -0.7 | -0.8 | - 2.2 | - 4.0 |
| زده کړه | 0.7 | -2.4 | 1.7 | -2.5 | 0.5 | 0.7 | 1.0 | 0.9 | - 0.1 | 2.8 | 1.9 |
| تفريح او کلتور | 0.1 | 0.5 | 1.2 | 1.3 | 1.7 | 0.9 | -0.2 | 2.0 | 14.0 | 14.6 | 19.1 |
| ريسټورانټونه او هوټلونه | 1.0 | 3.1 | 12.5 | 6.9 | 0.8 | 0.0 | 0.0 | 0.0 | 1.5 | 2.3 | 5.2 |
| متفرقه | 1.8 | 22.5 | 19.5 | 4.4 | 2.4 | 0.9 | 2.8 | 5.0 | 4.3 | 7.9 | 3.8 |
| اصلي انفلاسيون (۲۸ سلنه **TM)** | | **7.1** | **6.6** | **3.7** | **3.3** | **3.7** | **3.5** | **4.4** | **5.3** | **5.7** | **6.2** |
| (کورنی انفلاسيون ( د ډوډۍ او حبوباتو، غوړي او شحمياتو او تمباکو څخه پرته عمومي انفلاسيون) | | **9.8** | **8.3** | **6.5** | **5.5** | **7.0** | **6.7** | **6.0** | **-1.3** | **-1.3** | **-3.8** |

سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د پولي سياست لوی آمريت د کارکوونکو محاسبه

* د افغانستان مالي کال له ۱۳۹۱ کال څخه بدلون موندلی دی او هرکال د مرغومې له لومړۍ نېټې څخه پيلېږي او درې ربعې رانغاړي.

### ۲.۲ درې میاشتنی پرمختیاوې

د کابل د مصرفي توکو د بیو د شاخص درې میاشتنی

پرمختیاوې د انفلاسیون د نرخ د ټیټیدو بله ورته نسخه ده. عمومي شاخص په درېیمه ربعه کې ډېر لږ راټیټ شوی

چې د ۲۰۱۴ مالي کال د دریمې ربعې په پای کې ۰.۳ سلنه انفلاسیون ښکاره کوي، حال دا چې په دویمه ربعه کې د انفلاسیون نرخ ۱ سلنه ؤ.

۸.۳ ګراف: د کابل د مصرفي توکو د بیې په شاخص کې د هرې ربعې بدلونونه




د مصرفي توکو د بیو د شاخص د خوراکي توکو برخه د تیرې ربعې د ۰.۲ سلنه دیفلاسیوني نرخ ( ربع په ربع) په پرتله یو څه زیاتوالی ښکاره کوي. د مصرفي توکو د بیو د شاخص د خوراکي توکو د ډوډۍ، حبوباتو او غوښې فرعي برخې چې د خوراکي توکو د فرعي شاخص تر ټولو لویه برخه جوړوي، د بیو کچه زیاته شوې ده.

د پورته فرعي برخو خلاف، د سبزیجاتو په بیو کې د پام وړ کموالی راغلی، چې د ربعې په ربعې بنسټ یې ۱۱ سلنه دیفلاسیوني نرخ درلود، حال دا چې دا دیفلاسیوني نرخ په تیره ربعه کې ۳.۹ سلنه ؤ.

د نا خوراکي توکو د برخې د انفلاسیون نرخ د ۱۳۹۳ مالي کال د دویمې ربعې له ۱.۹ سلنې څخه په دریمه ربعه کې ۰.۵ سلنې ته راښکته شوی دی.

په پای کې د یادونې وړ ده چې د کابل د مصرفي توکو د بیو د شاخص په ټولو برخو کې د انفلاسیون په نرخ کې د بدلونونو ځانګړنه د ملي انفلاسیون له بدلونونو سره ډېر ورته والی لري.

**۴.۳ جدول: د کابل د مصرفي توکو د بیې په شاخص کې د هرې ربعې بدلونونه**

(د هرې ربعې د بدلونونو سلنه)

( د ۱۳۸۹ کب=۱۰۰)

| | ۱۳۹۳ | | | ۱۳۹۲ | | | | *۱۳۹۱ | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | لومړۍ ربعه | دویمه ربعه | دریمه ربعه | لومړۍ ربعه | دویمه ربعه | دریمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړۍ ربعه | دویمه ربعه | دریمه ربعه |
| عمومي شاخص | **0.0** | **1.8** | **3.0** | **0.8** | **1.5** | **0.3** | **3.9** | **-3.8** | **1.0** | **0.3** |
| خوراکي توکي او څښاک | **-0.4** | **-0.2** | **2.8** | **0.4** | **2.0** | **0.1** | **7.0** | **-1.2** | **-0.2** | **0.0** |
| ډوډۍ او حبوبات | 3.4 | 4.0 | 4.3 | -0.4 | 4.9 | 3.2 | 2.4 | -2.8 | 2.0 | 5.1 |
| غوښه | 1.2 | 1.1 | 1.7 | 5.1 | -2.6 | -0.8 | 2.5 | -0.5 | -2.5 | 4.4 |
| شیدې، پنیر او هګۍ | -2.5 | 2.4 | 2.3 | -1.7 | -4.9 | 3.5 | 5.7 | 2.0 | -1.5 | 2.5 |
| غوړي او شحمیات | 1.2 | -2.4 | 2.1 | -0.7 | 0.7 | 1.3 | -0.2 | -2.6 | -1.6 | -0.8 |
| تازه او وچه میوه | 0.4 | -5.3 | -8.8 | 5.4 | 2.9 | -3.2 | -2.7 | 9.9 | 5.1 | -4.5 |
| سبزیجات | -9.7 | -6.5 | 13.8 | -2.6 | 3.4 | -5.3 | 36.2 | -6.6 | -3.9 | -11.0 |
| بوره او خواږه توکي | 1.8 | 4.5 | 2.0 | -6.1 | 0.9 | 2.3 | 1.7 | -5.2 | -5.6 | 6.0 |
| آچار، ترشي او .. | 7.1 | 4.5 | 2.2 | -0.3 | 2.2 | -0.2 | 3.0 | 3.1 | 0.9 | 1.8 |
| غیر الکولي مشروبات | 0.3 | 2.1 | 0.8 | 0.9 | 2.9 | 1.8 | 0.9 | 2.0 | -2.6 | 2.3 |
| غیر خوراکي توکي | **0.4** | **3.3** | **3.1** | **1.1** | **1.2** | **0.4** | **1.8** | **-5.6** | **1.9** | **0.5** |

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| تمباکو | 1.5 | 0.7 | 2.6 | 1.2 | 5.2 | 2.2 | 1.4 | 1.9 | 7.4 | 0.5 |
| پوښاک | -1.8 | 2.6 | 2.7 | 0.3 | 1.8 | 0.1 | 3.6 | 2.2 | 5.2 | -0.1 |
| استوګنځی | 0.8 | 4.6 | 4.4 | 1.5 | 1.4 | -0.3 | 1.0 | -14.0 | 0.1 | -0.1 |
| فرنیچر او کورني توکي | 1.4 | 0.4 | 0.0 | 2.0 | 1.3 | 1.5 | 1.9 | 1.4 | 8.2 | 1.3 |
| روغتیا | 2.5 | 12.0 | 3.5 | 1.7 | 1.3 | 2.4 | 2.3 | 1.6 | 0.8 | 3.7 |
| ترانسپورټ | -2.0 | -2.5 | 1.4 | -1.3 | 0.5 | 2.6 | 6.1 | 21.9 | 0.5 | 1.7 |
| اړیکې | 0.1 | -0.6 | 0.0 | 0.0 | -0.7 | -0.1 | 0.1 | -0.1 | -2.1 | -1.9 |
| تفریح او کلتور | -1.1 | 0.7 | -1.1 | 2.0 | -0.8 | 1.0 | -1.2 | 1.0 | 2.0 | 0.1 |
| زده کړه | -0.1 | 0.8 | -1.1 | 2.0 | -0.9 | -0.3 | 1.1 | 14.0 | -0.3 | 3.6 |
| ریسټورانټونه او هوټلونه | 0.8 | 0.0 | 0.0 | 0.0 | 0.0 | 0.0 | 0.0 | 1.5 | 0.8 | 2.9 |
| متفرقه | 1.3 | 0.1 | 0.0 | 1.1 | -0.2 | 1.9 | 2.2 | 0.4 | 3.2 | -1.9 |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د پولي سیاست لوی آمریت د کارکوونکو محاسبه

*د افغانستان مالي کال له ۱۳۹۱ کال څخه بدلون موندلی دی او هرکال د مرغومي له لومړۍ نېټې څخه پیلېږي او د همدې لپاره درې ربعې رانغاړي.

**۳ـ د سیمې د انفلاسیون بهیر**

افغانستان، د سیمه ایزه مرستې لپاره د سویلي آسیا د ټولنې (SAARC) غړی دی. د جغرافیایي نږدېوالي او په اقتصادي پرمختیایي کچې کې د ورته والي له امله د افغانستان د سوداګرۍ مهمه برخه د سارک د غړو هېوادونو سره ترسره کیږي، له همدې امله زمونږ اقتصادي وضعیت تر ډېره حده پورې د دې هېوادونو او په ځانګړې توګه د هند او پاکستان په شان د ګاونډیو هېوادونو د اقتصادي حالاتو سره تړاو لري. د همدې لپاره مونږ په دې برخه کې د سیمې او په ځانګړې توګه د هند او پاکستان د انفلاسیون بهیرونه تر ارزونې لاندې نیسو.

۹.۳ ګراف: سیمه ایزه انفلاسیوني بهیر




د نړیوال غوره انفلاسیوني وضعیت له امله، د کال له لومړۍ نیمایي پرته، د ۲۰۱۴ مالي کال په اوږدو کې د سویلی آسیا هېوادونو آرامه (سوکه) انفلاسیوني بهیر درلود. د کال په پیل کې عمدتاً په سیمه کې د نا هیله کوونکي کرنیزو محصولاتو اخیستنې او د اومه نفتو د بیو د زیاتیدنې د لنډ مهاله شوک له امله د انفلاسیون فشارونه زیات، خو وروسته دا نامطلوب فشارونه راکم او د مصرفي توکو بیې ټیټې او په ټیټه کچه ثابتې وساتل شوې.

**۱.۳ هند**

د هند مرکزي بانک ټیټې انفلاسیوني موخې ته د رسیدو لپاره انقباضي پولي سیاست غوره او د ربح نرخ یې د روان کال د مرغومي په میاشت کې تر ۰.۲۵ سلنه لوړ کړ. عمومي انفلاسیون ښکاره کوي چې د ۲۰۱۴ مالي کال په درېمه ربعه کې د هند د انفلاسیون نرخ (کال په کال) ۶.۴۶ سلنه ؤ چې د تیر کال د ورته ربعې په پرتله په کې کوم بدلون نه دی راغلی.

د مایوس کوونکي موسمي وربښت او باد او د پرله پسې کمزوره محصول له امله، د روان کال د لومړۍ نیمایي په اوږدو کې د خوراکي توکو بیې زیاتې شوې، خو په درېمه ربعه کې پر خوراکي توکو باندې انفلاسیوني فشارونه

راکم شول.

د مصرفي توکو د بيې د شاخص د ناخوراکي توکو د انفلاسيون نرخ هغه مجموعي ټيټيدونکی بهير تعقيبوو چې د توليد نړيوال بازار کې واکمن ؤ.

۱۰.۳ ګراف: د هند د مصرفي توکو د بيې د شاخص انفلاسيون
( کال په کال)




## ۲.۳. پاکستان

پاکستان هم د روان کال په اوږدو کې له ډېرو امنيتي او سياسي ننګونو سره مخ ؤ چې په دې هېواد کې يې پر انفلاسيوني فشارونو باندې نامطلوبه اغيزه درلوده. د امنيتي او سياسي ستونزو ترڅنګ د ضعيفه محصولاتو له امله د خوراکي توکو بيې زياتې شوې وې چې له امله يې په دې هېواد کې د ۲۰۱۴ مالي کال په لومړی نيمايي کې انفلاسيوني فشارونه زيات شوي ؤ. په دې هېواد کې ملي عمومي انفلاسيون د تير کال د ورته ربعې له ۷.۴۰ سلنې څخه د ۱۳۹۳ کال په وروې مياشت کې ډېر لږ د ۷.۶۸ سلنې په اندازه زيات شوی دی.

د انفلاسيون د زياتيدونکي فشارونو په ځواب او په ټاکلې حد کې د انفلاسيون د نرخ ساتلو په موخه د پاکستان مرکزي بانک د ۱ سلنې په اندازه د ربحې نرخ په زياتولو سره انقباضي پولي سياست غوره کړ. د ربحې په نرخ کې زياتوالي مصرفکوونکو ته روښانه پيغام ورکړ چې مرکزي بانک د انفلاسيون نرخ د کنټرولولو په تصميم کې په خپل دريځ کلک ودريدلی دی چې له امله يې د انفلاسيون نرخ د تمې سره سم ثبات درلود او د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې د انفلاسيون نرخ راکم شو.

۱۱.۳ ګراف: د پاکستان د مصرفي توکو د بيې عمومي
شاخص
(د هر کال د سلنې بدلونونه)




## ۴ـ د انفلاسيون لنډ مهاله ليد لوری

د خالصه واردونکي هېواد په توګه، په افغانستان کې انفلاسيون په نړيوال انفـــــــلاسيوني وضعيت کې بدلونونه منعکسوي. د نړيواله او سيمه ايزه انفلاسيوني غوره وضعيت په رڼا کې، چې لامل يې د نړۍ د سترو اقتصادونو د اقتصادي ودې ټيټوالی، د اومه تيلو نړيوالو بيو ټيټوالی، د توکو نړيواله ټيټې بيې، په متحده ايالاتو کې د کرنيزو محصولاتو زياتوالی او په افغانستان او سويلي آسيا په هېوادونو کې د پريمانه کرنيزو حاصلاتو تمه لرل، ګڼل کيږي؛ توقع ده چې په نژدې راتلونکي کې د انفلاسيون په نرخ کې زياتوالی رانشي.

تمه کيږي چې عمومي انفلاسيون به د ۲۰۱۴ مالي کال د

راتلونکي ربعې ( د څلورمې ربعې) په اوږدو کې په همدې کچه کې پاتې شي. د هند او پاکستان په شمول په ګاونډيو هېوادونو کې د ښه باراني موسم او پریمانه حاصلاتو له امله، د مصرفي توکو د بیو د شاخص د خوراکي توکو په برخه کې به د انفلاسیون نرخ ثابت پاتي شي.

که چېرې په هېواد کې په بریالیتوب او سوله ایز ډول سره سیاسي واک ولیږدول شي نو د سوداګرۍ د پیاوړتیا او پراختیا ترڅنګ به د پانګونې لپاره تقاضا هم زیاته شي.

**۱.۴ خطرونه**

له هغه ځایه چې افغانستان د دواړو خوراکي او نا خوراکي توکو په شمول په پراخه پیمانه د توکو واردونکی هېواد دی، د وارداتي توکو په تولید کې هر ډول ګټور یا نا ګټور پرمختګ کولای شي په هېواد کې انفلاسیوني فشارونه بدل کړي، په ځانګړې توګه حبوبات او سونګ مواد په افغانستان کې د خوراکي توکو او انرژۍ په بیو باندې جدي اغیزې لري. د همدې لپاره د دغه شان توکو په بیه کې ناڅاپي بدلون په افغانستان کې د بیو د عمومي کچې د ثبات پر وړاندې جدي خطر دی. سربېره پر دې، د ورته لامل له امله، د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانی د ارزښت ټیټوالی په افغانستان کې د انفلاسیون راتلونکي بهیر په وړاندې بل اټکل شوی خطر ګڼل کیږي چې د کنټرولولو په موخه یې په هېواد کې محتاطه پولي سیاست ته اړتیا لیدل کیږي.

# ۴

# د بهرني سکتور پرمختیاوې

# ۴
# د بهرني سکتور پرمختیاوې

دا څېرکی د ۱۳۹۳ مالي کال په دریمه ربعه کې د بهرني سکتور سترې پرمختیاوې رانغاړي. د شته شمېرو پر بنسټ، د بهرني سکتور فعالیت تر ارزوني لاندې ربعې په اوږدو کې کمزوره ؤ، د جاري حساب کسر ښه شوی، په داسې حال کې چې په همدې ربعه کې د پانګې جریان ټیټېدونکي بهیر درلوده. د سوداګری د بیلانس وضعیت له دې امله لا خراب شوی چې د تولیزو وارداتو کچه له تولیزه صادراتو څخه ډېره زیاته شوې ده. له بلې خوا نړیواله خالصه زېرمې په دریمه ربعه کې ډېر کم یعني یو سلنه لوړې شوې دي. که څه هم د بهرنې پورراینې کچه تر ۱۵ سلنې پورې راټیټه شوې ده، خو د بهرنې پوراینې پالیسي چې د حکومت لخوا پرمخ وړل کیږې د بهرنۍ پوراینې (بدهي) له وضعیت سره مرسته کړې چې په کنټرول وړ حدودو کې پاتې شي.

تر ټولو مهمه خبره دا ده چې د پوراینې ادائنه بایـد په منظم ډول وځارل شي څو د مهمو پراختیایي پروګرامونو د تمویل لپاره خنډ جوړ نه کړي.

**۱. د ادواینو بیلانس**

۱.۱ جارې حساب

د ۱۳۹۲ مالي کال د دریمې ربعې په پرتله د ۱۳۹۳ مالي کال په دریمه ربعه کې د جاري حساب په بیلانس کې ۳۰ سلنه رغونه راغلې چې لاملونه یې د ۱۳۹۳ مالي کال په دریمه ربعه کې د توکو د صادراتو زیاتیدنه، په خدماتو حساب کې د پیسو د خروج (Outflows) کمېدنه، د توکو په وارداتو کې کمېدنه او همدا ډول د عوایدو حساب او (خالصه) جاري انتقالاتو کې کمیدنه ده.

شته شمېرې ښکاره کوي چې د راپور ورکونې په موده کې د مصرفي توکو واردات د ټولیزه وارداتو ۳۲ سلنه جوړوي.

**۱.۴جدول. د جاري حساب بیلانس**

| | ۱۳۹۱ مالي کال | د ۱۳۹۲ دریمه ربعه | د ۱۳۹۳ دریمه ربعه |
|---|---|---|---|
| د جاري حساب بیلانس | **-5008.73** | **-1698.10** | **-1188.33** |
| د سوداګرۍ بیلانس | -6306.86 | -2362.86 | -1584.71 |
| صادرات | 261.63 | 146.59 | 172.48 |
| واردات | -6568.49 | -2509.45 | -1757.19 |
| د خدمتونو حساب | 368.51 | 309.82 | 242.69 |
| د عوایدو حساب | 269.87 | 112.76 | 46.31 |
| جاري انتقالات | 659.75 | 242.18 | 107.38 |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۱.۴ ګراف: د جاري حساب بیلانس




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۲.۱ پانګه ایز او مالي حسابونه

د افغانستان خالص پانګه ایز حساب د ۱۳۹۳ مالي کال په درېمه ربعه کې ۳۲۶.۹۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۲ مالي کال د دریمې ربعې د ۷۱۳.۷۷ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله شاوخوا ۵۴ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. د پانګې په حساب کې د دې ټیټوالي لامل یوازې د پانګې په لیږدونو پورې تړاو لري چې له ۷۱۴.۶۷ میلیونه امریکایي ډالرو څخه د ۱۳۹۳ مالي کال په درېمه ربعه کې ۳۴۳.۸۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته یعنې ۵۲ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

همدا ډول خالصه مالي حساب چې د مالي شتمنیو او پوراینو خالصه ګټه او زیان ښکاره کوي، د ۱۳۹۲ مالي کال د دریمې ربعې ۴۷۳.۰۶ میلیونه امریکایي ډالرو ډیریدنې (مازاد) وضعیت څخه د ۱۳۹۳ مالي کال په درېمه ربعه کې ۳۳۰.۶۲ میلیونه امریکایي ډالرو کسري وضعیت ته اوښتی دی( دویم جدول، دویم ګراف).

د دې اوښتنې او بدلون اصلي لاملونه د هیواد په شتمنه ایزه زیرمو، په بهرنیو مستقیمو پانګونو (FDI)او د پورتفولیو د پانګونې په ورود کې د پام وړ ټیټوالی دی. همدا ډول د شمیرو شننه ښکاره کوي چې په بهر کې د هیواد د شتمنیو کچه د ۱۳۹۲ مالي کال د دریمې ربعې له ۸۶.۸۰ میلیونه امریکایي ډالرو څخه د ۱۳۹۳ مالي کال په دریمه ربعه کې ۵۶.۹۳ میلیون امریکایي ډالرو ته راښکته شوې ده.

همدا ډول تولیزه مالي پوراینې په ورته دوره کې له ۲۳.۴۰ میلیونه امریکایي ډالرو څخه ۳۹.۲۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته زیاتې شوې دي چې لامل یې په هیواد کې د نا امنۍ له امله د مالي جریان راټیټېدل دی چې دې راټیټېدنې دواړه بهرنۍ مستقیمې پانګونې او د پورتفولیو پانګونې اغیزمنې کړې دي.

### ۲.۴ جدول: پانګه ایز او مالي حسابونه

| | ۱۳۹۱ مالي کال | د ۱۳۹۲ درېمه ربعه | د ۱۳۹۳ درېمه ربعه |
|---|---|---|---|
| پانګه ایز او مالي حسابونه | **1237.71** | **240.77** | **607.17** |
| پانګه ایز حساب | 2615.74 | 713.77 | 326.91 |
| پانګه ایزې لیږدونې (انتقالات) | 1776.42 | 714.67 | 343.82 |
| مالي حساب | -949.26 | -473.06 | 330.62 |
| شتمنه ایزه زیرمې | -702.19 | -413.89 | 316.96 |

۲.۴ ګراف: پانګه ایز او مالي حساب




### ۱.۲.۱ بهرنۍ مستقیمه پانګونه(FDI)

د شته شمېرو له مخې، د افغانستان بهرنۍ پانګونه (FDI)د ۱۳۹۲ مالي کال د درېمې ربعې په پرتله د ۱۳۹۳ مالي کال په ورته ربعه کې ۱۷ سلنه کمه شوې ده. څنګه چې ۳.۴ ګراف ښکاره کوي بهرنۍ مستقیمه پانګونه د ۱۳۹۳ مالي کال په درېمه ربعه کې ۲۱ سلنه کمه شوې چې ۸.۰۳ میلیونو ډالرو ته رسیږي حال دا چې د ۱۳۹۲ مالي کال په درېمه ربعه کې یې کچه ۹.۷۲ میلیونه امریکایي ډالره وه.

د بهرنۍ مستقیمې پانګونې په کچه کې د دې ټیټوالي عمده لامل په هیواد کې امنیتي او سیاسي نا ډاډمنتیا ښودل شوې ده.

۳.۴ ګراف: بهرنی مستقیمې پانګونې




### ۳.۱ د توکو سوداګري( د مال التجاره سوداګری)

د توکو د سوداګری شمېرې ښکاره کوي چې د مال التجاره د سوداګری د کسر واټن د ۱۳۹۳ مالي کال په دریمه ربعه کې د تیر کال د ورته ربعې په پرتله ۳۲ راکم شوی او ۱،۵۱۲.۲۰ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیدلی، حال دا چې د ۱۳۹۲ مالي کال په دریمه ربعه کې د ۲،۲۱۴.۱۲ میلیونه امریکایي ډالره ؤ چې دا د سوداګری کسر د کورني ناخالصه تولیداتو نژدې ۷ سلنه جوړوي.

د ۱۳۹۳ مالي کال په دریمه ربعه کې ټولیزه وارداتو د ۲۹ سلنې په کچه د پام وړ کموالی درلود، په داسې حال کې چې ټولیزه صادراتو بیا شاوخوا ۲۶ سلنې پورې زیاتوالی موندلی دی.

د تجارتي توکو (د مال التجاره) د سوداګری د احصائیې له مخې، تر ارزونې لاندې دوره کې، ټولیزه واردات ۱۶۶۵.۹۸ میلیونه امریکایي ډالره ثبت شوي دي، په داسې حال کې چې دا شمېره د تیر کال په همدې دوره کې ۲۳۳۶.۴۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیده. د توکو د ټولیزه وارداتو لګښت د دریو مهمو وارداتي کټګوریو په ځانګړې توګه د تیلي او روغني موادو له امله راکم شوی دی. د یادو موادو ارزښت د ۱۳۹۳ مالی کال په دریمه ربعه کې ۲۴۹.۶۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیده چې د ۱۳۹۲ مالي کال د دریمې ربعې د ۶۷۷.۳۷ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله، ۶۵ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. پانګه ایزه توکي ( ثابته شتمنی) او داسې نور تر ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې ۶۶۶.۸۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۲ مالي کال د دریمې ربعې د ۹۲۳.۷۹ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲۸ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. همدا ډول صنعتي مواد له ۳۰۵.۲۲ میلیونه امریکایي ډالرو څخه ۱۷۹.۷۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته راښکته شوي دي چې ۴۱ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

بلې خوا ته، د مصرفي توکو د وارداتو کچه د ۱۳۹۳ مالي کال په دریمه ربعه کې شاوخوا ۵۶۹.۷۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۲ مالي کال د دریمې ربعې د ۴۳۰.۱۰ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۳۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. ټولیزه صادرات د ۱۳۹۳ مالي کال په دریمه ربعه کې ۱۵۳.۷۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته دورې د ۱۲۲.۳۶ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د سوداګریزو احصائیو پر بنسټ، د صادراتو ټولو کټګوریو په دریمه ربعه کې لوړیدونکی بهیر درلود. د غالیو او ټغرو د ټولیزه صادراتو کچه د ۱۳۹۳ مالي کال په دریمه ربعه کې ۳۱.۱۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۲ مالي کال د دریمې ربعې د ۱۵.۹۰ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۹۶ سلنه د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي. خوراکي توکي لکه وچه او تازه میوه، طبي نباتات او داسې نورې کټګورۍ د هغو مهمو کټګوریو په لیکه کې راځي چې د ټولیزه صادراتو د کچې په لوړولو کې یې مهم رول

درلودلی دی. د دې خلاف د ځرمنو او وړیو د صادراتو کچه په دریمه ربعه کې ۱۳.۰۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیدلې چې د تیرې ورته دورې د ۲۰.۷۳ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله یې ۳۷ سلنه ټیټوالی موندلی دی.

۳.۴ جدول له ۱۳۸۹ کال څخه د ۱۳۹۳ مالي کال د دریمې ربعې تر پایه پورې د تجارتي توکو د سوداګرۍ مهمې کټګورۍ ښکاره کوي.

**۳.۴ جدول: د تجارتي توکو سوداګري ( په میلیون ډالر)**

| کلونه | ۱۳۹۳ مالي کال – دریمه ربعه | | ۱۳۹۲ مالي کال – دریمه ربعه | | ۱۳۹۱ مالي کال | | ۱۳۹۰ مالي کال | | ۱۳۸۹ مالي کال | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | مجموعه | ونډه (سلنه) | مجموعه | ونډه (سلنه) | مجموعه | ونډه (سلنه) | مجموعه | ونډه (سلنه) | مجموعه | ونډه (سلنه) |
| واردات | **5,154.31** | **100%** | **6,388.37** | **100%** | **6,419.67** | **100%** | **2,336.48** | **100%** | **1,665.98** | **100%** |
| صنعتي مواد | 602.48 | 11.7% | 614.77 | 9.6% | 969.88 | 15.1% | 305.22 | 13.1% | 179.72 | 10.8% |
| تیل او روغنیات | 1,022.66 | 19.8% | 2,184.59 | 34.2% | 1083.65 | 16.9% | 677.37 | 29.0% | 249.64 | 15.0% |
| مصرفي توکي | 803.67 | 15.6% | 857.38 | 13.4% | 1255.48 | 19.6% | 430.10 | 18.4% | 569.79 | 34.2% |
| پاتګه ایزه توکي او داسې نور | 2,725.50 | 52.9% | 2,731.63 | 42.8% | 3,111 | 48.5% | 923.79 | 39.5% | 666.83 | 40.0% |
| صادرات | **388.37** | **100%** | **375.03** | **100.0%** | **261.63** | **100%** | **122.36** | **100%** | **153.78** | **100%** |
| غالۍ او ټغر | 68.83 | 18% | 46.60 | 12.4% | 8.4 | 3.2% | 15.90 | 13.0% | 31.14 | 20.2% |
| خوراکي توکي | 156.35 | 40% | 133.39 | 35.6% | 104.23 | 39.8% | 41.38 | 33.8% | 56.68 | 36.9% |
| ځرمن او وړۍ | 53.84 | 14% | 28.07 | 7.5% | 26.82 | 10.3% | 20.73 | 16.9% | 13.08 | 8.5% |
| طبي بذرونه او داسې نور | 109.35 | 28% | 166.97 | 44.5% | 122.15 | 46.7% | 44.35 | 36.2% | 52.88 | 34.4% |
| د سوداګرۍ بیلانس | **-4,765.94** | | **-6,013.34** | | **-6,158.04** | | **-2,214.12** | | **-1,512.20** | |
| د کورني ناخالص تولید له مخې د سوداګرۍ د بیلانس سلنه | -28% | | -33% | | -31% | | -11% | | -7% | |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۴.۴ ګراف: د سوداګرۍ کړنې او د سوداګرۍ بیلانس**




## ۳. د سوداګرۍ لوري

د افغانستان د صادراتو لپاره عمده هیوادونه پاکستان، ایران، هند، چین او د مشترک المنافع ( ګډو ګټو) خپلواکه دولتونه (CWS) دي. د تجارتي توکو د سوداګرۍ د احصائیو پر بنسټ، پاکستان په دریمه ربعه کې د افغانستان د صادراتو لپاره د نورو هیوادونو په منځ کې لومړی مقام درلود.

په دریمه ربعه کې پاکستان ته د افغانستان د صادراتو کچه ۶۲.۹۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته ورسیده چې د تیرې ربعې د ۴۴.۲۱ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۴۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. پاکستان ته د صادراتي توکو ستره برخه غالی او ټغر، تازه او وچې میوې، مالوچ، طبي بذرونه او داسې نور توکي جوړوي. د غالیو او ټغرونو د صادراتو کچه د تیرې ربعې له ۰.۸۳ میلیونه امریکایي ډالرو څخه تر ارزونې لاندې ربعه کې ۲۷.۷۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته چټک زیاتوالی موندلی دی. په ورته وخت کې پاکستان ته د خوراکي توکو لکه د وچې او تازه میوې د صادراتو کچه ۲۱.۸۳ ملیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیرې دورې د ۱۰.۱۰ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي.

هند، د افغانستان د صادراتو لپاره د نورو هېوادونو په منځ کې د ۲۴.۳۳ سلنې ونډې په درلودلو سره دویم ستر مقام لري. له افغانستان څخه هند ته د تولیزه صادراتو کچه ۳۷.۴۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۳۲.۰۹ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۱۷ سلنه زیاتوالی لري. هند ته د صادراتو د زیاتیدو اصلي لامل د طبي بذرونو او خوراکي توکو( د تازه او وچو میوو) زیاتوالی په ګوته شوی دی.

د افغانستان د صادراتو لپاره په دریمه ربعه کې د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه (CIS) د نورو هېوادونو په منځ کې د شاوخوا ۷.۷۶ سلنې ونډې په درلودلو سره دریم ستر ځای لري. د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونو (CIS) ته د افغانستان د صادراتو کچه د ۱۳۹۲ مالي کال د دریمې ربعې له ۱.۵۶ میلیونه امریکایي ډالرو څخه د ۱۳۹۳ مالي کال په دریمه ربعه کې ۱۱.۹۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته زیاته شوې ده.

ایران، د افغانستان د صادراتو لپاره د نورو هېوادونو په منځ کې د ۶.۱۷ سلنې ونډې په درلودلو سره څلورم مقام لري. ایران ته د افغانستان د ټولیزه صادراتو کچه په دریمه ربعه کې ۹.۴۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۲ مالي کال د دریمې ربعې د ۵.۵۶ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۷۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. ایران ته د ټولیزه صادراتو ستره برخه خوراکي توکي، وچه میوه، تیلي بذرونه او داسې نور نامشخص توکي جوړوي.

همدا ډول، چین د ۱۳۹۳ مالي کال په دریمه ربعه کې د ۲.۸۴ سلنې ونډې په درلودلو سره د افغانستان د صادراتو لپاره وروستی ستر هېواد دی. چین ته د افغانستان د ټولیزه صادراتو کچه د ۱۳۹۲ مالي کال د دریمې ربعې له ۵.۰۳ میلیونه امریکایي ډالرو څخه د ارزونې په موده کې ۴.۳۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته راښکته شوې ده.

**۴.۴ جدول: د بهرنی سوداګری لوری – د ۱۳۹۳ مالي کال دریمه ربعه (میلیون امریکایي ډالر)**

| د هېواد نوم | صادرات | د ونډې سلنه | واردات | د ونډې سلنه | د سوداګرۍ بیلانس |
|---|---|---|---|---|---|
| پاکستان | 62.92 | 40.92% | 312.00 | 18.73% | -249.08 |
| هند | 37.41 | 24.33% | 22.64 | 1.36% | 14.77 |
| ایران | 9.49 | 6.17% | 256.82 | 15.42% | -247.33 |
| جرمني | 2.25 | 1.46% | 7.56 | 0.45% | -5.31 |
| چین | 4.36 | 2.84% | 222.00 | 13.33% | -217.64 |
| انګلستان | | 0.00% | 1.39 | 0.08% | -1.39 |
| سعودي عربستان | 0.25 | 0.16% | | 0.00% | 0.25 |
| د امریکا متحده ایالات | | 0.00% | 26.64 | 1.60% | -26.64 |
| د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه (CIS) | 11.94 | 7.76% | 387.94 | 23.29% | -376.00 |
| جاپان | | 0.00% | 27.71 | 1.66% | -27.71 |
| نور هېوادونه | 25.16 | 16.36% | 401.28 | 24.09% | -376.12 |
| **مجموعه** | **153.780** | **100%** | **1,665.98** | **100%** | **(1,512.20)** |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۵.۴ جدول: د بهرنی سوداګری لوری- د ۱۳۹۲ کال درېمه ربعه ( میلیون امریکایي ډالر)

| د هېواد نوم | صادرات | د ونډې سلنه | واردات | د ونډې سلنه | د سوداګرۍ بیلانس |
|---|---|---|---|---|---|
| پاکستان | 44.21 | 36.13% | 355.50 | 15.22% | -311.29 |
| هند | 32.09 | 26.23% | 38.15 | 1.63% | -6.06 |
| ایران | 5.56 | 4.54% | 468.97 | 20.07% | -463.41 |
| جرمني | 1.62 | 1.32% | 48.94 | 2.09% | -47.32 |
| د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه (CIS) | 1.56 | 1.27% | 674.98 | 28.89% | -673.42 |
| چین | 5.03 | 4.11% | 96.25 | 4.12% | -91.22 |
| سعودي عربستان | 0.00 | 0.00% | | 0.00% | 0.00 |
| جاپان | | 0.00% | 13.64 | 0.58% | -13.64 |
| انګلستان | | 0.00% | 4.04 | 0.17% | -4.04 |
| د امریکا متحده ایالات | | 0.00% | 16.99 | 0.73% | -16.99 |
| نور هېوادونه | 32.29 | 26.39% | 619.02 | 26.49% | -586.73 |
| مجموعه | **122.36** | **100.00%** | **2336.48** | **100.00%** | **-2214.12** |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۵.۴ ګراف: د صادراتو لوری ( د ونډې سلنه)
د ۱۳۹۳ مالي کال – درېمه ربعه




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۶.۴ ګراف: د صادراتو لوری ( د ونډې سلنه) د ۱۳۹۲ مالي
کال – درېمه ربعه




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۱.۳. د سوداګرۍ ترکیب

د ۱۳۹۳ مالي کال په درېمه ربعه کې د وارداتو ترکیب ښکاره کوي چې د مصرفي توکو واردات د وارداتو په ټوکرۍ کې تر ټولو ستره برخه جوړوي. د مصرفي توکو د وارداتو کچه تر ارزونې لاندې ربعه کې ۵۶۹.۷۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۲ مالي کال د درېمې ربعې د ۴۳۰.۱۰ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۳۲.۵ سلنه د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي. د دې زیاتوالي عمده لامل بهرنیو توکو لپاره کورنۍ لوړه تقاضا ده چې د ټاکلو خوراکي توکو لپاره یې په درېمه ربعه کې د لګښت کچه زیاته کړې ده.

دویمه لویه ونډه پانګه ایزه توکو (ثابته شتمنۍ) او داسې نورو توکو ثبت کړې ده، چې د ۱۳۹۲ مالي کال د درېمې ربعې د ۳۹.۵ سلنې په پرتله د ۱۳۹۳ مالي کال په درېمه ربعه کې د کمې زیاتیدنې سره تر ۴۰ سلنې رسیدلې ده. د پانګه ایزو او نورو توکو د واردولو لګښت په ټولیزه وارداتو کې د ۱۳۹۳ مالي کال په درېمه ربعه کې ۶۶۶.۸۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته

دورې د ۹۲۳.۷۹ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله شاوخوا ۲۸ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

په ټولیزه وارداتو کې د نفتو او روغنیاتو (نفتي موادو) د وارداتو لګښت په دریمه ربعه کې د ۱۵ سلنې ونډې په درلودلو سره ۲۴۹.۶۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته ورسید، حال دا چې د ۱۳۹۲ مالي کال په دریمه ربعه کې د ۲۹ سلنه ونډې په درلودلو سره ۶۷۷.۳۷ میلیونه امریکایي ډالره ؤ چې ۶۳ سلنه د پام وړ ټیټوالی ښکاره کوي.

همدا ډول د صنعتي موادو کچه چې د وارداتو د توکو په وروستي ردیف کې راځي د ۱۳۹۳ مالي کال په دریمه ربعه کې له ۱۳.۱ سلنې څخه ۱۰.۸ سلنې ته راټیټه شوې ده. د صنعتي موادو د ټولیزه وارداتو د واردولو لګښت په دریمه ربعه کې ۱۷۹.۷۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیرې ربعې د ۳۰۵.۲۲ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۴۱ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. د صنعتي موادو لکه فلزونه، کیمیاوي سره یا پارو، کیمیاوي مواد او سیمنټو عرضه، د سیاسي او امنیتي ناډاډمنتیا له امله په ټول هیواد کې د پرمختیایي پروژو په شمېر کې د کموالی په پایله کې راکمه شوې ده.




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه




د تجارتي توکو (مال التجاره) د سوداګرۍ د شمېرو پر بنسټ، خوراکي توکو د ۱۳۹۳ مالي کال د دریمي ربعې په ټولیزه صادراتو کې تر ټولو ستره ونډه درلوده. د خوراکي توکو د صادراتو کچه د ۱۳۹۳ مالي کال په دریمه ربعه کې شاوخوا ۵۶.۶۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۲ مالي کال د دریمي ربعې د ۴۱.۳۸ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۳۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

سره له دې چې طبي بذرونه د ټولیزه صادراتو دویمه ستره برخه جوړوي خو د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې یې ونډه له ۳۶.۲ سلنې څخه ۳۴.۴ سلنې ته راټیټه شوې ده.

همدا ډول غالې او ټغرونه چې په تیرو لسیزو کې یې د افغانستان د صادراتو ستره برخه جوړوله، تر ارزونې لاندې ربعې کې په ټولیزه صادراتو کې دریمه لویه ونډه درلوده.

د توکو د سوداګرۍ د دري میاشتنی پرتلیزه شمېرو پر بنسټ، د غالیو او ټغرونو صادراتو تر ارزونې لاندې ربعه کې شاوخوا ۹۶ سلنه زیاتوالی موندلی دی. د غالیو او ټغرونو د صادراتو کچه چې په تیره ربعه کې ۱۵.۹۰ میلیونه امریکایي ډالره ثبت شوې وه تر ارزونې لاندې ربعې کې ۳۱.۱۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته زیاته شوې ده.

د خرمنو او وړیو د صادراتو کچه تر ارزونې لاندې ربعې

کې ۱۳.۸ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي چې د تیرې ربعې د ۲۰.۳۷ میلیونه امریکايي ډالرو په پرتله ۳۷ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

۹.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب د ۱۳۹۲ مالي کال دریمه ربعه
( د ونډې سلنه )




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۱۰.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب د ۱۳۹۳ مالي کال
دریمه ربعه ( د ونډې سلنه )




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۴. بهرنی پوراینې

د افغانستان بهرنی پوراینې (بدهي) د ۱۳۹۳ کال په دریمه ربعه کې ۲،۲۸۵.۱۷ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۲ مالي کال د دریمې ربعې د ۲،۶۸۴.۷۵ میلیونه امریکايي ډالرو په پرتله ۱۵ سلنه یا ۳۹۹.۵۸ میلیونه امریکايي ډالره ټیټوالی ښکاره کوي. د ټولیزه بهرنیو پوراینو د ټیټوالي لاملونه د بهرنی سوداګرۍ د پور اداینې، د نړیواله خالصه شتمنیو (NIR) د اماناتو او د برداشت په ځانګړي حقونو (SDR) کې کموالی ګڼل کیږي. د برداشت ځانګړي حقونه (SDR) د پیسو د نړیوال صندوق (IMF) لخوا ټاکل کیږي.

د ارزوني لاندې ربعې په اوږدو کې د پرمختیا نړیوالې ټولنې( نړیوال بانک)، د اسلامي پرمختیایي بانک (IDB)، د آسیا پرمختیایي بانک (ADB) او د پرمختیا لپاره د سعودي صندوق (SFD) ته د پور د اصلي مبلغ بیا اداینه شوې، په داسې حال کې چې د پرمختیا نړیواله ټولنې، د آسیا پرمختیایي بانک (ADB)، پرمختیایي اسلامي بانک (IDB) او د اوپک (OPEC ) صندوق ته د خدمتونو لګښت تادیه شوی دی.

د افغانستان لپاره د ستر څو اړخیزه پور ورکونکي په توګه د پرمختیا نړیواله ټولنه او بلغاریا افغانستان ته د پاریس کلب نه بهر د پور ورکوونکي په توګه په روانه ربعه کې ځینو پوروونو اصلي برخه بخښلې او د آسیا پرمختیایي بانک (ADB) د اصلي پوروونو ترڅنګ د خدمتونو لګښت هم افغانستان ته بخښلی دی.

د مالیې وزارت د شمېرو پر بنسټ، افغانستان ته د پاریس کلب د پور کچه په دریمه ربعه کې۹۴۳.۶۴ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي چې د روسیې فدراسیون ته ورکول کیدونکي دي.

په بله وینا، افغانستان ته کوم پوروونه چې د پاریس کلب غړو ورکړي د ټولو جاري بهرنیو پوروونو ۴۱.۲۹ جوړوي، چې د تیر کال د ورته ربعې په پرتله نژدې ۱۸.۱ سلنه کموالی یې موندلی دی.

سربېره پر دې، د پاریس کلب له غړو پرته لکه پرمختیا لپاره د سعودي صندوق، بلغاریا، د کویټ صندوق او د ایران د پور ورکونې کچه د ۱۳۹۳ مالي کال په دریمه ربعه کې ۸۷.۰۹ میلیونه امریکايي ډالرو ته ورسیده.

له بلې خوا د څو اړخیزو کریډیټونو کچه ۱،۲۵۴.۴۵ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې په

**۶.۴ جدول: بهرني پورونه: د ۱۳۹۳ مالي کال – دریمه ربعه( په ذکر شوي واحدونو کې)**

| | په میلیون ډالر | ټولیزه سلنه |
|---|---|---|
| ټولیزه بهرنی پوراینې | 2,285.17 | 100.00 |
| دوه اړخیزه | 1,030.72 | 45.10 |
| د پاریس کلب | 943.64 | 41.29 |
| د روسیې فدراسیون | 943.64 | 41.29 |
| متحده ایالات | - | 0.00 |
| جرمني | - | 0.00 |
| د پاریس کلب پرته | 87.09 | 3.81 |
| څو اړخیزې ټولنې: | 1,254.45 | 54.90 |
| پرمختیا نړیواله ټولنه ( نړیوال بانک) | 410.32 | 17.96 |
| آسیا پرمختیایي بانک | 686.02 | 30.02 |
| پیسو نړیوال صندوق | 113.30 | 4.96 |
| اسلامي پرمختیايي بانک | 43.03 | 1.88 |
| د اوپک صندوق | 1.79 | 0.08 |

سرچینه: د پوراینې د شتمنیو د مدیریت واحد، د افغانستان د مالیې وزارت

پای کې د ۱،۳۹۴.۷۱ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي.

۱۱.۴ ګراف: د بهرنۍ پوراینې مقایسه: د ۱۳۹۲ مالي کال – دریمه ربعه او ۱۳۹۳ مالي کال– دریمه ربعه




## ۵. خالصه نړیواله زیرمې

د وروستیو شمېرو پر بنسټ خالصه نړیواله زیرمې ۶،۷۷۱.۲۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته دورې د ۶،۷۰۳.۴۷ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ډېر کم یعني شاوخوا یو سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د خالصه نړیواله زیرمو (NIR) د کچې د زیاتیدو عمده لامل د شتمنیو د زېرمو زیاتوالی دی چې ۷،۱۶۰.۳۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي او د ۱۳۹۲ مالي کال د دریمې ربعې د ۷،۱۴۰.۶۹ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله یې ډېر کم زیاتوالی موندلی دی.

له بلې خوا، د پوراینې د زېرمو کچه په دریمه ربعه کې ۳۸۹.۰۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیده چې د ۱۳۹۲ مالي کال د دریمې ربعې د ۴۳۷.۲۲ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله شاوخوا ۱۱ سلنه کموالی ښیي چې دا شمېرې ښکاره کوي چې د پوراینې د زېرمې د کچې په پرتله د شتمنیو زېرمو کچه لوړه ده. د پوراینې زېرمې د کچې د ټیټیدو اصلي لامل په بهرنیو اسعارو د سوداګریزو بانکونو امانات په ګوته شوي چې د ۱۳۹۳ مالي کال په دریمه ربعه کې ۲۷۰.۰۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیرې ربعې د ۳۰۰.۱۶ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۱۰.۰۴

سلنه ټیټوالي ښکاره کوي. له تمویلي منابعو څخه د ګټې اخیستنې کچه ۱۱۸.۸۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي

متکا چمتو کوي. اوس مهال، خالصه نړیواله زېرمې (NIR) په منځني ډول شاوخوا د ۳۶ میاشتو وارداتو لپاره بسنه

**۷.۴ جدول: خالصه نړیواله زېرمې، د ۱۳۹۳ مالي کال دریمه ربعه (میلیون امریکایي ډالر)**

| په تیره ربعه کې بدلونونه | ۱۳۹۰ | د بدلونونو سلنه | ۱۳۹۱ | د بدلونونو سلنه | ۱۳۹۲ دریمه ربعه | د بدلونونو سلنه | ۱۳۹۳ دریمه ربعه | د بدلونونو سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| خالصه نړیواله زېرمې (په میلیون ډالر) | **5,764.05** | 23.22 | **6,471.94** | 12.28 | **6,703.47** | 3.58 | **6,771.29** | 1.01 |
| د شتمنۍ زېرمې | **6,130.38** | 22.71 | **6,866.79** | 12.01 | **7,140.69** | 3.99 | **7,160.32** | 0.27 |
| د پورواينې زېرمې | **366.34** | 10.91 | **394.85** | 7.78 | **437.22** | 10.73 | **389.03** | -11.02 |
| په بهرنیو اسعارو د سوداګریزو بانکونو امانات | **227.72** | 4.00 | **245.00** | 7.59 | **300.16** | 22.51 | **270.02** | -10.04 |
| په بهرنیو اسعارو د نا میشتو امانات | **0.11** | -89.57 | **0.11** | 0.00 | **0.14** | 23.87 | **0.14** | 0.00 |
| له تمويلي منابعو څخه ګټه اخیستنه | **138.51** | 17.53 | **149.73** | 8.10 | **136.92** | -8.56 | **118.88** | -13.18 |
| ناخالصه نړیواله زېرمې ( د وارداتو د میاشتې په اساس) | **11.52** | | **12.84** | | **27.51** | | **38.68** | |
| خالصه نړیواله زېرمې ( د وارداتو د میاشتې په اساس) | **10.83** | | **12.10** | | **2.87** | | **36.58** | |

چې د ۱۳۹۲ مالي کال د دریمې ربعې د ۱۳۶.۹۲ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۱۳.۱۸ سلنه ټیټه شوې ده.

په بهرنیو اسعارو کې د نامیشتو اماناتو د پورواينې د زېرمې کچې د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې هیڅ ډول بدلون نه دی موندلی.

په خالصو شتمنیو کې د زیاتوالي عمده لاملونه د صادراتو عواید، نړیواله مستقیمه پانګونه، جاري لیږدونې(انتقالات)، په بهرنۍ امانات اخیستونکو شرکتونو کې د بهرنیو اسعارو د اماناتو له کبله عواید او د آیساف ځواکونو لګښتونه او همدا ډول نړیوالې مرستې دي.

د خالصه نړیواله زېرمو (NIR) د زیاتیدنې عمده لامل د بهرنیو اسعارو د پام وړ ورود، په ځانګړې توګه د بهرنیو او شخصي پیسو لیږدیدنې په ګوته شوی دی. د افغانستان د خالصه نړیواله زېرمو اوسنی حالت د پولي سیاست د ظرفیت لوړولو او د تادیاتو بیلانس د ملاتړ لپاره یوه ښه

کوي، په داسې حال کې چې هغه هېوادونه چې د خپلو زېرمو له لارې د ۶ میاشتو واردات ترسره کولای شي د خپلو زېرمو له نسبتاً ښه وضعیت څخه خوښ ښکاري.

۱۲ ګراف: د افغانستان خالصه نړیواله زېرمې (NIR)په تیرو څو دورو کې ښکاره کوي.




سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت/ د افغانستان بانک

# ۵

# د مالياتي نظام پر مختياوې

# ۵

# د مالیاتي نظام پرمختیاوې

هغه نا ډاډمنتیا چې د سیاسي او امنیتي انتقال له امله رامنځه شوه، په هېواد کې پر ټولو اقتصادي کړنو منفي اغیزه وکړه. د دې ترڅنګ، د ولسمشریزو ټولټاکنو اوږدې پروسې چې ټولټاکنـــې یې دویم پړاو ته ویوړې، حالات نور هم ټکني کړل. د ولسمشریزو ټولټاکنو د پایلو د اعلان د ځنډېدو له امله ډېرې اقتصادي ستونزې رامنځ ته شوې. په مالیاتي سکتور باندې د دې لاملونو اغیزه ډېره زیاته وه چې پایله یې د تیر کال د ورته دورې په پرتله د عوایدو د راټولیدو د کچې ټیټوالی ؤ. د عوایدو په راټولیدو کې دا ټیټوالی لامل شو څو د حکومت لګښتونو لپاره شته تمویلي بودجه محدوده شي.

د کمو عوایدو راټولېدنه او په بهرنیو مرستو اتکاء د دې لامل شو څو د لګښتونو د کچې د زیاتیدنې په اړه د حکومت واک او اختیار محدود شي. د لومړني اټکلونو له مخې د ۱۳۹۳ مالي کال لپاره بودجه ای کسر ۶ سلنه ښودل شوی، خو د دې دورې په اوږدو کې به نوي پرمختګونه دا وښیي چې د بودجې کسر به له اټکل شوې سلنې څخه ډېر لوړ وي.

### ۱. د بودجې د اجراء نرخ

د شته شمېرو پر بنسټ، د بودجې د اجراء په نرخ کې د تیر کال د لومړیو دریو ربعو په پرتله د ۱۳۹۳ مالي کال په ورته موده کې د پام وړ ټیټوالی راغلی دی. د دریمې ربعې په پای کې نژدې ۵۵ سلنه عملیاتي بودجه تطبیق شوې چې د تیر کال په پرتله ۱۶ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

۱.۵ ګراف: د عملیاتي بودجې د اجراء نرخ د ۱۳۹۳ مالي کال له پیل څخه تر اوسه




۵.۲ ګراف: د پرمختیایي بودجې د اجراء نرخ: د ۱۳۹۳ مالي کال له پیل څخه تر اوسه




همدا ډول، د پرمختیایي بودجې د اجراء نرخ د ۱۳۹۳ مالي کال د دریمې ربعې په پای کې د کمزوره فعالیت ترڅنګ د تیر کال په پرتله ۴ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. د پرمختیایي بودجې د اجراء نرخ د دریمې ربعې په پای کې د ۱۳۹۳ مالي کال لپاره د ټولیزه پرمختیایي بودجې په سلو کې ۲۹ ته رسیږي، په داسې حال کې چې د پرمختیایي بودجې د اجراء نرخ د تیر کال په ورته دوره کې ۳۳ سلنې ته رسیده.

د بودجې د اجراء په نرخ کې ټیټوالی ډېر لاملونه لري چې

ډېر مهم يې د کورنيو عوايدو په راټوليدو او د بسپنه ورکوونکو (ډونرانو) په مرسته کې ټيټوالی دی. د حکومتي عوايدو د بې ساري کمښت سره سم د بسپنه ورکوونکو په مرسته کې د ځنډ او کمښت له امله د دولت لګښتونه اغيزمن شول چې پايله يې په اختياري او غير اختياري لګښتونو کې د مصارفو کمول وو. د هېواد په عامه مالياتي سکتور کې د دې نامطلوبه بدلونونو له امله د ۱۳۹۳ مالي کال په دريمه ربعه کې د بودجې د اجراء نرخ راټيټ شو.

### ۱.۱. د بودجې کسر

د دولت په عوايدو او د بسپنه ورکوونکو په مرسته کې د لنډ مهاله کمښت له امله د ملي بودجې کسر د ۱۳۹۳ مالي کال په لومړيو دريو ربعو کې زيات شوی دی. د بودجې کسر د درېمې ربعې( د ۲۰۱۴ کال د سپتمبر) په پای کې تر ۳۲.۴ ميلیارده افغانيو پورې زيات شو. حال دا چې د تېر کال په همدې دوره کې بودجې ۳۴.۳ ميلیارده افغانۍ ډېريدنه (مازاد) درلوده. د ټولیزې ملي بودجې د ۳۲.۴ ميليارد افغانيو کسر څخه ۲۲.۲ ميلیارده افغانۍ کسر عملیاتي بودجې او پاتې ۸.۹ ميلیارده افغانۍ کسر پراختيايي بودجې پورې اړه درلوده.

### ۲. د عوايدو راټولول

په هېواد کې د دوامداره نا ډاډمنتيا په پايله کې، د ټولیزه کورنيو عوايدو راټوليدو د ۱۳۹۳ مالي کال په لومړيو دريو ربعو کې د پام وړ ټيټوالی درلوده. د دې بې حده زيات ټيټوالي لامل په درېمه ربعه کې په ټولیزه وارداتو کې د مصرفي توکو ټيټوالي او په ځنډ او په کمه کچه په عوايدو د ماليې ورکونه په ګوته شوي ده.




د دواړو مالیاتي عوايدو او غير مالیاتي عوايدو په شمول ټولیزه کورني عوايد د ۱۳۹۳ مالي کال په درېمه ربعه کې ۲۳.۱ ميليارد افغانۍ ته ورسيدل چې د تير کال د ورته ربعې په پرتله ۴.۶ ميلیارده افغانۍ ټيټوالی ښکاره کوي.

د کال له پيله تر اوسه پورې د ټولیزه کورنيو عوايدو شمېرې ښکاره کوي چې د ټولیزه حقيقي کورنيو عوايدو کچه د کال له پيل څخه تر اوسه پورې ۷۰ ميلیارده افغانۍ ته رسيږي چې د هدف شوې کچې په پرتله ۲۵ سلنه ټيټوالی ښکاره کوي.

په مالیاتي او غير مالیاتي برخو د ټولیزه کورنيو عوايدو تفکيک، د بودجې په کورنيو منابعو کې د پرمختياو ښه انځور وړاندې کوي.



**۱.۲. مالیاتي عواید**

مالیاتي عواید د ټولیزه عوایدو تر ټولو ستره برخه ( د ګمرکي محصول په شمول شاوخوا ۷۹ سلنه) جوړوي. ټولیزه مالیاتي عواید ۱۵.۷ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۲ مالي کال د دریمې ربعې د ۲۱.۷ میلیارده افغانۍ په پرتله ۲۸ سلنه د پام وړ ټیټوالی ښکاره کوي.

ګمرکي محصول چې د ټولیزه مالیاتي عوایدو دویمه ستره برخه جوړوي، د تیر کال د دریمې ربعې په پرتله د روان کال په دریمه ربعه کې ۲۶ سلنه ټیټوالی درلود. ګمرکي محصول ( د کال له پیل څخه تر اوسه پورې) ۱۶.۶ میلیارد افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ورته دورې د ۱۹.۵ میلیارده افغانۍ په پرتله ۱۵ سلنه ټیټوالی لري.

**۵.۵ ګراف: د مالیاتي عوایدو مقایسه( په میلیون افغانۍ)**




**۲.۲. غیر مالیاتي عواید**

د تقاعد ونډه چې په کورنیو عوایدو کې د ټولنیزې بسپنې یوازینۍ برخه ده، د کال له پیل څخه تر اوسه په تیرو دریو ربعو کې ۲.۸ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۲ مالي کال د ورته دورې په پرتله ۱۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د کورنیو عوایدو بله کټګوري چې له ټولنیزې بسپنې پرته د دولت ټول غیر مالیاتي عواید رانغاړي، (د کال له پیل څخه تر اوسه پورې) ۱۸.۱ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ورته دورې د ۱۷.۵ میلیارده افغانۍ په پرتله ۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د کورنیو عوایدو په غیر مالیاتي برخه کې د پانګې او جایدادونو، د توکو او خدمتونو د پلورلو، اداري فیسونو، د امتیاز حقونو او د غیر مالیاتي جریمو څخه عواید، ستره او مهمه برخه جوړوي.

**۳.۲. بسپنه**

د روان مالي کال لپاره په ملي بودجه (عملیاتي او پرمختیایي) کې د بسپنه ورکوونکو (ډونرانو) ټولیزه ونډه شاوخوا ۲۶۸.۱ میلیارده افغانۍ اټکل شوې ده چې د ټولیزه ملي بودجې ۶۴ سلنه جوړوي. خو د بسپنه ورکوونکو واقعي ونډه د ۱۳۹۳ مالي کال د دریمې ربعې تر پایه پورې ۱۰۵.۴ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ژمنه شویو مرستو یوازې ۳۹ سلنه جوړوي.

د ۱۳۹۳ مالي کال په لومړیو دریو ربعو کې د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق( ARTF) تر پرګروام لاندې د بسپنه ورکوونکو ټولیزه ونډه ۳۳.۴ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر مالي کال د ورته دورې په پرتله ۲۵ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د یادې شوې شمیرې له ډلې څخه ۲۳.۴ میلیارده افغانۍ عملیاتي بودجې او پاتې پرمختیایي بودجې پورې اړه درلودلې ده.

**۶.۵ ګراف: د بسپنه ورکوونکو د مرستو ترکیب ( په میلیون افغانۍ)**



### ۳. لګښتونه

د دولت لګښتونه، عملیاتي او پرمختیایي لګښتونه رانغاړي. ټولیزه لګښتونه د ۱۳۹۳ مالي کال په لومړیو نهو میاشتو کې ۲۰۹ میلیارد افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ورته دورې د ۱۸۰.۱ میلیارده افغانۍ په پرتله ۱۶.۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.



# ۶

# د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی

# ۶
# د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی

په بانکي سکتور کې د بانکي سیستم شتمنی د ۲۰۱۴ زیږدیز کال د جون میاشتې د ۱.۷۹ سلنې ودې په پرتله د ارزونې لاندې ربعه کې تر ۱.۶۴ سلنې یا ۴.۰۰ میلیارده افغانی کمه شوې ده، چې د تېرې دورې (د ۲۰۱۳ کال د سپتمبر میاشت) راپدېخوا ۱.۸۶ سلنه کموالی ښکاره کوي. د بانکي سیستم د شتمنیو د کمېدو اصلي لامل د اماناتو کمېدل دی.

د بانکي سکتور د ناخالص پور پورتوفولیو د دریمې ربعې په موده کې ۴.۵۷ سلنه یا ۲.۱۴ میلیارده افغانی کمه شوې ده خو د ۲۰۱۴ کال د جون میاشتې د ۳.۱۴ سلنې زیاتوالي سره ارزښت یې په دې ربعه کې ۴۴.۷۶ میلیارده افغانی ته ورسیده. د ۲۰۱۳ زیږدیز کال د سپتمبر میاشتې په پرتله ناخالص پورونه ۵.۱۴ سلنه کمښت ښکاره کوي. د پور په پورتوفولیو کې د پورونو بیا تادیې، تصفیې او خسارې حساب او همدا ډول د نوي پورونو اداینه د کموالي لاملونه ګڼل کیږي.

امانات چې د بانکي نظام مهمه تمویلي سرچینه جوړوي او ارزښت یې ۲۰۰.۵۴ میلیارده افغانی ته رسیږي او د ټولیزه پوراینې په سلو کې ۹۶.۰۹ جوړوي، د تیرې ربعې ( د ۱۳۹۳ کال د غبرګولي) د ۲.۸۲ سلنې زیاتوالي په پرتله په دریمه ربعه کې ۱.۹۹ سلنه ټیټوالی وموند. د دې کموالی لاملونه د ولسمشریزه ټولټاکنو اوږده پروسه او پر اقتصاد باندې واکمنه ناډاډمنتیا ګڼل کیږي. د بانکي نظام زیاته اندازه امانات په امریکایي ډالرو (۶۰.۴۴ سلنه) او وریسې افغانی امانات ۳۵.۸۴ سلنه دي، د بانکي نظام افغانی امانات د ۱۳۹۳ مالي کال د غبرګولي میاشتې د ۷.۵۷ سلنې زیاتوالي پر وړاندې په سلو کې ۲.۹۷ زیاتوالی موندلی، په داسې حال کې چې ډالري امانات د ۱۳۹۳ مالي کال د غبرګولي میاشت کې د ۰.۲۶ سلنې ټیټوالي په وړاندې په دې ربعه کې ۵.۰۳ سلنه راټیټ شوي دي.

د بانکي نظام پانګې په دریمه ربعه کې پیاوړی وضعیت درلود او ۳۰.۱۲ میلیارده افغانی ته یې کچه رسیده، که څه هم د بانکي نظام د ګټورتیا (نافعیت) د کمیدو له امله دا پانګه لږ څه راکمه شوې ده. د بانکي نظام د پانګې د کفایت نسبت(Capital Adequacy Ratio-CAR) ۲۶.۲۶ سلنه ثبت شوی دی. د ټولو بانکونو د پانګې د کفایت نسبت له ټاکلي حد څخه پورته دی.

د بانکي سکتور ګټه د دې ربعې په موده کې کمه شوې ده چې د شتمنی ترلاسه شوې ګټه ۰.۳۷ سلنې او د پانګه اچوونکو د پانګې ترلاسه شوې ګټه ۲.۹۷ سلنې ته رسیږي، په داسې حال کې چې د ۲۰۱۴ کال په جون کې د شتمنی ترلاسه شوې ګټه ۰.۵۶ سلنه او د پانګه اچوونکو د پانګې ترلاسه شوې ګټه ۴.۵۷ سلنه وه. د بانکي نظام ګټه په دې ربعه کې ۲۹۷ میلیون افغانی ته رسیږي، په داسې حال کې چې د ۲۰۱۴ کال په جون کې د ګټې کچه ۴۵۷ میلیون افغانی وه. دولتي بانکونو، خصوصي بانکونو او د بهرنیو بانکونو څانګو دریمه ربعه له ګټې سره پای ته رسولې ده.

### ۱. د بانکي نظام شتمنی

د بانکي نظام شتمنی د ۱۳۹۳ مالي کال په غبرګولي میاشت کې د ۱.۷۹ سلنې ودې په پرتله په دریمه ربعه کې تر ۱.۶۴ سلنې کمه شوې ده.( ۱.۶ ګراف)

د ټولیزه شتمنیو اجزاء ښکاره کوي چې تر ټولو ښکاره

زیاتیدنه د بانکونو ترمنځ د طلباتو په برخه کې رامنځ ته شوي چې د ارزونې لاندې ربعې کې ۱.۱۰ میلیارده افغانۍ (۱.۶۸ سلنه) زیاتوالی لري، ورپسې د پانګونې کچه تر ارزونې لاندې ربعه کې ۶۴۷ میلیونه افغانۍ (۴.۸۵ سلنه) زیاتوالی ښکاره کوي. نګه (خالصه) پورونه، د ټولیزو شتمنیو "نورې" کټګورۍ او "په خزانه کې نغدي پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات" په ترتیب سره د ۵.۱۵ سلنه یا ۲.۲۹ میلیارده افغانۍ، ۳.۷۲ سلنه یا ۰.۷۵ میلیارده افغانۍ او ۲.۷۴ سلنه یا ۲.۷۰ میلیارده افغانۍ ټیټوالی ښکاره کوي.

د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د پورتفولیو مهمې برخې په خزانه کې نغدي پیسې/ په افغانستان بانک باندې طلبات (۴۰.۱۹ سلنه)، د بانکونو ترمنځ طلبات (۲۸.۰۴ سلنه)، خالصه پورونه (۱۷.۶۸ سلنه) او "نورې شتمنۍ" (۸.۲۱ سلنه) او پانګونې، د ټولیزه شتمنیو په سلو کې ۵.۸۶ سلنه جوړوي.

**۱.۶ جدول: د بانکي نظام د شتمنۍ او پوراینې ترکیب ( په میلیون افغانۍ)**

| شتمنۍ | د ۱۳۹۲ کال وږی (د ۲۰۱۳ سپتمبر) | د ۱۳۹۳ کال غبرګولی (د ۲۰۱۴ جون) | د ۱۳۹۳ کال وږی (۲۰۱۴ سپتمبر) | د ټولیزه شتمنیو/ پوراینو سلنه | درې میاشتنی بدلونونه |
|---|---|---|---|---|---|
| په خزانه کې نغدي پیسې او په افغانستان بانک باندې طلبات | 105,619 | 98,694 | 95,989 | 40.19% | -2.74% |
| پانګونې | 10,498 | 13,357 | 14,006 | 5.86% | 4.85% |
| د بانکونو ترمنځ طلبات | 57,056 | 65,863 | 66,971 | 28.04% | 1.68% |
| پورونه (خالصه) | 44,527 | 44,526 | 42,230 | 17.68% | -5.15% |
| NDF | 2,980 | - | - | - | - |
| نور | 22,680 | 20,376 | 19,618 | 8.21% | -3.72% |
| مجموعه | 243,360 | 242,816 | 238,814 | | -1.64% |
| پوراینې | | | | | |
| امانات | 208,881 | 204,620 | 200,542 | 96.09% | -1.99% |
| پور اخیستنې | 2,971 | 3,767 | 4,057 | 1.94% | 7.69% |
| NDT | 1,336 | - | - | - | - |
| نور | 11,805 | | 4,180 | 4,096 | 1.96% |
| مجموعه | 224,993 | 212,567 | 208,695 | | -1.82% |

سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت/ د افغانستان بانک

۱.۶ ګراف: د بانکي نظام په ټولیزه شتمنیو کې د بانکي ګروپونو ونډه




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

## ۱.۱. ناخالص پورونه

د بانکي نظام ناخالصه پورونه د تیرې ربعې راهیسې ۲.۱۴ میلیارده افغانۍ یا ۴.۵۷ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي چې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۱۸.۷۵ سلنه جوړوي. د پور په پورتوفولیو کې د پورونو بیا تادیه، تصفیه او د خسارې حساب او همدا ډول د نوي پورونو اداینه د کموالي ستر

لاملونه ګڼل کېږي. د پور ډېرولو په برخه کې درې بانکونه مخکښه دي، په داسې حال کې چې ۱۱ بانکونو خپله پورتوفولیو راټیټه کړې ده . همدا ډول دوه پاتې بانکونو ( نوی کابل بانک او پنجاب نشنل بانک) د پور ورکولو په برخه کې ونډه نه ده اخیستې؛ د ناخالصه پورونو په پورتوفولیو کې د بانکونو د ګروپونو ونډه کمه شوې ده. خصوصي بانکونو تر ارزوني لاندې ربعه کې د ټولیزې پورتفولیو د ۸۹.۵۴ سلنې ونډې په لرلو سره ۳.۷۰ سلنه یا ۱.۵۴ میلیارده افغانۍ ټیټوالی، د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ د پورتفولیو د ۲.۴۹ سلنې ونډې په درلودلو سره ۳۲.۳۸ سلنه یا ۵۳۴ میلیونه افغانۍ ټیټوالی او دولتي بانکونو د۷.۹۶ سلنې ونډې په درلودلوسره ۷۲ میلیونه افغانۍ ټیټوالی ښکاره کوي.

۲.۶ ګراف: د بانکي نظام د ټولیزه ناخالصه پورونو په پورتفولیو کې د بانکونو د ګروپونو ونډه




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت/ د افغانستان بانک

### ۱.۱.۱. د پور د زیان زېرمې

د اعتباري خطر د کچې د ارزولو پر مهال، بانکونه باید د خطر د کمولو د اړانې له مخې د اعتباري خطر د کمولو ابزارونو ته متوجې وي. بانکونه اړ دي چې د دواړو عمومي زېرمو (معیاري شتمنیو) او د ځانګړي تدارکاتو (غیر معیاري شتمنیو) د چمتو کولو له لارې خپل اعتباري خطرونه راکم کړي. د ۲۰۱۴ میلادي کال د سپتمبر میاشتې ( د ۱۳۹۳ د وږي) په پای کې د بانکي نظام ټولیزه تدارکاتي زېرمې د تیرې ربعې (د ۲۰۱۴ کال د جون) په پای کې د ۵.۰۸ سلنې په پرتله د ۲۰۱۴ کال د سپتمبر (د ۱۳۹۳ کال د وږي) په پای کې د ټولیزه ناخالصه پورونو ۵.۶۶ سلنه جوړوي.

### ۲.۱.۱. د کریډټ وېشنه

د دې لپاره چې د پور د پورتفولیو کچه پراخه او د خطر متنوع والی ارتوالی ومومي او د نویو عوایدو د ترلاسه کولو سربېره مالي منابعو ته لاسرسي زیات شي، د افغانستان بانک د نورو سوداګریزو پورونو د وېش سکتور په ۳۰ نورو سکتورونو[۲] وېشلی دی. د سکتور له پراخې تجزیې څخه معلومیږي چې د ۱۳۹۳ مالي کال په غبرګولي میاشت کې د ۸۱.۹۲ سلنې په پرتله ۷۹.۶۴ سلنه، د پور د پورتفولیو عمده برخه " د نورو سوداګریزو پورونو" په توګه ډله بندي شوی چې په عمده ډول د "ودانیز" سکتور لپاره (۱۳.۲۸ سلنه)، د "پرچونه سوداګرۍ" سکتور لپاره (۹.۳۰ سلنه) او د "تیلو او روغنیاتو" سکتور لپاره ( ۹.۰۴ سلنه) ځانګړې شوی ده. کرنیز او رهنې پورونه یو څه کم شوي چې په ترتیب سره د ټولیزه پورونو ۲.۳۶ سلنه او ۷.۹۰ سلنه جوړوي. د "نورو پورونو" له برخې پرته، ودانیز او تعمیراتي سکتور، د پرچونه سوداګرۍ سکتور، د تیلو او روغنیاتو او د رهني پورونو پر سکتور باندې تمرکز کول د پور ورکونې غالب بهیر جوړوي. د کوچني او منځنۍ تشبثاتو (SME) او د کوچني کریډټ د

[۲]. د ۱۳۹۳/۶/۲۶ نېټې ۹۳/۰۱ ګڼې د محاسبې او راپور ورکولو متحد المال

سکتورونو پورونه ۲.۱۹ میلیارده افغانۍ ته زیات شوي دي چې دا مهال یې کچه ۷.۲۲ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې دا ډول پورونه د شپږو بانکونو لخوا ورکول کیږي.

د پور ورکونې کچه لوړه شوې، که څه هم دا کچه د پور په ځینو کټګورۍ لکه کان کیندنې، کرنې او مخابراتو سکتورونو کې چې مهم اقتصادي سکتورونه دي، ډېره لوړه شوې نه ده. د اقتصاد په څو سکتورونو باندې د پورونو د تمرکز له امله بانکونه د کړکیچن وضعیت ترخنګ د کریډېټ له خطر سره مخامخ کیږي چې له امله یې ټول بانکي سکتور اغیزمن کیدای شي، بانکونه باید د هغه مهمو سکتورونو بالقوه خطرونه له نږدې وڅاري چې د صعب الحصول پورونو نسبت یې ډېر وي. د پورونو شاوخوا ۸۱.۰۲ سلنه لوموړی په کابل او بیا په هرات او بلخ ولایتونه کې ورکړل شوي حال دا چې په نورو ولایتونو کې د پورونو د وېش په تناسب کې انډول په پام کې نه دی نیول شوی. د بانکي نظام د پورونو په جغرافیایي، سکتوري او اداري وېش کې لازمه تنوع نه ده راغلې، خو تمه کیږي چې د وخت په تیریدو سره د پورونو د وېش متنوع کیدل زیات شي.

دا به ښه وي چې ټول بانکونه د پور په ورکولو کې فعاله ونډه واخلي او د پور ورکولو خدمتونه متنوع او په مالي نظام کې په ښه توګه خپل رول ترسره کړي.

**۲.۶ جدول: د کریډېټ سکتوري وېش**

| نسبتونه | د ۱۳۸۷ کب (د ۲۰۰۹ مارچ) | د ۱۳۸۸ کب (د ۲۰۱۰ مارچ) | د ۱۳۸۹ کب (د ۲۰۱۱ مارچ) | د ۱۳۹۰ کب (د ۲۰۱۲ مارچ) | د ۱۳۹۱ لیندۍ (د ۲۰۱۲ ډیسمبر) | د ۱۳۹۲ لیندۍ (د ۲۰۱۳ ډیسمبر) | د ۱۳۹۳ غبرګولی (د ۲۰۱۴ جون) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د سوداګریزه ملکیتونو او ودانیز پورونه | 0.19 | 19.92 | 25.98 | 2.85 | 2.29 | 2.02% | 1.65% |
| نور سوداګریز پورونه | - | - | - | - | - | - | 0.00% |
| کان کیندنه | - | - | 0.02 | 0.72 | 0.11 | 0.07% | 0.11% |
| تولیدات | 0.01 | 1.22 | 2.72 | 13.32 | 11.88 | 9.36% | 9.74% |
| سوداګري | 0.51 | 32.29 | 34.16 | 27.84 | 28.30 | 29.81% | 35.82% |
| اړیکې | 0 | 1.04 | 1.23 | 0.94 | 2.35 | 3.70% | 3.44% |
| خدمتونه | 0.09 | 4.84 | 6.72 | 11.95 | 15.94 | 22.11% | 22.01% |
| اسانتیاوې | 0.01 | 2.47 | 0.03 | 0.3 | 0.07 | 0.05% | 0.93% |
| نور | 0.09 | 25 | 8.42 | 10.89 | 10.50 | 10.00% | 9.86% |
| کرنیز پورونه | 0 | 0.88 | 0.75 | 2.06 | 2.66 | 2.38% | 2.50% |
| مصرفي پورونه | 0.02 | 1.33 | 1.01 | 0.82 | 0.74 | 0.24% | 0.26% |
| اشخاصو ته د استوګنې رهني پورونه | 0.01 | 7.3 | 8.95 | 15.65 | 14.46 | 10.84% | 8.29% |
| نور ټول پورونه | 0.05 | 3.69 | 10 | 12.65 | 10.71 | 9.41% | 8.53% |

سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

### ۳.۱.۱. د پورونو ډله بندي

#### ۱.۳.۱.۱. صعب الحصول پورونه

بانکونه باید هڅه وکړي چې د صعب الحصول پورونو د کچې د کمولو او د اعتباري خطر د مدیریت لپاره اقدامات پیاوړي کړي. بانکونه مکلف دي چې د پورونو لپاره غوښتلیکونه په دقت سره وارزوي او د پور اخیستونکي مالي حالت له نږدې څخه وڅاري، څو ډاډه شي چې د پورونو په پراختیا سره د مالي نظام ثبات ته کوم زیان نه رسیږي.

د ۱۳۹۳ مالي کال د وږي میاشتې په پای کې د صعب الحصول پورونو کچه ۲۷۵ میلیونه افغانۍ راښکته شوې چې د تیرې ربعې د ټولیزه ناخالصه پورونو د ۲.۹۵ میلیارده افغانیو یا ۶.۳۱ سلنې په پرتله ۲.۶۸ میلیارده افغانۍ دی چې د ټولیزه ناخالصه پورونو ۵.۹۹ سلنه جوړوي. ۷۹ سلنه صعب الحصول پورونه په یو دولتي بانک او دوو خصوصي بانکونو پورې تړاو لري. د مالي چارو د څارنې لوی آمریت د بانکي مؤسسو سره په نژدې همکارۍ کې له دې مؤسسو غوښتې دي چې د خلکو شتمنیو د کیفیت د پیاوړتیا لپاره خپل پلانونه طرحه او تطبیق کړي.

د بانکي نظام د صعب الحصول پورونو پراخه وېش ښکاره کوي چې د صعب الحصول پورونو عمده برخه سوداګریز پورونه او انفرادي اشخاصو ته استوګنیز او رهني پورونه جوړوي. د ارتباطي، استوګنیز او رهني پورونو د کریډټ کیفیت په دې موده کې خراب شو، خو په تولیداتو، سوداګرۍ، خدمتونو او د کرنې په سکتورونو کې د کریډټ کیفیت ښه شوی دی.




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت/ د افغانستان بانک

#### ۲.۳.۱.۱ معکوس ډله بندي شوي پورونه

معکوس ډله بندي شوي (تحت المعیار، مشکوکه)[۳] پورونه په تیره ربعه کې ۱۶۶ میلیونه افغانۍ زیاتوالی درلود او ۴.۹۶ میلیارده افغانۍ ته ورسید چې د ټولیزه ناخالصه پورونو ۱۱.۰۸ سلنه یې جوړوله. معکوس ډله بندي شوي پورونه د ۱۳۹۳ کال په غبرګولي میاشت کې ۷۵۵ میلیونه افغانۍ زیات شوي چې دا زیاتوالی د بانکي نظام په یو خصوصي بانک پورې اړه لري.

#### ۳.۳.۱.۱. تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه

تر نظر لاندې کټګورۍ کې ډله بندي شوي پورونه[۴] ۴.۴۰ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ټولیزه ناخالصو پورونو په سلو کې ۹.۸۳ جوړوي چې د مخکنۍ ربعې (د ۱۳۹۳ کال د کب ) په پرتله د پام وړ ټیټوالی ښکاره کوي

۳. **معکوس ډله بندي شوي پورونه: د ۱۳۹۲/۰۹/۱۶ نېټې ۰۳/۹۲ ګڼې مکتوب له مخې** هغه پور یا نورې شتمنۍ چې د اصلي مبلغ یا ګټانې د بیا ورکړې د سر رسید له موعد څخه یې ۶۱ الی ۹۰ ورځې (تحت المعیار) ۹۱ ــ۵۳۹ ورځې (مشکوکې) تېرې شوي وي.

۴. **تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه:** هغه پور یا نورې شتمنۍ چې د اصلي مبلغ یا ګټانې د بیا ورکړې د سررسید له موعد څخه یې ۶۰-۳۱ ورځې تیرې شوي وي.

چې دا ټیټوالی د بانکي نظام په یو خصوصي بانک پورې اړه لري. سربېره پر دې، تر نظر لاندې کټګورۍ کې د ډله بندي شویو پورونو ډېرې زیاتوالی د بانکي نظام له اووه بانکونو سره تړاو لري په داسې حال کې چې دوه بانکونه توانیدلي دي چې تر نظر لاندې کټګورۍ پورونو کچه ټیټه کړي. تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه دقیقي څېړنې او څارنې ته اړتیا لري ځکه هغه پورونه چې تر نظر لاندې کټګورۍ کې راغلي، زیات احتمال شته چې معکوس ډله بندي شوي (تحت المعیار، مشکوکه) پورونو ته واوړي او په راتلونکي کې په خساره کټګورۍ کې وشمېرل شي.

### ۴.۳.۱.۱. په خساره کټګورۍ کې پورونه[۵]

په خساره کټګورۍ کې ډله بندي شوي پورونه د ټولیزه ناخالصه پورونو ۶۶ میلیونه افغانۍ یا ۰.۱۴ سلنه جوړوي چې د مخکنۍ ربعې په پرتله ۸ میلیونه افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي. په خساره کټګورۍ کې د پورونو ۶۶ میلیونه افغانۍ په دریو بانکونو پورې اړه لري.

### ۲.۱. د بانکونو ترمنځ طلبات

د بانکونو تر منځ طلبات چې د شتمنیو د بېلابېلو کټګوریو په منځ کې دویم ځای لري، د تیرې ربعې (۱۳۹۳ کال د غبرګولي) راهیسې د ۱.۱۰ میلیارده افغانۍ زیاتوالي ترڅنګ د ټولیزه شتمنیو ۶۶.۹۷ میلیارده افغانۍ یا ۲۸.۰۴ سلنه جوړوي چې د بانکي نظام په یو شمېر بانکونو پورې اړه لري، دا ښکاره کوي چې بانکي نظام که څېرې معتبره پور اخیستونکي ترلاسه نه کړي د خپلو اماناتو یوه برخه په نورو مالي ادارو کې، د هېواد دننه او یا له هېواد څخه بهر د اماناتو په توګه بړدي چې وروسته د اړتیا په صورت کې دا شتمنۍ د نقدینه ګۍ یا د لږ خطر لرونکو پور اخیستونکو لخوا د پور د غوښتلیکونو د ترلاسه کولو سره، په لوړه کچه‌په عاید راوړنکو شتمنیو باندې بدلیدای شي.

۴.۶ ګراف: د بانکي ګروپونو ترمنځ د خپل منځي طلباتو ونډه




### ۳.۱ پانګه اچونه

د بانکي نظام د پانګې[۶] پورتوفولیو ۴.۸۵ سلنه (۶۴۸ میلیونه افغانۍ) زیاتوالی موندلی دی چې د تیرې ربعې په پرتله د ټولیزه شتمنیو ۱۴.۰۰ میلیارده افغانۍ یا ۵.۸۶ سلنه جوړوي چېستره برخه یې د بانکي نظام په شپږو بانکونو پورې اړه لري. له هېواد څخه بهر د بانکي نظام د پانګونې ستره برخه له دریو سوداګریزو بانکونو او د بهرنیو بانکونو له دوه نمایندګیو سره تړاو لري.

### ۴.۱. په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات

په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات د بانکي نظام بله ستره کټګوري ده چې د ټولیزه شتمنیو ۴۰.۱۹ سلنه جوړوي، چې د تیرې ربعې ( د ۱۳۹۳ مالی کال د غبرګولي) په پای کې د ټولیزې شتمنۍ په دواړه مطلق او همدا ډول سلنه ایز کې ۲.۷۰ میلیارده افغانۍ ټیټوالی ښکاره کوي. په خزانه کې د پیسو او د افغانستان بانک باندې د طلباتو د ټیټوالي عمده لامل د بانکي سکتور

---

۵. په خساره کټګورۍ کې پورونه: هغه پور یا نورې شتمنۍ چې د اصلي مبلغ یا ګټتانې د بیا ورکړې د سر رسید له موعد څخه یې ۵۴۰ یا زیاتې ورځې تیرې شوي وي.

۶. پانګې اچونې چې په پور پاڅو، په اړوندو شرکتونو، په یو فرعي شرکت او په یو بانک کې پانګه اچونې رانغاړي.

په اماناتو کې د پام وړ کموالی په ګوته شوی دی.

بانکي نظام په بشپړه توګه د اجباري زېرمې له مقررې سره په تطابق کې دی او په محتاط او ورو ډول راجلب شوې پیسې د شتمنیو نورو ډولونو کې ځای په ځای کوي.

**۲. پوراینې**

د بانکي نظام ټولیزه پوراینې ۲۰۸.۶۹ میلیارده افغانی ته رسیږي چې د تیرې ربعې ( د ۱۳۹۳ کال د غبرګولې) د ۲۱۲.۵۶ میلیارده افغانۍ په پرتله ۳.۸۷ میلیارده افغانی یا ۱.۸۲ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. د ټولیزه پوراینې نورې برخې د تیرې ربعې په پرتله زیاتې شوې دي.

امانات د بانکي نظام د پوراینې تر ټولو لویه برخه (۹۶.۰۹) سلنه جوړوي، چې دا په بانکي نظام د خلکو د ډاډ، د عامه اړیکو او د بازار موندنې د ښو پالیسیو ښکارندوی کوي.

" نورې پوراینې" دویم ځای او پور اخیستنې دریم ځای لري.

۵.۶ ګراف:دپوراینې ۳.۸۷ میلیارده افغانی یا ۱.۸۲ سلنه ټیټوالی




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

**۱.۲. امانات**

امانات چې د بانکي نظام مهمه تمویلي سرچینه جوړوي، د ۱۳۹۳ مالي کال د غبرګولي د ثبت شوې ۲.۸۲ سلنې زیاتوالي په وړاندې په دریمه ربعه کې ۴.۰۷ میلیارده افغانی یا ۱.۹۹ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. د دې کموالی لاملونه د ولسمشریزه ټولټاکنو اوږده پروسه، د ټول ټاکنو د پایلې د اعلان ځنډیدل او پر اقتصاد باندې واکمنه ناډاډمنتیا ګڼل کیږي.

په بانکي نظام کې کوم امانتونه چې په افغانی اینښودل شوي د ۲۰۱۴ کال د جون میاشتې د ۷.۵۷ سلنې زیاتوالي په وړاندې ۲.۹۷ سلنه زیاتوالی موندلی چې د ټولیزه اماناتو ۳۵.۸۴ سلنه جوړوي، په داسې حال کې چې په ډالرو اینښودل شوي امانتونه د ۲۰۱۴ کال په جون کې د ۰.۲۷ سلنې کموالي په وړاندې په دې ربعه کې ۵.۰۳ سلنه ټیټوالی موندلی دی چې بیا هم د بانکي نظام د ټولیزه اماناتو ۶۰.۴۴ سلنه جوړوي.

خصوصي بانکونو د بانکي نظام د ټولیزه اماناتو تر ټولو زیاته برخه ۱۲۴.۵۵ میلیارده افغانی راجذب کړې، خو د تیرې ربعې د ۳.۹۴ سلنې زیاتوالي په پرتله په دریمه ربعه کې د خصوصي بانکونو د اماناتو کچه ۰.۵۹ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي چې د بانکي نظام د ټولیزه اماناتو ۶۲.۱۰ سلنه جوړوي.

د بانکي نظام په ټولیزه اماناتو کې د دولتي بانکونو ونډه د تیرې ربعې( د ۱۳۹۳ مالي کال د غبرګولي) راهیسې ۵۴.۶۹ میلیارده افغانی کمه شوې چې د دې کموالي له امله د بانکي سیستم د ټولیزه اماناتو په سلو کې ۲۷.۲۷ امانات په دولتي بانکونو پورې اړه لري.

د بانکي نظام په ټولیزه اماناتو کې د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو ونډه ۲۱.۲۹ میلیارده افغانی ته رسیږي چې د ۱.۶۳ سلنه ټیټوالي په درلودلو سره د بانکي نظام د ټولیزه اماناتو په سلو کې ۱۰.۱۶ جوړوي.

د اماناتو د ډولونو له مخې، د بانکي نظام جاري امانات د ټولیزه اماناتو ۷۶.۲۱ سلنه جوړوي چې د ۱.۰۹ سلنه زیاتوالي په درلودلو سره لومړی مقام لري، د بانکي نظام د سپما امانات د ۶.۸۵ سلنې په زیاتوالي سره او د ټولیزه اماناتو د ۱۹.۵۲ سلنې ونډې په درلودلو سره په دویم مقام کې راځي، په داسې حال کې چې د بانکي نظام مودیزه (میعادي) امانات د اماناتو د پورټفولیو ۴.۲۶ سلنه جوړوي چې د ۱۳۹۳ مالي کال د غبرګولي میاشتې راپدیخوا ۲۴.۹۹ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

۶.۶ ګراف: د اماناتو اسعاري ترکیب




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

۷.۶ ګراف: په افغانۍ اینبودل شوي امانات




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

۸.۶ ګراف: د اماناتو ۱.۹۹ سلنه یا ۴.۰۷ میلیارده افغانۍ ټیټوالی




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

۹.۶ ګراف: د اماناتو ډله بندي




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

### ۲.۲ پور اخیستنې

د بانکي نظام د تمویل په ټولیزه جوړښت کې د پور اخیستنې ونډه د ۷.۶۹ سلنې زیاتوالي سره د ۱۳۹۳ مالي کال د وږي میاشتې په پای کې ۴.۰۵ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې په تیره ربعه کې د ۶.۹۸ سلنه ټیټوالي په پرتله د بانکي نظام د ټولیزه پوراینې ۱.۹۴ سلنه جوړوي. اوس مهال د بانکي نظام درې بانکونه پوروړي دي.

### ۳.۲ نقدينه ګي (سياليت)

د نقدينه ګی خطر کولای شو د پور اخيستونکو او امانات اېښودونکو د تقاضاوو د پوره کولو لپاره د کافي سياليو شتمنيو نه درلودل تعريف کړو. ټول بانکونه اړ دي څو د نقدينه ګی څخه د راولاړې شويو ستونزو د مخنيوی لپاره سياليت په مطلوب حد کې وساتي.

په همدې ترتيب، بانک بايد د شتمنيو يوه مسؤوله کمېټه (ALCO) ولري چې د دې کمېټې دندې د بانک د سياستونو په پام کې نيولو سره نيمګرتياوو د تحليل او تجزيې له لارې د بانک د نقدينه ګی، د حساسيت د ټيسټ، د سناريو د شننې، د نغدي جريان د شنني او داسې نورو له مديريت څخه عبارت دي.

#### ۱.۳.۲. د سياليت نسبت (پراخه کچه)

بانکونه مکلف دي چې د نغدي (سيالو) شتمنيو نسبت له ۱۵ سلنې ټيټ ونه ساتي. دا کار د سياليت د کميدو د مخنيوی لپاره بنه لاره ګڼل کيږي.

بانکي سکتور د نقدينه ګی کچه په ټوليزه توګه په دې دوره کې زياته ده چې د ټوليزه شتمنيو ۷۱.۹۸ سلنه نغدي شتمنۍ جوړوي. په منځني ډول د ټول بانکي نظام د نقدينه ګی کچه ۶۷.۸۵ سلنې ته رسيږي. د ټولو بانکونو د نقدينه ګی نسبت له ټاکلي حد څخه لوړ دی.

### ۴.۲ پانګه

د افغانستان بانک د بانکي نظام د پانګې د تقويې او ټينګښت په موخه، د مقرراتي پانګې کچه له ټاکل شوي ټيټ حد څخه ۱ ميليارد افغاني ته لوړه کړې ده او ټول بانکونه اړ دي چې د خپلې مقرراتي پانګې کچه ټاکلي حد ته ورسوي. د بهرنيو بانکونو د يوې نمايندګی د مقرراتي پانګې کچه له ټاکل شوي يو ميليارد افغانيو څخه ټيټه ده چې دې څانګې ته استثناً وخت ورکړل شوی څو خپله مقرراتي پانګه له يو ميليارد افغانيو سره عيار کړي.

له دې پرته بانکي نظام کافي پانګه لري، د بانکي نظام پانګه ۳۰.۱۱ ميليارده افغانۍ ته رسيږي چې د ۰.۴۳ سلنه يا ۱۳۰ ميليونه افغانۍ په ارزښت لږ څه کموالی يې مونډلی چې لامل يې د دې سکتور د ګټورتيا (نافعيت) کموالی دی.

په ټوليزه توګه، د بانکي نظام د مقرراتي پانګې نسبت ۲۶.۲۶ سلنه دی. (۶.۵ جدول). خو ناټوليزه شننه او تجزيه ښکاره کوي چې د ټولو بانکونو د مقرراتي پانګې نسبت د افغانستان بانک د ټاکل شوي تر ټولو ټيټ حد ( د خطر په اساس د عيار شوې شتمنۍ په سلو کې ۱۲) څخه لوړ دی. د بازل معيار د پانګې او د خطر په اساس د عيار شوې شتمنۍ لپاره په سلو کې ۸ دی.

### ۵.۲ . ګټورتيا (نافعيت)

بانکي نظام د ۱۳۹۳ کال په درېمه ربعه کې په ټوليزه توګه ۲۹۷ مليونه افغانۍ ګټه کړې ده، په داسې حال کې چې په تيره ربعه ( د ۱۳۹۳ مالي کال په غبرګولي) کې بانکي نظام ۴۵۸ ميليونه افغانۍ ګټه کړې وه.

د اسعارو د تبادلې د نرخ د تاوان له امله د غير تکتانې لګښتونو زياتوالی، د پانګونې تاوان او په غير تکتانې عوايدو کې کموالی د بانکي نظام په ګټه کې د کمښت بنسټيز لاملونه دي. په داسې حال کې چې د همدې ربعې په ترڅ کې له خالصې تکتانې څخه عوايد زيات شوي او د ماليې کچه يې کمه شوې ده، خو دا زياتوالی دومره نه دی چې وکړای شو په ياد شويو اقلامو کې يې زياتوالی وګڼو.

له شتمنيو څخه د ترلاسه شوې ګټې نسبت د ارزونې لاندې ربعې په ترڅ کې له ۰.۵۶ سلنې څخه ۰.۳۷ سلنې او د پانګه اچونکو له پانګې څخه ترلاسه شوې ګټې نسبت له ۴.۵۷ سلنې څخه ۲.۹۷ سلنې ته نزولي حالت درلودلی دی. (۵.۶ جدول)

**۳.۶ جدول: د بانکي نظام د مالي ټینګښت مهم شاخصونه**

| نسبت | 1387 (د ۲۰۰۹ مارچ) | 1388 (د ۲۰۱۰ مارچ) | 1390 (د ۲۰۱۱ مارچ) | 1390 (د ۲۰۱۱ مارچ*) | 1390 (د ۲۰۱۲ مارچ) | 1391 (د ۲۰۱۲ ډیسمبر) | 1392 (د ۲۰۱۳ ډیسمبر) | 1393 (د ۲۰۱۴ سپټمبر) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د پانګې د کفایت د نسبت مجموعه | 29.81 | 25.81 | -14.46 | 30.39 | 23.06 | 21.84 | 26.34 | 26.26 |
| په ۱ ردیف کې د پانګې د کفایت نسبت | 29.72 | 24.19 | -14.51 | 30.29 | 23.98 | 19.97 | 24.65 | 26.13 |
| په ټولیزه ناخالص پورونو کې د صعب الحصول پورونو ونډه | 1.15 | 0.5 | 48.4 | 3.75 | 5.15 | 5.31 | 5.10 | 5.99 |
| له شتمنیو څخه ترلاسه شوې ګټه(ROA) | 1.74 | 1.41 | -20.08 | 0.24 | -1.21 | -0.54 | 0.74 | 0.37 |
| د پانګه اچوونکو د پانګې ترلاسه شوې ګټه (ROE) | 10.61 | 10.35 | -520.66 | 1.9 | -17.9 | -7.17 | 10.03 | 2.97 |
| د سیالیت نسبت ( پراخه منځنۍ کچه ) | 40.02 | 59.19 | 63.32 | 63.83 | 57.37 | 72.13 | 67.93 | 67.85 |
| په ټولیزه شتمنیو کې د سیالیو شتمنۍ ونډه | 23.8 | 0.38 | 40.58 | 47.01 | 55.82 | 63.75 | 73.18 | 71.98 |

*له کابل بانک پرته

سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

په ټولیزه توګه شپږو بانکونو ۱۸۸ میلیونه افغانۍ زیان کړی دی چې د ۲۰۱۴ کال په جون کې ۲۸۲ میلیونه افغانۍ زیان د دوو بانکونو لخوا شوی ؤ.

د اصلي عاید ( core income) پر بنسټ یو بانک په زیان کې دی، حال دا چې په تیره ربعه کې دوه بانکونو په زیان کې ؤ.

په ټولیزه توګه خصوصي بانکونه، د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ او دولتي بانکونه په ګټه کې دي.

**۴.۶ جدول: د بانکي نظام ګټه/ زیان**

| برخې | ۱۳۹۲ (د ۲۰۱۳ سپتمبر) | ۱۳۹۳ ( د ۲۰۱۴ جون) | ۱۳۹۳ ( د ۲۰۱۴ سپتمبر) | د هرې ربعې د سلنې بدلونونه |
|---|---|---|---|---|
| د تکتاني عاید | 2,441 | 2,322 | 2,462 | 6.02% |
| د تکتاني لګښت | 423 | 419 | 472 | 12.64% |
| د تکتاني خالص عاید | 2,017 | 1,903 | 1,990 | 4.57% |
| غیر تکتاني عاید | 1,204 | 1,384 | 1,232 | -10.98% |
| غیر تکتاني لګښتونه | 1,783 | 1,562 | 1,741 | 11.45% |
| د معاشونو مصارف | 851 | 896 | 884 | -1.33% |
| کریډیټ (اعتبار) چمتو کول | 305 | 276 | 240 | -13.04% |
| له مالیې څخه مخکې ګټه/زیان | 282 | 553 | 357 | -35.44% |
| له مالیې څخه وروسته ګټه/زیان | 219 | 458 | 297 | -35.15% |



۱۰.۶ ګراف: د بانکي نظام ګټورتیا

سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک



۱۱.۶ ګراف: له شتمنۍ ترلاسه شوې ګټه او له پانګې ترلاسه شوې ګټه



۱۲.۶ ګراف: نهایي خالصه تکتانه

### ۶.۲ د اسعارو خطر

د اسعارو پرانیستی عمومي وضعیت د خطر کچه تر ډېره حده پورې په هغه محدوده کې د بانکونو لخوا په پام کې نیول شوی چې د افغانستان بانک لخوا ټاکل شوې ده. بانکونه په ټولیزه توګه د افغانستان بانک لخوا د اسعارو د عمومي پرانیستي وضعیت لپاره د حد اقل ټاکل شوي حدودو په مطابقت کې قرار لري، پرته له پنځو بانکونو څخه چې دوه بهرنۍ نمایندګۍ په کې هم شاملې دي، د اسعارو د پرانیستي عمومي وضعیت او همدا ډول د اسعارو د انفرادي وضعیت (امریکایي ډالرو او یورو) له ټاکل شویو حدودو څخه سرغړونه کړې ده. دغه بانکونه باید د خپل بهرنیو اسعارو پرانیستي وضعیت د افغانستان بانک له ټاکل شوي حد سره برابر کړي؛ که نه نو د پورته ذکر شویو اسعارو په ارزښت کې د ټیټوالي او یا هم د بې ارزښته کېدو له امله به دا بانکونه نور هم زیانمن شي.

د بانکي نظام په مقرراتي پانګې باندې د اسعارو په نرخ کې د بدلونونو اغیزه ښکاره کوي چې د اسعارو د ۲۰ سلنې مبادلوي ارزښت د لوړیدو سره د بانکي نظام مقرراتي پانګه ۸.۸۰ میلیارده افغانۍ ډېرېږي او د دې برعکس راکمیدلی شي. په ورته وخت کې ۴ سلنه بدلون ۱.۷۶ میلیارد افغانیو په کچه بدلون راولي او کمېدل یې د دې عکس بدلون راوستلی شي.

### ۷.۲ د ټکټانې د نرخ خطر

ټول بانکي نظام د ټکټانې د نرخ د حساس وضعیت څخه برخمن دی. خو بیا هم د بانکونو د ټکټانې نرخ د حساسیت د مهال وېش محاسبه ښکاره کوي چې د بانکي نظام د ټکټانې خالص عاید به په راتلونکو ۱۲ میاشتو کې په بازار کې د ټکټانې د درې سلنې نرخ د زیاتوالي(د ټکټانې د زیاتیدونکي نرخ شاک) له امله ۱.۶۳ میلیارده افغانۍ ته زیات شي. برعکس، که چېرې د ټکټانې نرخ ۳ سلنه ټیټوالی (د ټکټانې د ټیټېدونکي نرخ شاک) ومومي له ټکټانې څخه ترلاسه شوی عاید به ۱.۶۳ میلیارده ټیټ شي. که چیرې د یو بانک د ټکټانې نرخ په سلو کې ۳ زیات شي دا کار به د ۱۲ راتلونکو میاشتو په ترڅ کې د دی بانک د خالصې ټکټانې عاید راکم کړي. (د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ اړتیا نه لري چې د ټکټانې نرخ د حساسیت مهال وېش بدل کړي، ځکه چې د بانکونو د ټکټانې د نرخ حساسیت هغه اضافه ریسک دی چې په تیوریکی ډول د بهرنیو اسعارو د ریسک په شان د ټول بانک په کچه اداره کیږي).

د بانکونو د شتمنیو د حساسیت په میزان باندې د فشار راوړلو عمده لامل د پوراینې د ټکټانې د اداینې په نسبت د شتمنیو د ټکټانې د اداینې زیاتوالی دی. که څه هم دا کار د بانکونو د خالصه ټکټانې کچه او ګټه زیاتوي، او په بازار کې د نرخونو د ناڅاپي کموالي له امله بانکونه ډېر زیانمنوي.

**مدیره پلاوی**

| | |
|---|---|
| د پولي سیاست د لوی آمریت آمر: | سید اسحاق علوي |
| د پولي سیاست د لوی آمریت مرستیال: | رحمت الله حیدري |
| د پولي سیاست د لوی آمریت مرستیال: | سمیع الله بهارستاني |
| د پولي سیاست د لوی آمریت مرستیال: | میر احمد شکیب |
| د پولي سیاست د لوی آمریت مرستیال: | نایب خان جمال |

**د کارکوونکو ونډه**

| | |
|---|---|
| اقتصادي څېړونکی: | سید مرتضی مظفري |
| اقتصادي څېړونکی: | عبدالله مسعود |
| اقتصادي څېړونکی: | احمد خالد |
| د حقیقي سکتور شنونکی: | عبدالله صافی |
| د بهرني سکتور شنونکی: | ولي الله روحي |
| د مالي سکتور شنونکې: | زرلشت معصوم |
| د مالي چارو د څارنې د لوی آمریت | |
| د داخلي برخې مدیره: | انیسه اثیر |
| ژباړه: | مسعود ودان او عین الله عیان |
| ایډیټ: | ایمل هاشور، د اسنادو او اړیکو عمومي آمر |
| تخنیکي همکار: | یما عفیف |
| ډیزاین: | خالد احمد فیضي |
| عکس: | زیرک ملیا |

د زیاتو معلوماتو لپاره:

| | |
|---|---|
| ټلیفون: | ۰۲۰-۲۱۰-۴۷۶۱ |
| فکس: | +۹۳ (۰) ۲۰۲۱۰۰۳۰۵ |
| برېښنا لیک: | info@dab.gov.af |
| ویب پاڼه: | www.dab.gov.af |
| فیس بوک: | https://www.facebook.com/AFGCentralbank |
| ټویټر: | https://twitter.com/AFGCentralbank |



درى مياشتنى بولټن، د ۱۳۹۳ مالي کال درېمه ربعه